# د محمد الیاس د شاعرۍ موضوعاتي څېړنه


مقاله نګار

معاذ محمد

نګران

پروفېسر ډاکټر بادشاه روم


Ketabton.com


سېشن ـ ۲۰۲۴

ملاکنډ پوهنتون خیبر پښتونخوا

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست


وړومبے باب" ........ 6

د محمد الیاس الیاس پېژندګلو ........ 6

ځاے زیږون : ........ 7

قام قبیله : ........ 7

خانداني پس منظر: ........ 8

تعلیمي سفر : ........ 8

واده اولاد : ........ 9

ملازمت: ........ 9

مشغله: ........ 10

روحاني تړون : ........ 10

صحافتي خدمات: ........ 11

ادبي دنیا ته راتګ : ........ 11

د ادبي ټولنو سره تعلق : ........ 11

چاپ اثار : ........ 12

ناچاپ اثار : ........ 12

د رڼا رنګونه : ........ 15

فکر مې سندره شوه : ........ 17

دېوالونو ته لګیا یم : ........ 18

ketabton.com - The Digital Library

ناچاپ اثار : ........................................................................................ 19
اعزازات : ........................................................................................ 19
بین الاقوامي سفرونه : ........................................................................................ 19
حوالې........................................................................................ 20
دویم باب........................................................................................ 21
پښتو او پښتونولي........................................................................................ 21
پت او عزت:........................................................................................ 23
ننبېگړه:........................................................................................ 24
لوظ:........................................................................................ 24
توره ،ننگ او عزت: ........................................................................................ 25
پرده او شرم و حیاء:........................................................................................ 26
انصاف:........................................................................................ 26
رینبتیا :........................................................................................ 27
خود داري:........................................................................................ 28
وفا : ........................................................................................ 29
د وطن سره مینه:........................................................................................ 29
دود دستور: ........................................................................................ 30
جرگه:........................................................................................ 30
روغه جوړه:........................................................................................ 31
غزا : ........................................................................................ 32
مېلمستیا:........................................................................................ 33

ketabton.com - The Digital Library

بدل: ........ 34

ننګ وړل،او ملا تړل: ........ 35

پناه: ........ 35

بدرګه: ........ 35

ګیله: ........ 36

لارې چارې : ........ 36

حجره: ........ 36

جامه: ........ 37

د مشر احترام او مننه: ........ 38

د خزو درناوے: ........ 39

اشر: ........ 39

رنځور پښتنه: ........ **Error! Bookmark not defined.**

د الرې تګ: ........ 41

چغه: ........ 41

لوبې: ........ 41

اختر: ........ 42

موسیقي: ........ 42

پېغور: ........ 43

حوالې ........ 45

دریم باب : ........ 48

امن او بد امني ........ 48

ketabton.com - The Digital Library

امن او د امن ارزښت : ..................................................................................................................... 49

بد امني او د بد امنۍ وجوهات : ..................................................................................................... 51

د بد امنۍ وجوهات : ....................................................................................................................... 52

سیاست ،حکومت او قانون : .......................................................................................................... 52

عدلیه یا عدالت : ............................................................................................................................ 52

رشوت او سیاسي چارواکي : .......................................................................................................... 54

مرګونه او چاودنې : ........................................................................................................................ 56

نسلي یا قومي تعصب : ................................................................................................................... 57

اظهار رائے : .................................................................................................................................... 60

معاشي وجوهات : ........................................................................................................................... 61

.1روزګار :

................................................................................................................................................ 61

.2 حق تلفي :

................................................................................................................................................ 63

.3ګراني :

................................................................................................................................................ 64

.4فرق او زیاتے :

................................................................................................................................................ 65

.1شعور او بېداري :

................................................................................................................................................ 66

.2تیاکنه :

................................................................................................................................................ 69

.3تګي :

................................................................................................................................................ 71

ketabton.com - The Digital Library


.4کينه او بغض :
72 ...
حوالې ... 74
ثلورم باب : ... 76
متفرق موضوعات ... 76
د خدائے او رسول مینه : ... 77
مناجات : ... 80
اصلاح : ... 83
طب : ... 88
نفسيات : ... 90
شعر و شاعري : ... 94
عشق او رومانيت : ... 95
فطرت نگاري /منظرنگاري : ... 98
شخصيت نگاري : ... 101
طنز و مزاح : ... 108
جماليات : ... 110
قوميت : ... 112
سياست : ... 115
انقلاب : ... 117
حوالې ... **Error! Bookmark not defined.**

ketabton.com - The Digital Library

ورومبے باب"

د محمد الیاس الیاس پېژندګلو

ketabton.com - The Digital Library

## ځای زیږون :

د پښتنو سیمه په هر لحاظ ډېره زرخېزه او شتمنه خاوره ده ـ هره سیمه یې په هره حواله ډېر ارزښت او اهمیت لري ـ خو ځیني سیمې یې په ادبي لحاظ سره ډېري زرخېزي دي ـ په هغې کښې یوه سیمه د ملاکنډ هم ده ـ چې د پخوا نه یې ډېر لوئے لوئے شاعران ،ادیبان او نقادان په خپله غېږه کښې زېږولې دي ـ او د پښتو ادب لمن ته یې ډېر څه بخښلې دي ـ په دغه شخصیاتو کښې یو ستر شخصیت محمد الیاس الیاس هم دے ـ چې تر ډېري مودې نه د قلم په ذریعه د خپل قام او وطن خدمت کوي ـ محمد الیاس د ملاکنډ ضلعې په طوطه کان نومې کلي کښې د فریدالله خان کره په ۱۹۸۰ کښې سترګې پرانستې دي ـ

"محمد الیاس الیاس د ضلع ملاکنډ د طوطه کان نومې کلي محله اسماعیل خېل کښې په کال ۲ مارچ ۱۹۸۰ کښې د فریدالله خان په کور کښې زېږیدلے دے ـ مستقله استوګنه یې په محله اسماعیل خېل طوطه کان کښې ده او دا وخت د سعودي عرب په دمام ښار کښې سره د خپلو بچو ژوند تېروي"[1]

د خپل کلي طوطه کان ذکر په خپل یو شعر کښې هم کوي ـ

ستا نه ښکلے نه ګڼمه دا د ښکلاګانو ښار
ډېر راته یادېږي طوطه کانه ته به چرته یې [2]

## قام قبیله :

"په قام افغان او په قبیله د یوسفزو د سلطان خېلو د زېلي ښاخ اسماعیل خېلو او په اسماعیل خیلو کښې د سلیمان خېلو سره تعلق لري"[3]

ketabton.com - The Digital Library

## خانداني پس منظر:

"محمد الیاس الیاس د طوطه کان د یوې درنې کورنۍ سره تعلق لري ــــ د پلار نوم يې حاجي فرید الله خان دے ـــ چا چې خپل ټول عمر د استاذانو د خیر ښېګړې او د هغوئ د مسلو د حل کولو دپاره په منډو تړړو کښې تېر کړے وو ــ په خیبر پښتونخوا کښې يې په وړومبي ځل د ملاکنډ په خاوره د "ملګري استاذان ملاکنډ "په نوم د یو تنظیم بنیاد ایښودې وو ـــ او هم د دغۀ تنظیم وړومبے ضلعي صدر هم وو ــــ د هیډ ماسټر په حېث د فراغت پورې د "سینیئر سټاپ ایسوسي ایشن ملاکنډ "صدر وو .

د خپل ملازمت په دوران کښــې يې د خپل اثر رســوخ له کبله بلها حقدارو خلقو له د سرکاري نوکریانو په حاصلولو کښې مدد کړے وو ــ د فراغت نه پس هم په سماجي هلو ځلو کښې برخه اخلي .

دا کورنۍ مدام د حق دپاره مرستیال وي ــــ د محمد الیاس الیاس د نیکه نوم حاجي محمد اسماعیل خان وو ــــ د علاقې یو نوموړے او فېصله ساز مشر تېر شوے دے ـــ خدائے بخښلي حاجي محمد اسماعیل خان په خپل قام او خاوره د یو ننګیالي پښتون سره سره یو زړه سواندے او سـخي انسان هم وو . د الله په لار کښې به يې د ورکړې نه ډډه نه کوله"[4]

## تعلیمي سفر :

"محمد الیاس الیاس تر نهم ټولګي پورې تعلیم په طوطه کان کښــې او لســم يې د ګورنمنټ هائي سکول ډهیري جولګرام نه په کال نولس سوه

ketabton.com - The Digital Library

پینځه نوي کښــې کړے وو ـــ په خپل سـکول کښــې یې د ټولو نه زیاتې نمبرې اخستې وې ـــ او نامه یې اوس هم په نوټس بورډ لیک ده ـــ دولسم یې د پېښور نه وکړو ـ څوارلسم یې د پاکستان میرین اکېډمي کراچۍ نه په دوه زره یو کښې کړے وو ـــ په کال دوه زره یو کښې یې په جهاز رانۍ کښې د "کېډټ" په حېث خپلې ذمه وارۍ شروع کړې ـ

د ملازمت په دوران کښې یې د انټرنېشنل مېرېټايم ارګنائزېشن نه منظور شوې کورسونه په دوه زره یوولس کښې حاصل کړه ـــ او هم په دغه کال یې د بېن الاقوامي سمندري جهازونو د کپتان سند ترلاسه کړو ـ د دې نه علاوه یې هم وخت په وخت بلها کورسونه کړې دي "[5]

## واده اولاد :

"د محمد الیاس الیاس واده د اپریل په څلورویشتمه نېټه کال دوه زره نهم کښې د ستر قانون دان سعید الله خان ایډوکېټ د لور سره شوې وو ـــ د محمد الیاس الیاس یو ځوے او څلور لوڼه دي ـ نومونه یې دا دي ـ

1. محمد ابرار
2. امامه الیاس
3. مریم الیاس
4. لائبه الیاس
5. سعدیه الیاس"[6]

## ملازمت:

"د پاکســـتان میرین اکېډمي نه د فارغ کېدو نه پس محمد الیاس الیاس د خپل عملي ژوند اغاز هم په دوه زره یو کښــې په کنټېنر جهاز د ډېک

ketabton.com - The Digital Library

کېډټ په هېڅ کړے وو ـــ د وړمبي جهاز نه پس محمد الياس الياس د نومبر په څوالســمه نېټه يو ځل بيا د کېډټ په توګه د پاکســتان نېشــنل کارپوريشــن ســره د نوکرۍ معاهده وکړه ـــ تر د دوه زره اتم پورې يې په پاکستان نېشنل کارپوريشن کښې د کېډټ نه واخله تر د تهرډ افيسر او بيا د سيکنډ نيويګيشنل افيسر په توګه خپله وظيفه تر سره کوله ـــ د دوه زره دولسم پورې په مختلفو کمپنيانو کښې پاتې شوے دے ـــ د کپتان د سند اخستو نه پس يې په پيپسيک انټرنېشنل لائن سنګاپور کښې کار شروع کړو .

په دوه زره پنځلسم کښې يې دا معاهده ختمه کړه ـــ او هم په دغه کال يې د مېرين کنسلټېنټ په هېڅ کار شروع کړو ـــ نن سبا په مېرين سروسز کمپني سعودي عرب کښې د دمام برانچ د منيجر په هيڅ خپله ذمه واري ترسره کوي"[7]

## مشغله:

"کتاب لوستل او د بوټو صفائي کول يې لوئې مشغلې دي . په لوبو کښې يې فټ بال ،کرکټ ،او ټېبل ټېنس د خوښې لوبې دي"[8]

## روحاني تړون :

"محمد الياس الياس ښه پوخ مسلمان دے . نېغ په نېغه د چا سره روحاني تړون نه لري ـــ خو د خپلې اصلاح دپاره يې د مختلفو ديني کتابونو سره سره د تصوف کتابونه خپل استاذان ګڼلې دي . قران مجيد يې د خپل مشر تره حاجي صــابر خان نه په ناظره وئيلې وو ـــ د ناظرې نه پس يې درې

ketabton.com - The Digital Library

سیپارې ترجمه هم د جمات د امام نه کړې وه ـــ باقي ځانله يې پخپله پوره قران مجيد د ترجمې سره وئيلې دے "[9]

## صحافتي خدمات:

"محمد الياس الياس ځان صحافي نه ګڼي ـــ او نه ورته مونږه په باقاعده توګه صحافي وئيلې شو ـــ خو بيا هم ښاغلي د صحافت په مېدان کښې خپل کردار لوبولے دے ـــ محمد الياس د قائد اخبار دپاره وخت په وخت ليکل کړې دي ـــ او اوس هم کوي ـــ په دې وجه چې د پښــتو لمن ته څه ووبخښي ـــ دا يې د خپلې ژبې سره د مينې ثبوت دے ـــ محمد الياس په ټولنيز يا سـماجي توګه وخت په وخت د علاقې د سـتونزو په حقله په قائد اخبار کښې د خپلې رائې اظهار کوي "[10]

## ادبي دنيا ته راتګ :

"هســـې خو د محمد الياس د وړوکوالي نه د ادب ســـره په لاشـــعوري توګه مينه وه ـــ او د سـکول د وخت نه به يې د شعر ليکلو هڅې کولې ـــ خو په باقاعده ډول يې شاعري د نولس سوه څلور نوي نه شروع کړې وه"[11]

## د ادبي ټولنو سره تعلق :

"محمد الياس الياس بنيادي طور ادبي تولنو ته دومره نزدې نه دے پاتې شوے ـــ او هغه ځکه چې روزګار يې د سمندرونو او د هغې سره لګېدلې ملکونو ته سـفر وو ـــ خپله اولنۍ ناسـته يې د کلي د تنظيم "اواز ملاکنډ ادبي ملګري"په غونډو کښې کړې وه۔

ketabton.com - The Digital Library

وروستو چې یې په دمام کښې استوګنه شروع کړه ــ نو د "دمام پښتو ادبي بهیر "غړے وو ۔او تر دې دمه یې د دمام پښتو ادبي بهیر سره تړون دے ۔د دې نه علاوه محمد الیاس الیاس د "ادب پال ملګري خېبر پښـــتونخوا "پاکستان غړے هم دے ۔او د "پښتو ادبي کاروان پښتونخوا"سره هم تړون لري۔

محمد الیاس په اردو ژبه کښې هم لږ شان شاعري کړې ده ـــ هم دغۀ وجه ده چې په سـعودي عرب کښــې د پاکســتان او هندوســتان د شــاعرانو په ادبي ټولني "بزم یاران سخن" د ماو جبیل سعودي عرب په مشاعرو کښې هم کله کله ګډون کوي۔او د پښتو نمائیندګي کوي"[12]

## چاپ اثار :

1. شور مې د قلم په ژبه راوله (۲۰۰۸)
2. د رڼا رنګونه (۲۰۲۲)
3. فکر مې سندره شوه۔۲۰۲۳
4. دیوالونو ته لګیا یم ۲۰۲۴

## ناچاپ اثار :

1. پردے حق (افسانې )
2. څه یوه قیصه خو نه ده (د قبائیلو ګانو ټولګه)
3. زه ورله کردار ته ائینه نیسم (شعري ټولګه)

وړاندې د محمد الیاس په چاپ اثارو مختصر شان خبره کوو ـــ بیا به یې د ناچاپ اثارو ذکر وکړو۔

ketabton.com - The Digital Library

شور مې د قلم په ژبه راوله : د محمد الیاس دا کتاب په ده زره اتم کښې په شمېر د پینځه سوو د المظهر پریس بټ خیلې نه چاپ شوے دے ـــ د دې کتاب ترون محمد الیاس د خپل ماما نثار محمد نثار د ځوي عادل محمد په نامه کړے دے ـــ چې د پښتو ادب سره یې بې کچه مینه وه ـ دا د محمد الیاس ورمبۍ شعري مجموعه ده ـ په دې کښې غزلې ،قطعې ،او نظمونه شامل دي ـ نثار محمد نثار د دې کتاب په حواله لیکي ـ

"د ګل ورینو ګلدرو د ښائستونو وطن ملاکنډ چې د قدرت د رنګینو نظارو د هسکو دنګو غرونو مرغزارونو ښکلا د نختر او دیارو شنا د شنو شنو ورشوګانو د شتو نه او په تېره تېره د سوات د سیند د غاړې حسینې نظارې د یو حساس زړګي خیالونه داسې راپاروي ـ چې سړے خامخا په نازکو وئیلو او لیکلو مجبور کړي ـــ او بیا یو داسې تعلیم یافته ځلمے چې تر دا وخته یې د دنیا د ډېرو ملکونو سفر هم کړے دے ـــ او لا نور هم په تګ دے ـــ سړے به ارو مرو په دې لیکلو مجبورېږي ـ

چې بلې کړم د فکر او شعور لمبې
شور مې د قلم په ژبه راوله

د دې شعر خالق محمد الیاس چې دا وروستۍ مصرعه یې د کتاب نوم دے ـــ د مارچ د میاشتې په دوېمه نېټه نولس سوه اتیا کښې د طوطه کان کلي د استوګن حاجي فرید الله خان هیډ ماسټر ـــ چې د سېنئیر سټاف صدر هم دے ـــ د یوسفزو د سلطان خېل د زېلي ښاخ اسماعیل خېل سره تعلق لري ـــ په کور کښې سترګې وغړولې ـــ نیکه یې د خپل وخت یو نوموړے مشر تېر شوے دے ـ چې د حاجي اسماعیل خان په نوم یادېږي ـ

ketabton.com - The Digital Library

ښاغلي محمد الیاس الیاس په خپل کلي کښې د ابتدائي تعلیم د حاصلولو نه پس دولسم د پېښور نه په ښه نمبرو کښې پاس کړو ـ د کال دوه زره پورې یې د پاکستان مېرین اکېډمۍ نه د جهاز رانۍ تعلیم حاصل کړو ـــ د دوه زره دوه نه تر اوسه په پاکستان نېشنل شپنګ کارپوریشن کښې د نېویګېشن کارپوریشن کښې د نېویګېشن افسر په هېڅ خپلې ذمه وارۍ ترسره کوي ـ د دنیا په ګوټ ګوټ ګرځېدلے دے ـ د څه نه چې هم متاثره شوے دے ـ نو هغه یې قلم ته سپارلې دي ـ لکه د جبر التېر په لیدو وائي ـ

دیـــدن یـــې راتـــه تـــیـــرې د اســــلام خـــبـــرې اوښــــودې
ښـــکـــلا یـــې راتـــه واړه پـــه مـــاښـــام خـــبـــرې اوښــــودې
دې کښـــــې د طـــارق د تـــورې شــــړنـــګ دے لا تـــر اوســـه
دې ځـــاے راتـــه د خـــپـــل اصــــلـــي مـــقـــام خـــبـــرې اوښــــودې

نوي خیالات نوي حالات د سپرلي د ښائیستونو رنګینۍ ،نوي قافیې ،نوي ردیف ،نوي تشبیهات ،استعارې ،اشارې او کنایې او د قدرت د حسینو نظارو حسېن رنګونه د الیاس په غزلو ،نظمونو ،او سندرو کښې سم په ګډاګانو دي ـ لکه چې وائي ـ

پـــربـــړدوئ چـــې ګـــل شــــي ســــپـــرلے ځـــمـــه شــــیـــنـــدمـــه
د زړه پـــه پـــرهـــرونـــو مـــې لـــمـــبـــې ځـــمـــه شــــیـــنـــدمـــه

یا دا شعر ـ ـ

ketabton.com - The Digital Library

د اســـرافـــیـــل شـــپـــېـلـــۍ بـــه وېښ مـــې نـــه کـــړي
د بـــنـــګـــړو شـــړنـــګ بـــه دې مـــحشـــــر جـــوړ وي

د خیالي ماڼو جوړولو نه ډډه کوي ـ او د حقیقت لټون کوي ـ

ژونـد کښـــې حـقـیـقـت غـواړه د خـیـال قـیصـــو تـه مـه ګـوره
رنـګ لـټـوه نـور او د جـمـال قـیصـــو تـه مـه ګـوره

هم دغسې د وطن ،قوم ،مذهب ،او عشق موضوعات په دې کتاب کښې شته ـ
هر څو که د الیاس شاعري لا په ابتدائي مرحلو کښې ده ــ ولې بیا هم پکښې فني خامۍ ډېرې کمې په نظر راځي ـــ پښتو ادب د دې ځلمي شاعر نه د نور ډېر څه اخیستو طمع لري ـــ ځکه هیله لرم چې خپل کوشش به جاري وساتي چې د پښتو لمن ته نورې ډېرې ګلدستې ډالۍ کړي ـــ په دې مجموعه کښې ډېر د ښائیسته خیالونو ازاد نظمونه هم شته ـــ د مثال په توګه مسکا ،بت ،په ډنډو کښې کوڼ باچاوي ،او داسې نور ډېر ـــ دغه شان په بندو نظمونو کښې بنګړي واله انتظار غریبه طبقه ،کاش،سوچ ،سپرلے او داسې نور ډېر خوندور نظمونه دي ـــ چې په لوستو یې تنده ماتېږي ـــ زه د پښتو لمن ته د وسعت ورکولو د خاطره د الیاس د دې زیار ستائینه کوم ـ

**د رڼا رنګونه** : د محمد الیاس دا کتاب د دسمبر په میاشت کال دوه زره دوه ویشت کښې د اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور نه چاپ شوے دے ـــ الیاس د دې کتاب تړون د خپل مور پلار په نوم کړے دے ـ په دې کتاب کښې غزلې ،نظمونه ،قطعې ،سندرې او هائیکو هم شته

ketabton.com - The Digital Library

ـ په فکري توګه په دې کتاب کښې ډېر موضوعات دي ـ خو يو څو پکښې داسې دي ـ لکه چې په غزل کښې بېت الغزل وي ــ په دې کښې پښتونولي ،امن ،خپله خاوره او سياست د ذکر وړ دي ـ

په دې کښې اصلاح ،قامي بېداري اود انقلاب رنګ هم شته ــ د دې موضوعاتو په حقله نعيم راهي وائي ـ

"ژبه ادب ،کلتور،او ثقافت د هر قوم د قومي اډانې بنيادي ستنې هم وي او پېژندګلو هم ـ کوم خلق چې د خپل قومي تشخص د برقرار ساتلو دپاره دې بنيادي ضرورتونو له توجو او اهميت نه ورکوي ـــ هغه قوم د خپله لا سه د تباهۍ ،بربادۍ ،ذلت او رسوايۍ ژوري کندې ته وغورځېږي ــ بيا د دغۀ تور او پېغور نه د ځان خلاصولو په غرض خپله ګناه د تقدير په مخ ورتپي ـ او د ورتپولو کوشش کوي ــ د نورو قومونو ژبې په قط د خبرو اترو ذريعه او د قومي پېژندګلو پورې محدود وي ـــ خو پښتو نه يوائې د خبرو اترو ذريعه ده بلکه د پښتون قوم پېژندګلو هم ده ـــ د ننګ ناموس ،پت غېرت ،کلتور سره سره د پښتو ځلنده تاريخ او دستور هم دے ــ ځکه خو پښتون قوم په تاريخ کښــې هغه ځانګړے مقام لري ـــ کوم چې د نورو قومونو په صفت شوے نه دے "[13]

هم داسې وړاندې د دې کتاب په فن او فکر په حواله خپل نظر شريکوي ـ

"د دې شعري ټولګې د سرسري لوستنه راته معلومه شوه ـــ چې الياس د شعر هغه دوه بنيادي او اهم ضـرورتونو ته په خصوصـي توګه پاملرنه کړې ده ـــ کوم چې د ښه شعر دپاره د روح په څېر اهميت لري ـــ يو د شعر فکر

ketabton.com - The Digital Library

دوېم د شعر فن ،د وزن ،بحر قافیې ،ردیف او د دواړو مصرعو تړون نه بې شکه چې شعر جوړېږي ــ خو که د مناسب مفکورې او موثر پېغام نه خالي وي ـــ نو ښه او معیاري شعرونه ورته نه وئیلې کېږي ـــ د رڼا رنګونه یوه داسې شعري ټولګه ده چې د شعر د هر تورې نه یې بلها بلها د فن رنګونه څاڅي .او د مثالي شاعرۍ په تله یې تللې شو"[14]

دا کتاب د رڼا رنګونه د جسامت په لحاظ هم لوئے دے .ګڼ اړخیز دے .ګڼ اصناف سخن هم لري ــ او ډېر حقیقت او خوندور رنګ هم لري ــ د دې کبله په ټوله څېړنه کښې د دې نه زیاتې حوالې راخستې شوې دي .او د دې نه مې زیاته ګټه پورته کړې ده .

**فکر مې سندره شوه** : دا هم شعري ټولګه ده ـــ په کال دوه زره دریشت کښې د اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور له خوا چاپ شوے دے ـــ د دې کتاب تړون د پښتو ژبې د نامور شاعر چې د هیڅ تعارف محتاجه نه دے ـــ د ښاغلي رحمت شا سایل په نوم شوے دے ـــ دا کتاب د اصناف سخن په لحاظ د "د رڼا رنګونه" غوندې غزلې ،قطعې ،هائیکو ،سندرې په مختلف موضوعاتو یو شمېر نظمونه او د حمد و ثنا سره سره مناجات شامل دي .

په دې کتاب کښې انقلابي رنګ په هر څه غالب دے .د حق غوښتنو ،د پښتنو د بېدارۍ او د پښتنو د اصلاح پکښې په پوره ډول کوشش شوے دے .په فني توګه هم ډېرې کمې خطاګانې لري ــ چونکه په دې کښې د کم عمرۍ د وخت شاعري هم شامله شوې ده ــ نو د دې له کبله په بحر ،وزن کښې لږ ډېر کمے بیشے شته ـــ د دغې وړوکوالي د وخت د شاعرۍ په حواله محمد الیاس په خپله وائي .

ketabton.com - The Digital Library

"په خپل دې کتاب کښــې هغه پخوانۍ د هلکوالي غزلې ،او نظمونه هم چاپ کړې دي ـــ کوم چې ما په اولني دوو کتابونو کښې په دې وجه نه وې چاپ کړې چې ګڼې د اولس دپاره پکښې داسې څه خاص پېغام نشته ـ خو دا ځل چې مې پوره پنځلس ،شل کاله پس بيا ولوستل نو په دې دريم کتاب کښې مې د شاملولو فېصله وکړه "[15]

**دېوالونو ته لګيا يم** : دا د ښــاغلي محمد الياس څلورم کتاب دے ـــ دا هم په دې کال يعنې دوه زره څلورويشت کښې د ګران خپرندويه ټولنې له خوا چاپ شوے دے ـ د دې کتاب ترون د ملاکنډ پوهنتون د پښــتو څانګې رئيس ، شــاعر،اديب ،محقق،نقاد ،مترجم او د ډېرو کتابونو خالق ښاغلي پروفېسر ډاکټر علي خېل درياب په نوم شوے دے .د دې کتاب فني او فکري ځانګړنې دا دي ـ

هائيکو په عامه توګه خلق يوه لطيفه خيال کوي ـــ خو ولي محمد الياس پکښــې د مزاحيه مضامينو نه علاوه يو شمېر موضوعات راوړې دي ـ

نظم نما هائيکو ګانې هم په دې کتاب کښې شته ـــ چې په باقاعده توګه قافيه ،رديف او بحر وزن لري ـ

په دې کښې د مزاحمت رنګ هم غالب دے ـ

د سياست نه علاوه د پښتنو په خوئې بوئې تنقيد هم کوي ـاو لارښودنه يې هم کوي ـ

محمد الياس يو غېر جانبدار شخصيت دے ـ چې په ځان کښې يې هم څه ليدلې نو په ځان يې نه ده راتړلې ـ

دا کتاب "دېوالونو ته لګيا يم" صرف او صرف د هائيکوګانو کتاب دے ـ

ketabton.com - The Digital Library

## ناچاپ اثار :

1. پردے حق : د افسانو مجموعه
2. څه يوه قيصه خو نه ده .د هائيکو ټولګه
3. زه ورله کردار ته ائينه نيسم .شعري مجموعه
4. هوا پېژندنه . د موسمياتو په اړه نثري مجموعه
5. زما د ژوند قيصه .دا ژوند ليک دے .او د کتاب نامه حتمي نه ده"[16]

## اعزازات :

"نوے ژوند دوېم امن اېوارډ . دا ايوارډ يې په شعري مجموعه " د رڼاګانو رنګونه " په مجموعه اخستې وو .

خصوصي ادبي اېوارډ ــ دا اېوارډ ورته د " دمام ادبي بهير" ټولنې له خوا ورکړې شوې وو .

اعزازي شيلډ عوامي نېشنل پارټي امام ريجن ـــ دا اېوارډ يې هم په کال دوه زره درې ويشتم کښې اخستې دے "[17]

## بېن الاقوامي سفرونه :

"محمد الياس د نړۍ په ګوټ ګوټ ګرځېدلے دے .تر دې دمه يې د يورپ ، جنوبي امريکه ،مشــرقي ،مغربي ،او جنوبي افريقه ،فارايســټ او مډل ايسټ بلها ملکونه ليدلې دي ـــ دا سفرونه هغه د خپل ملازمت په دوران کښې په سمندري جهازونو کښې کړې دي"[18]

ketabton.com - The Digital Library

# حوالې

[1] د محمد الیاس الیاس سره مرکه ،۲۰۲۴،۴،۱۹،د جمعې ورځ ،د هغوئ حجره ،دوه بجې ماسپخین
[2] الیاس محمد الیاس ،فکر مې سندره شوه،۲۰۲۳،اعراف پرنټرز جنګي پېښور،مخ ۲۲
[3] د محمد الیاس الیاس د پلار فریدالله خان سره مرکه ،۱۹ ـ ۴ ـ ۲۰۲۴ ورځ جمعه ،د هغوئ حجره کښې ،وخت دوه بجې ماسپښین
[4] هم دغه
[5] د محمد الیاس الیاس سره مرکه ،۲۰۲۴،۴،۱۹،د جمعې ورځ ،د هغوئ حجره ،دوه بجې ماسپخین

[6] هم دغه
[7] هم دغه
[8] هم دغه
[9] هم دغه
[10] هم دغه
[11] هم دغه
[12] محمد الیاس الیاس ،شور مې د قلم په ژبه راوله ،۲۰۰۸،المظفر پریس بټ خېله ،مخ ۳،۲،۱
[13] هم دغه **۵،۲**
[14] محمد الیاس الیاس ،د رڼا رنګونه،۲۰۲۲،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ ۲،۱
[15] هم دغه ،مخ **۳،۴**
[16] محمد الیاس الیاس ،فکر مې سندره شوه،۲۰۲۳،اعراف پرنټرز جنګي پېښور،مخ **۲**
[17] د محمد الیاس الیاس سره مرکه ،۲۰۲۴،۴،۱۹،د جمعې ورځ ،د هغوئ حجره ،دوه بجې ماسپخین
[18] هم دغه

ketabton.com - The Digital Library

# دوېم باب

# پښتو او پښتونولي

ketabton.com - The Digital Library

په تېوله نړۍ کښې چې څومره هم قامونه دي ـ دهغوئ ځانله ځانله کلتورونه او ثقافتونه دي ـ ددغې کلتور په رڼا کښې هغوئې خپل ژوند تېروي او د هغې له برکته ځانله يو ممتاز مقام لري د کلتور ،ثقافت په حواله ډاکټر بدرالحکيم حکيمزے ليکي ـ

> "ثقافت کلچر کسی قوم کی مخصوص طرز زندگی کا نام ہے۔ زبان ،لباس ،رسم رواج،مزہبی عقیدہ، توہمات، روایات، تجربات، اخلاقیات ، نفسیات، ادبیات، مصوری ،رقص، موسیقی،تصورات، رہن ،سہن،کے طور طریقی او علوم وفنون ثقافت کے اجزاء ہیں"[1]

ژباړه

ثقافت د يوقوم د مخصوص طرز زندګۍ نوم دے ـ ژبه ،جامه،رسم رواج،مزهبي عقيده ،توهمات،روايات، تجربې،اخلاقيات،نفسيات، ادبيات، مصوري،ګډا، موسيقي، تصورات د ژوند ،ژواک د تېرولو طور طريقې دي ـ او علوم و فنون د ثقافت ،کلتور برخې دي

پښتون قوم هم ځانله يو خاص کلتور او ضابط حياط لري ـ چې په (پښتو او پښتونولۍ) ياد ېږي ـ پښتون قوم ته الله تعالی دا امتياز بخلے دے چې د ژبې وطن او قوم نومونه ئې د يوې مادې څخه دي ـ يعنې پښتو ،پښتون ،پښتونولي او پښتونخواه ـ د پښتونولۍ دپاره د پښتو لفظ هم پکارېږي ـ او پکار هم داسې ده ـ ځکه چې د پښتونولۍ مصدر د پښتو لفظ دے ـ پښتون لفظ د کومو کومو پړاونو نه راتېر شوے دے دا په ځائے پرېږدو او د پښتون لفظ راز ښکاره کوو ـ ځنګه چې مونږ وړاندې ذکر وکړو چې د پښتو ،پښتون او پښتونولۍ لفظ د يوې مادې نه دي ـ نو ددې له کبله دا خبره ياد ساتل پکار دي چې د پښتو ذکر د پښتون ذکر دے ـ د پښتون ذکر د پښتونولۍ ذکر دے ـ او دغسې په دې لفظونو کښې د هر يو لفظ ذکر ددې نورو ذکر دے ـ اوس چې مونږ دلته د "پښتون" لفظ شرح کوو نو دا هم په اصل کښې د پښتونولۍ د دنګ مينار بنيادونه کنستل دي ـ پښتون لفظ د پينځه تورو مرکب دے ـ (پ )نه پت (ښ) نه ښېګړه د ( ت) نه تورزن د(واو) و نهه مطلب وفا او د (نون (ن) نه مطلب ننګيالے دے ـ هم د پنځه خصوصيات دي چې ددې نه پښتونولي چورلي ـ د پښتون قوم ددې اعلا کلتور او فلسفه حيات د پېژندلو دپاره دا په درې برخو کښې ويشلے شي ـ

ketabton.com - The Digital Library

- خوئې خصلت
- دود دستور
- لارې چارې

خويې خصلت

مونږ د تميز زدکړي ټکي لا هېر کړي نۀ دي
په نوي دور کښې د خويې بويه زاړه خلق يو[2]

بدرالکيم حکيمزے ليکي:

"خویں خصلت یعنی مزاج، عادات اور فطرت کے حوالی سے افغان قوم
ایسے بے شمار خوبیوں اور خصوصیات کا حامل ہے ۔ جن کا تعلق
بنیادی طور پرپشتون ثقافت کے تہزیبی پہلو سے وابستہ ہے"[3]

ژباړه

خوئې خصلت يعنې مزاج ، عادات او فطرت په حوالې سره پښتون قوم داسې بې شماره خوبۍ دي او ځانګړنې لري- چې د هغې تعلق د پښتون قوم د ثقافت د تهزيبي ميدان سره دے-

## پت او عزت:

د پښتون قوم د ټولو نه وړومبے مقصد او خويې پت پالل او عزت ساتل دي-دا سپېځلے خويې خصلت د پښتنو د پښتونولۍ د ملا تير دے-پښتون چې څه هم کوي نو هغه صرف او صرف د خپل پت او عزت دپاره کوي- پخپله هم د خپل پت او عزت خيال ساتي،او د بل عزت ته هم احترام لري-که د پښتنو په ټولنه کښې څوک بې پته شي نو هر څوک ئې سپک ګڼي محمد الياس الياس ورته داسې اشاره کوي-

بې ننګه بې پښتو خلق ، بې پته بې وعدې خلق
ژوند نه تختوي مزه ، ورک شه بې مزې خلق[4]

د پت او د ارزښت پته ددې شعر نه لګي چې څومره خبرې ورسره تړلې دي-

ketabton.com - The Digital Library

بــې نــنــګــه دي بــې پــتــه بــې هــنــره شـــوه
ځــکــه راګــوزار مـــې د نـــظـــره شـــوه[5]

## ښېګړه:

ســـتـــا ســـره چــې ســـتــا پـــه غــم ولاړ بــه وو
دغـــو تـــه الـــيـــاســـه يـــاران ووايـــه[6]

ښېګړه ښۀ کولو، نیکي کولو او مدد کولو ته وائي ـــ هغه که د یو تن سره وي او کو د ټولنې دپاره ـ یو ښه کردار ولوبولے شي ـ پښتانه ښېګړه خو ښوي او چې څوک ورسره لاس امداد نهه کوي، یعنې د چا په کار نه راځي نو بیا وائي چې پلانکے د چا په خوږ ګوته متیازې هم نه کوي ـــ دا سې سړي ته پښتنه ټولنه کښې په درون نظر نه کتلے کېږي ـــ ځکه خو په دې حقله محمد الیاس الیاس د خپلو نه پردي هم خوښوي، او وائي ـ

تــاســـره الــيــاســـه چــې پــه ســـخــتــو کښـــې ولاړ بــه وو
ښـــۀ دي ددې خــپــلــو نــه ، قســـم دے چــې پــردې خــلــق[7]

## لوظ:

لوظ وعدې ته وائي ـ او په عامه توګه ورته پښتانه ژبه کول وائي ـ پښتون چې څه ووائي هغه کوي ـــ هغه ته دې پکښې زیان ولې نه وي ـــ خو بې لوظي نه کوي ـــ "لوظ " د پښتنو په هغه ځانګړنو کښې شامل دے چې پښتانه پرې خپل شناخت هم برقرار ساتي ـــ او فخر پرې هم کوي ـــ محمد الیاس الیاس د خپلې ژبې یا لوظ یقین هم ورکوي ـــ د خپل قومیت پېژند ګلو هم کوي ـ او فخر پرې هم کوي ـ

مـــونـــږه د خـــپـــلـــې ويـــنـــا چـــرتـــه پـــه اســـانـــه اوړو
پښـــتـــو مـــو ژبـــه ده د خـــاورې پښـــتـــانـــه خـــلـــق يـــو [8]

ketabton.com - The Digital Library

په لوظ پښتنو ایمان راوړے دے ــ که څوک ور سره لوظ وکړي نو ګمان ئې هم نه وي چې بې ایماني (بې لوظي) به وکړي ـــ ددې فکر عکاسي محمد الیاس الیاس په ډېر ښه شان سره کوي۔

بــیـــا ئــې پـــه وعـــدو بـــانـــدې زۀ تـــېـــروتـــم
حـــال د ســـــادګــــۍ دې زمـــا ولـــــیـــــدو[9]

## توره ،ننګ او عزت:

نـنـګ تـه او وطـن تـه مـې ، ایـمـان تـه چـې خـطـره مـې وي
مـا پســـې دې نـۀ راوړي نـور ،دا رنـګـې جـرګـې خـلـق[10]

ننـګ یـا غـېـرت د پښـــتـنو پـه ختـه کښـــې اغـېـړلے شـــوے دے ــــ پـه خپـل ځـان ،مال،کور،وطن،مزهب،ژبه،او عزت وغېره باندې ننګ کول په ځان فرض ګڼي ـــــ د ننګ او غېر په نوم سرے وژني او بیا دار ته ښۀ په خو شحالۍ او اطمینان روان وي ــ او نور خلک ئې هم ستائېنه کوي ــ په دې پورته شعر کښې ننګ ته ایمان وئېلے شوے دے ــ او بیا د ژرګې غوندې شور داره عمل نه هم انکاري شوے دے ـــ هغه جرګه چې که د چاا په سر کښې ښکر ولې نه وي خو جرګه نامراده نشي لېږلے ۔ او بیا محمد هم الیاس الیاس د جرګې د راتګ ګېدنه کوي۔
په اصل کښې دلته د ننګ په ارزښت ښکاره کولو ازمېښت شوے دے ــ ددې پورته څو خبرو نه د نچوړ دپاره دا یو شعر هم پوره دے۔

ســـتـا پـه بې نـنـګـۍ بـه تـا ، د زړه نـه داســـې اوبـاســـم
ځـنـګ چې پـټ د ســـترګو نـه ، یـو دم کښـــې مـرګـے خلق[11]

یعنې محبوب که هم یو اړخ ته په ننګ خپلیږي نو بل اړخ ته ترې قربانیږي هم۔

ketabton.com - The Digital Library

## پرده او شرم و حیاء:

پښتانه پخپله هم او خویونه ئې هم درانه دي. که یو طرف ته پښتنو له خدے تعلی حسن ورکړے چاق (ثاربه) وجودوونه ورکړي نو بل اړخ ته پښتانه جامه پېزار هم درانه کوي.

که یو اړخ ته د خپل وجود پرده کوي ،نو بل اړخ ته پښتون قوم د ژوند په هر اړخ کښې د خپلې پردې ،ستر ،او حیا ته خیال کوي. ځکه خو محمد الیاس الیاس خپل محبوب ته په ځان د ننګ کولو دپاره د پړونې یا پردې ترغیب هم ورکوي.

ننګ رابانـدې اوکـړه پښـتـنـه میـنـه دې او ښـایـه
یـځ پښـتـنـې پـېـغـلـې پـه نقـاب کښـې پښـتـو وچـېـړه[12]

## انصاف:

هر څوک د پښتون قام د بدنام کولو په غرض پښتون قوم ته وهشي او دهشت ګرد وئېلے شوے دے. خو ولې په حقیقت کښې پښتون قوم د امن او مینې مجنون دے. لکه څنګه چې په دې هائېکو کښې محمد الیاس الیاس وائي.

څـه رنـګـه دنـیـا تـه دهشـت ګـرد ښـکـاري
فـکـر امـن خـوښـے او پښـتـون زمـا
خـدایـه څـومـره ښـکـلـے دے خـو غـلـے دے[13]

ددې ګڼ مثالونه شته چې پښتون قوم د خپلوۍ په چل هم پوهېږي او د دښمنۍ په چل هم پوهېږي او په اصل کښې هم دا انصاف دے. پښتون وګړے د ظلم خلاف جنګ ته غزا وائي او ځان ښۀ ښکاره باغي هم بولي. ولې چې کله د پښتون خبره راشي نو بیا وائي "په پښتو کښې پښتنې ماتېږي" په سر کفن تړي او نیت د لښکر سره تړي او هم داسې وائي چې.

مـا د ظـالـم خـلاف د جـنـګ اعـلان پـه جـار کـړے دے
زۀ بـاغـي شـوے یـم سـړو زمـانـه ډډه وکـړئ[14]

ketabton.com - The Digital Library

یا دا هائیکو:

چـــاوې چـــې ضـــمـــیـــر ددۀ اوده دے لا
الـــیـــاس بـــه د خـــوارانـــو اواز پـــورتـــه کـــړو
خـــان تـــه چـــې د خـــان د ویـــنـــا وخـــت ؤ نـــو[15]

او بیا ورپسې دا شعر ددې سپېڅلي احساس په ډېر ښۀ ډول ترجماني کوي

مـونـږه خـق پـرسـت بـه د مـوسـیٰ مـرسـتـه ضـرور کـوو
فـرعـون سـره پـه جـنـګ یـؤ د هـامـان پـه سـر جـګـړه ده[16]

## ریښتیا:

ریښتیا وئیل د ستونزو حل دے ــ او ستونزې د منافقت پېداوار دے ــ ریښتیا وئیل یوه عظیمه خوبي ده ــ ځکه خو ورته په پښتو پښتونولۍ کښې لکه د "لوظ" مقام حاصل دے ۔ پښتون قوم چې کوم یو عمل یا روایت خپل کړے دے نو د هغې دلیل او ارزښت ئې هم وړاندې کړے دے ــ د ریښتیا نه وئیلو او ویونکو په حواله وائي چې "دروغجن" د خدے دښمن دے ۔ نو ظاهره خبره ده چې د خدا ے تعالی دښمني ثوک په خپل سرر نه اخلي ۔ ددغې محاورې په سېر محمد الیاس الیاس هم په دې شعر کښې د حق ګویې یعنې ریښتیا وئیلو سبق ورکوي ۔

پـــه هـــر لـــوري د حـــق پـــه نـــوم جـــنـــګـــېـــږه
هـابـیـل مـۀ شـــه کـه پـه مـتـو کـښـــې دې زور وي[17]

دغسې دا وینا مخ په وړاندې بوځي ــ او ملا سېد وغېره چې په پښتنه ټولنه کښې ورته ډېر د قدر په د ترګه کتلے شي ته وائي ۔

ketabton.com - The Digital Library

زما پښتون احساس دنیا ته لږ ښائسته بیان کړه
د مصلي نه پاسه ، شابه ممبر ته راشه[18]

پښتون د پښتونولۍ هر حکم مني او په پوره توګه ئې مني ـــ ځکه خو د هغې په حواله جزبه او احساس د څه سره سم نه وي ـ هم ددغې حق او ریښتیا په باب کښې د محمد الیاس الیاس دا شعر بېلګه ده ـ

که مې دار ته خېژوي هم حق به وایم
د منصور په رنګ مې وردانګل د سره[19]

## خودداري:

څنګه چې پښتو او پښتونولي یوه اټل فېصله کوي او په خپلو غوښتنو کښې هېڅ قسمه کمے پېښے نه کوي ـــ دغسې پښتون قوم د ژوند په هره معامله کښې د خپلې خودداري او غرور خیال کوي ـ

چې وړو وړو خدایا نو ته سجده شوه
زما سر ورته ټیټ نه شولو قیصه شوه[20]

غني د پښتون فطرت په حواله داسې وائي :

"اگر اسے فدیہ اور خیرات میں سے کسی ایک کا انتخاب کرنا پڑے ۔ تو وہ فدیہ کی وصولی کو ترجیح دے گا ۔کیونکہ وہ انسان ہے۔ کوئی کیڑا نہیں"[21]

ژباړه:

که هغه ته په فدیه ،قلنګ، خېرات کښې دیو انتخاب کول راپېښ شي نو هغه به فدیه ورکوک خوښوي ـ ولې چې هغه انسان دے ـ څۀ چینجے نه ـ پښتون غلا کوي خوي خو سوال ،خېرات نه کوي ـ

پٹھان چوری اسلئے پسند کرتا ہے کہ اسے بھیک مانگنے سے نفرت ہے۔[22]

ژباړه:

پښتون غلا ځکه خوښوي چې د هغه د خېر غوښتلو نه کرکه ده ـ

ketabton.com - The Digital Library

په پښتنه ټولنه کښې چې څوک روغ جوړوي ــ او څه ډېر زيات مجبوره نه شي نو د چا نه څه نه غواړي ــ او که څوک داسې اوکړي نو هغه ته خلک ډېر سپک نظر کوي ــ او هم داسې ورته د خپلې پښتو ، خدارۍ او غرور پېغور ورکوي۔

د خـپـلـه لاســـه خـپـل انـا غـرور دې خـاورې کـړلـو
تـه چـې پـردي كـور تـه ولاړ ئـې پـردے ور ټـكـوې[23]

## وفا:

وفا او مينه د پښتنو داسې ځانګړې خاصيت دے لکه څنګه چې پښتون قوم په لوظ او ننګ پېژندے شي ــ ځکه خو خلک وائي چې پښتون دې خپل کړو نو مزې کوه ــ او چې پښتون دې خدے دښمن کړو نو بيا دې ورته خدے ټينګ که ــ د دښمن دا نه دے چې پښتون جګړه مار دے ــ بلکې پښتون هره معامله په پوره توګه در ته رسوي ــ که هغه د مينې وي او که د وينې۔ پښتون په خپلو رووايا تو باندې کلک ولاړ وي ــ او نورو ته د دې يقين هموركوي ــ لكه څنګه چې محمد الياس الياس وائي۔

مـو نـړه د خـپـلـې وېـنـا چـر تـه پـه اســانـه اوړو
پښـــتـو مـو ژبـه ده د خـاورې پښـــتـانـه خـلـق يـو[24]

## د وطن سره مينه:

هر چاته خپل وطن کشـمير دے ـــ خو پښتـانه بيا د وطن او مېرمن په باب کښـې حد کوي۔ پښتون د خپل وطن او ملکيت په حواله د خپل سر نه تېر وي۔ او د خپلې خاورې په باب کښې دو بمې خبرې ته تيار نه وي ـــ هم دغه جنون محمد الياس الياس پهه دې شـعر کښـې داسـې قلمبند کړے دے۔

مـونـړه د غـره خـلـق پـه دوه خـبـرو څـه پـوهـېـږو
مـونـږ د وطـن پـه مـيـنـه مســـت ســـاده بـاده خـلـق يـو[25]

لكه ماليار د خپل ګلشن په سر د سر وركولو نه ډډه نه كوي۔

ketabton.com - The Digital Library

مــونــږ لــېــونــو پــکښـــې ســـرونــه بــا ئــېــلــل
چـــې د ګـــلشـــــن د ورانــــېـــدو قـــيصــــه وه[26]

## دود دستور:

الـــيـــاس پــکـښـــې څـکــه پښـــتـــۍ مـــاتـــې کـــړلـــې
خـــدايـــه پښــــتـــون وؤ د پښـــــتـــو قـــيصـــــه وؤ[27]

بدرالحکیم حکیمزے لیکي:

"پختونولی سے وابستہ قواعد وضوابط اور قوانین عرف عام میں دود دستور کہلائے جاتے ہیں"[28]

ژباړه:

د پښتونولۍ سره تړلي قاعدې او ضابطې ،قوانين په عامه توګه په دود دستور بللے کېږي.

## جرګه:

هر کله چې په پښـتنه ټولنه کښــې څۀ ستونزه او پېښــه رامخې ته شــي نو د هغې د حل کولو دپاره پوهه خلق او مشران په يو ځائے کېښني او فېصله کوي.

ډاکټر اقبال نسیم خټک لیکي:

"جرګه د جمهوري نظام عکاسـي کوي ـــ او د جمهوريت ابتدائي شکل دے "[29]

جرګه د دوه ډلو په مېنځ کښــې د وړ او پړ انتخاب هم کوي ـــ او د دوه کسـانو په مېنځ کښــې روغه جوړه هم کوي ـــ که د دوه کسانو په مېنځ کښې نا لګې وي او خپله روغه جوړه ؤنه کړي نو بيا ئې اخير حل جرګه وي. څوک چې پړ وي هغه پرې د بخنې دپاره جرګه اوکړي.

پســـــې جـــر ګـــې بـــو ځـــم د تـــړ مـــو اوښـــکـــو
خـــفـــه روان جـــانــــان ايســــار کـــړئ خـــلــقـــه[30]

دغسې چې په چا جرګه وشي نو هغه جرګه نظر انداز کولے نه شي .دا د پښتونولۍ تقاضه ده . چې سرے به بخښي. محمد الياس الياس هم دا وائي.

ketabton.com - The Digital Library

ورځـــمـــه اوښـــکـــې پســـــې وړمـــه جـــرګـــې
الـــیـــاس تـــه مـــعـــلـــوم دے خـــلـــقـــه زور د جـــانـــان[31]

یا دا شعر

تـــهٔ خـــو راجـــرګـــه شــــه کـــه زه نـــه درځـــم
پښـــــتـــــون یـــمـــه زمـــا پښـــــتـــــو تـــه اوګـــوره[32]

هم دا جرګه د نوعیت په لحاظ د حالاتو مطابق د ننواتې کښې هم وي ـ که یو سړے څوک رضا کول غواړي یا ترې بخنه غواړي ـــ نو دغې ته ننواتې وائي ـــ په دې باب کښې ننواتې اخره کوشش وي ـــ په دې کښې ملامته ډله یا سړے دخپلې خطا اقرار په ډېر عاجزانه انداز کښې کوي ـ او د خپلې شرمندګۍ اظهار هم کوي ،محمد الیاس الیاس په دې حقله وائي ـ

بـــې د مـــنـــتـــه رضـــا کـــېـــږي چـــرتـــه
لا مـــې جـــرګـــې وربـــانـــدې کـــړي نـــه دي[33]

## روغه جوړه:

د شـــــر مـــلـــګـــري راتـــه وائـــي خـــو مـــونـــږ ښـــهٔ خـــلـــق یـــو
پـــه مـــیـــنـــه ســـــر ورکـــوو دومـــره مـــونـــږ خـــواږه خـــلـــق یـــو[34]

دا تریخ حقیقت دے چې پښتانه دښمنۍ ،تربګنۍ لري ـ خو بیا هم پښتو پښتونولي د پښتنو دټولو کړه،وړو جواب کولے شي ـــ او پښـتون قوم هم د هغې محتاج او منونکے دے ـــ که پښـتانه د یو بل سرونه هم پرې کړي خو چې کله په هوش کښـې راشي نو روغې جوړې ته جوړ شي ـ او داسې وائي ـ

مـــونـــږه بـــه د خـــبـــره ســـــره بـــیـــا چـــرتـــه رایـــو ځـــائـــے شـــــو
هســـــې بـــه غـــمـــاز ځـــانـــلـــه د ســـــخـــتـــې نـــه لـــړمـــون ســـــبـــزي[35]

ketabton.com - The Digital Library

## غزا:

پښتانه اکثر په يو ډګر باندې نه راغونډېږي خدا ے خبر چې دا ولې؟ــــ د سلګونو کالو نه د پښتون اتفاق او په يووالي کار شروع دے ـــ خو بيا هم څه رنګ نه راوړي ـــ او چې څومره دانشوران ،سيا ست پوهان،عالمان، او مشران په پښتنو کښې پېدا شوي دي نو هغوئ هم په دې باب کښې نامراده شوي دي او صرف ئې افسوس کړے دے . لکه خوشحال بابا چې دا څو مصرې وړاندې وليکلې .

اتـفـاق پـه پښـتـانـه کښـې پـېـدا نـه شـو
ګـنـې مـا بـه د مـغـل ګـرېـوان پـاره کـړ[36]

ولې بيا هم پښتانه د قامي ،اجتماعي ستونزو د حل کولو دپاره يو شوي دي ، محمد الياس الياس د پښتون رويه داسې بيانوي .

پـه خـپـلـه خـاوره د پـردي قـانـون رواج بـه سـېـزو
مـونـږه سـاړه يـو خـو کـه ګـرم شـو تـاوده خـلـق يـو[37]

دغه اجتماعي يا قامي ستونزې يا هغه محرکات چې پښتانه رايو کوي ،هغه درې دي .
مزهب ،ظلم ، وطن
دا درې محرکات دي چې په پښتنو کښې په قامي توګه بېداري راپېدا کوي ـــ او د يو والي احساس ورته ورکوي ـــ هر کله چې مزهب ته خطره پېښ شوې نو پښتنو په اجتماعي توګه د هغې مخ نيوے کړے دے ـــ که هغه د غزا په صورت کښې ولې نه وي ،محمد الياس الياس وائي .

څـوک چـې بـل لـه تـاسـره شـريـک ګـڼـي
کـېـږي پـرې قـسـم دے چـې غـزا ربـه[38]

پښتون قوم نه صرف په پښتنو ننګ کوي ،بلکې د ټولې نړۍ په کوم ګوټ کښې که هم د چا سره زياتے کېږي نو ظالمانو ته ئې وينه خوټ کېږي .

ketabton.com - The Digital Library

ځـه چـې نســـتــونـې ،بـدې راکــاړو د وخـت جـا بـر تـه
څـو بـه تـنـدے ځـانـلـه د ســـوخـتـه پـه کـمـر ټـکـو ي[39]

ظلم او جبر په څو څو رنګه وي ـ مزهبي،جسماني او سیاسي یا قانوني وغیره هم کیدے شي ـ پښتون قام د سیاسي یا پردي قانون مرام غندنه کړې او بغاوت ئې ترې کړے ـ محمد الیاس الیاس په دې حقله وائي ـ

پــه خــپــلــه خــاوره د پــردي قــانــون رواج بــه ســـبـزو
مــونـږ ســـاړه یــو خــو کــه ګــرم شـــو تــاوده خـلـق یــو[40]

دې اجتماعي پاسون او مخ نیوي ته غزا وائي ـ په دې کښې پښتانه نه د خپل سر او نه د بل د سر پرواه کوي ـــ څوک چې هم د پښتنو دود دستور خپلوي نو پښتانه ورته په ښهٔ نظر ګوري ـ او غزا هم د پښتونولۍ برخه ده ـ چې څوک هم په غزا کښې برخه واخلي او بیا شهیدان هم شي نو خلق پرې شاباسے او افرین وائي ـــ د هغوئ د میړانې او تورې سندرې وائي ـــ محمد الیاس الیاس هم ددغې میړانې او تورې مدح خوان دے ـ

چــا چـــې د وطـــن پـــه نـــوم د تـــن ویـــنـــه ورکـــړې
زهٔ پـــه هـــغـــه مســـــتـــو لـــېـــو نـــو بـــا نـــدې نـــازېـــږمـــه[41]

## مېلمستیا:

د پښـتون قوم په ځانګړنو کښـې لکه لوظ،بدل،انصـاف،رېښـتیا ،پناه او ننګ وغیره کښـې مېلمستیا هم ده ـ پښتانه مېلمه د خدا ے نعمت ګڼي ـــ او دا هم وائي چې مېلمه خځله برخه د ځان سره راوړي ـــ د پښتون په کور کښې که ډوډۍ لږه وه او که ډېره که پوره او که سپوره خو مېلمه ته وائي چې څه تیار وي هغه د یار وي ـ

پښتون قوم خپل پردي ته نه ګوري ، د کلي کور یا د بعد سړي ته نه ګوري ـــ ددې هر څه بالا تر د مېلمه سره مینه کوي ـ او د چائے ،ډوډۍ ست ورته کوي ـ د پښتنو نه څوک وچه خوله نه ځي

ketabton.com - The Digital Library

ـ او که چرته لاړ شي تړې نو په دې ورته ځان ډېر کچه ښکاري او افسوس هم کوي ـ دا ټپه ئې په ښه شان ترجماني کوي ـ

جانان مې وږې رانه تلے
چې دستر خوان لره ورځم ژړا راځینه

الیاس د مېلمنو د هرکلي په اړه په خپل کتاب شور مې د قلم په ژبه راوله ۸۱ مخ کښې داسي وائې
دستور د ے که اخلاص د پښتنو د ے نه پوهېږم
په لاره کښې ګلان د مېلمنې خمه شیندمه

بدل:

که یو طرف ته پښتان بې صبره او جزباتي دي او خپلې لوړې ارادې په سیندلاهو کوي ـ نو بل اړخ ته پهه خپل مزاج او فطرت کښې ډېر سخت هم دي ـــ بل اړخ ته د ښمني هم په ایمانداری سره سر ته رسوي ـ پښتون چې څه کوي حد کوي ـ که څوک ورسره څه زیاتے وکي او په وقتي توګه ئې څه لاس نه وس نه رسي نو موقعې ته انتظار کوي ـ

نظر مې ټپټ ساتمه ستا د مخې
ماته مې مینې احترام خودلے
ګنې پښتون یم په هر څه پوهېږم
ستا د غرور به زهٔ علاج کوومه[42]

خو بدل نه پرېږدي ـــ ځکه پښتانه وائي چې سل کاله پس دې هم بدل واخستو نو تادي دې وکړه ـــ پښتانه په خپلې مېرمن او وطن باندې غېرت کول هم لازمي ګڼي ـــ پښتون د بدل اخستو نه مخکښې مري هم نه ـ هم دغسې په زړه کښې کرل ربېل کوي او مخالف ته وائي ـ
چې څه کړئ هغه به ریبئ دا مې واورئ ګورے
زهٔ به بدل اخلم دنیا ده امن چرته پرېږدي[43]

ketabton.com - The Digital Library

## ننګ ورړل،او ملا تړل:

کله چې په یو کلي ، خاندان ، یا وطن کښې په چا ظلم زیاتے وشي ـ نو هغه راشي خپل خاندان کلي او یا د قبیلې مشر ته ووائي چې په مونږ ننګ وکه ــ او زمونږ بدل واخله ــ دې ته ننګ وروړولي وائي ـ بیا خلک په جمع راپاسي او د ظلم خلاف دظلم سپیناوے وکړي ـ دې ته ملا تړ وائي ـ کله چې په پښتنه ټولنه کښې یا سیمه کښې څوک چاته ننګ وروړي نو هیڅوک ترې بیا نه په شا کېږي ـ لکه محمد الیاس الیاس چې په دې شعر کښې وائي ـ

فـطـرت مـې نـه دے چـې بـه تـېښـــتـه زۀ د قـامـه اوکـړم
ســـتـنـه شـــي بـېـرتـه کـه چـپـه هـم د دریـابـه تښـــتـي[44]

## پناه:

کله چې په پښتون وطن څوک د د ښمن نه د پناه اخستو دپاره د چا په کور ورننوځي نو دې ته پناه وئیلے شي ـ

ډاکټر اباسین یوسفزے لیکي:

> د پناه غوښتو په غرض که څوک د خپل د ښمن کور ته هم ورشي نو په هغه باندې د هغه حفا ظت فرض شي ـ دا یو ډېر عظیم رواج دے ـ[45]

په پناه کښې د کور په مالک هم د پناه غوښتونکي حفاظت فرض شي ـ کوم سړے چې په پناه غوښـتونکي پسـې ورپسـې وي هغه هم دا جرآت نه شـي کولے چې د پناه اخسـتو نه پس پرې حمله اوکړي ــ زار شم د پښتنو د پښتونولۍ نه ــ دومره لوے شان ئې دے چې په بنده ورته غونـے زیګ شي ـ

## بدرګه:

د یو مسـافر دښـمن دار ،مېلمه او یا د قافلې د حفااظت زمواري تر څه ځائے پورې اخسـتلو ته بدرګه وئیلے شي ــــ په دې کښـې معاوضـه هم اخیسـتے شي ـــ او بغېر د معاوضـې هم د چا حفاظت کولے شي ـ

ketabton.com - The Digital Library

## ګیله:

کله چې څوک د چا څه بد اوکړي او هغه سرے راشي د کوم چې بد شوي وي ـــ او هغه چاته د خپل غم اظهار اوکړي نو دغې ته ګیله وائي ـــ په پښــتو پښــتونولۍ کښــې ګیلې ته خاص اهمیت حاصل دے ـــ چې د کوم چا نه ګیله وشي نو د هغه سره هم احساس پېدا شي ـــ او د ګیلې د ختمولو کوشــش کوي ـــ کله چې څوک ګیله کوي نو خلق د هغه د خبرې قدر کوي. خبرې اورېدو ته ئې غوږ ږدي ـــ او داسې نه کوي چې هغه خپله خبره ونۀ کړي ـــ محمد الیاس الیاس دې دوېم عمل ته په دې نظر ګوري.

لا ئــې خــامــوش نــظــر ګــیــلــې کــولــې
خــدایــه پــه څــه وخــت کښـــې ګــویــا دې کــړمــه[46]

## لارې چارې :

پختونولی کے وہی طور طریقے اور اداب واقدار جو تمام افغان قبائل میں شکل و صورت کے ھوالے سے معمولی اختلاف کے ساتھ مروج ہے ۔لاری چاری کہلاتا ہے۔[47]

ترجمه:

د پښــتونولۍ هم هغه طور طریقې او اداب و اقدار چې په تمام افغان قبائلو کښــې د شــکل و صورت په حواله د معمولي اختلاف سره مروج دي ۔لارې چارې بللے شي.

پښتو پښتونولي ددې ټولو یو شان ده ـــ خو خو په ځینو سیمو کښې د څه وجوهاتو له کبله د پښتو ځینو ځاېونو کښې ئې د حکومتي قانون رنګ اخیستے ـــ او په ځینو ښارونو کښې د پښتو روایات هېر کړے شوي هم دي ـــ د دې له کبله په مجموعي ډول د پښتنو په مختلیفو سیمو کښــې د پښــتنو نولۍ په اقدارو او روایاتو کښــې څه لږ ډېر کمے بېشے او ادلون بدلون شته .

## حجره:

حجره د پښتنو په کورونو یا په ټول کلي کښې هغه مخصوص ځاے یا ګوټ (هال) وي ۔چې په هغې کښــې د کلي خلک په څه نا څه غرض راټولېږي ـــ په حجره کښــې هم کېږي ـــ د مېلمه خاطر تواضع پکښې هم کېږي ـــ د ټنګ ، ټکور محفل پکښې هم کېږي ـــ په حجره کښې د

ketabton.com - The Digital Library

یوې موضوع په حواله هر سړے خبره کوي ـــ چې دهغې په ذریعه علم هم د یو نه بل ته منتقل کېږي ـــ حجره د غم ښادۍ ځاے وي ـــ په حجره کښې یو مېلمه یا لاروے هم شپه کولے شي ـ او په تېره تېره حجره د ابلاغ یعنې د خبرې خورولو ذریعه وي ـــ ځکه خو محمد الیاس الیاس وائي ـ

په حجره جومات مې یاد کړې نور به څۀ اووایم
رقیبه ماله بل شاني کنځلې نه راځي[48]

نن سبا حجرې د بېټک شکل اختیار کړے دے ـــ خو نه د حجرې مزه شته او نه د بېټک څه رونق شته ـ بس تر دغې پورې بېټک محدود وي چې د مېلمه پکښې پاللے کېږي ـ او هغه هم چرت په غم ښادۍ کښې ـ حجره د پښتنو سر هغه اداره ده چې د ټولې دنیا سره نشته ـ خود مشینې او تکنیکي یلغار له کبله حجره سړه شوه ـ حجره د پښتنو روایات نۀ بلکې په دې کښې د پښتون د لوړشان او پرمختګ راز پټ دے ـ ځکه خو ئې په ورکېدو یا ورانېدو محمد الیاس الیاس د غم او د خپلې بې ننګۍ اظهار داسې کوي ـ

بې ننګي زما وئینه په هډ لګیا دي
ورانه نخښه د بابا لویه حجره شوه[49]

## جامه:

پښتون قوم چې څنګه په ټوله نړۍ کښې یو ځانګړے خویې ،بوېې ،کړه،وړه او رسم و رواج یا دود د ستور لري ـــ دغسې ئې جامه هم د یو مخصوص ډول ده ـــ د پښتنو په لباس کښې پراخه قمیص ،پرتوګ ، پګړۍ، پټکے، لونګۍ د سپین رنګ ټوپۍ ،واسکټ ،او سپلۍ وي ـ ډاکټر بدرالکیم حکیمزے په دې حقله لیکي ـ

"پٹھان قوم کے ڈھیلے ڈھالے کپڑے اور چادر ان کی حیاداری ،شملہ ان کی قومی عظمت ، واسکٹ اور جوتے ان کی ذوق جمال کی عکاسی کرتا ہیں"[50]

ترجمه:

ketabton.com - The Digital Library

د پښــتون قوم پراخه جامې او څادر د هغوئ د حیاداری، شــمله د هغوئ د قومي لویې والي ،واسکت او سپلۍ د هغویې د ذوق جمال عکاسي کوي ـ
محمد الیاس الیاس د پښتنو د جامې ذکر هم کوي ـــ او بیا چې څوک د پردي کلتور نه لباس په حقله متاسره شوي وي هغویې ته وائي

قــمــیــص پــرتــوگ خــو د پښــتــون جــامــه وه
بــې نــنــگــه خــلــقــو لــه بــه لــنــگ جــوړوؤم[51]

## د مشر احترام او مننه:

په پښتنو کښې کشران د مشرانو په وړاندې خبرې ، خندا ،نشه او څه دا سې نور ډېر کارونه یا حرکتونه دي چې نه ئې کوي ـــ دا سې حرکت کول چې په هغې کښې د مشرانو عزت ته زیان رسي ـ په هغې ورته هم ځان بدې ښکاري،او نورو خلقو ته هم بد ښکاري ـ محمدالیاس الیاس ئې د دې بې ادبۍ په حقله په دې هائیکو کښې څه ښکلې ترجماني کړې ده ـ

هســـې چـــې ښـــه وکـــړه کـــه بـــد مـــې وکـــړه
دا چـــې د پـــلار نـــه مشـــر مشـــر کـــېـــدو
د پـــلار د مـــخـــې مـــې رابـــانـــدې کـــړه پـــرې[52]

مشران که خبره کوي نو کشران ورته غلي ناست وي ـ مشر که په لاره روان وي نو کشران پسې روستو ځي ـ او مشران مخکښې روان وي ـ مشر که یوه خبره وکي نو کشران ئې مني ـ مشر کي کېښني نو کشران ورته کوړ او ښهٔ ځاے پرېږدي ـ

کـــټ کښـــې چـــرتـــه کـــوزه ســـرتـــه نـــه کـــېښـــنـــم
خـــلـــقـــو رالـــه شـــان داســـې راکـــړے دے[53]

ketabton.com - The Digital Library

په پښتنو کښې د مشرانو قدر او احترام کول د خو شبختۍ او نېک بختۍ سبب ګڼلے کېږي ـ ځکه چې د مشرانو عزت او خدمت کول د هغويې دعا اخیسته دي ـ
او په دعا تقدير بدلېږي، محمد الياس الياس م وائي

سخت مزل د ژوندانه ورته اسان شي
په دعا کښې چې رنګ بنګ سړے د مور شي[54]

## د خزو درناوے:

په پښتنه ټولنه کښې په هره حواله خزو ته په درون نظر کتلے کېږي ـ د هغوئې د پردې او عزت په پوره توګه خيال ساتلے کېږي ــ په پښتنه ټولنه کښې که سړي د يو بل سره هر څه اوکړي خو په خزو څوک لاس نه شي اوچتولے ــ که يوه خزه سړي ته ردې بدې ووائي يو پرې ګوزار وکي خو د سړي دا جرات نه شي کولے چې په لاس اوچت کړي ـ ځکه چې په پښتنه ټولنه کښې دغه سړي ته بېغرته وئېلے شي ـ او خلک پرې لعنت وائي، محمد الياس الياس وائي ـ

ددې نه ښه ده چې کعبه ورانه کړې
د بې اسرې خوبندو زړۀ او ځيګر ورانوې[55]

## اشر:

اشر د پښتنو ډېر لرغونے دود دے ـ اشر په جمع کار کولو ته وائي ـ کله چې به په کلي کښې د چا يو داسې کار ؤ چې هغه به د هغه په وس کښې نه ؤ نو د کلي خلقو ته به ئې سوال جواب اوکړو ــــ د کلي يا چم ګاونډ خلق به په شريکه راغلل او هغه کار به ئې په شريکهه اوکړو ـ اشرې به اکثر د غوبلو په وخت کښې ډېرې کېدې ــ په نن سبا وخت کښې چې چرته د ټرېکټر او تهرېشر رسائي کېږي نو هلته د اشر تصور ختم شوے دے ـ او چرته چې مشيني اوزار يا اسباب نيشته او د لاسو پخو محنت وي نو هلته خلق اشرې کوي ــ محمد الياس الياس په دے حقله وائي ـ

ketabton.com - The Digital Library

زما او ستا ورپکښې شر دې وشي
چې وروروللي او اتفاق جوړوي
په کلي کښې اشر دې وشي[56]

## رنځور پښتنه:

چې د يوبل نه پکښې ځار شي سړے
چې د يوبل سره ښېګړه وشي
غم او ښادي داسې روزګار پکار دے[57]

پښتانه په غم ښادۍ او خپلوۍ پاللو کښې ډېر ګړندي وي ـ ددې کوبې مثال دا دے چې که د پښتون د ښمن هم وي، خو چې په کور کښې ئې څوک مړ هم شي نو د هغه جنازې او لاس نيوې لا هم ورځي ـــ دغسې په کلي کښې يا لرې چرته په خپلو خپلوانو کښې څوک رنځور شي نو پښتنې له ئې ورځي ـ او هغه له حوصله ورکوي ـ د رنځور پښتنه هم په مثال ده ـ که په پښتنه تولنه کښې د چا د چاسره څومره هم نا لګي وي ـــ او څومره عمر هم د يوبل په خوا نه وي ورغلي خو چې کله پکښې يو په رنځ پرېوځي نو بيا ئې پښتنه کوله ځکه لازمي ګڼي چې هسې نه مړ شي ـــ نو بيا به په کومو سترګو جنازې اولاس نيوې لا ورځم ـــ او غم ښادي خو پښتانه پرېږدي نه ـــ محمد الياس الياس خپل محبوب ته د پښتونولۍ دا پاک او عظيم روايت په ګوته کوي او د راتلو غوښتنه ترې کوي ـ

راځه خبر دے پښتنې له مې راشه پښتنې
په لار کښې ودربدلې ئې حېرانه څه چل دے[58]

ketabton.com - The Digital Library

## د الرې تګ:

هسې مشران نه وائي چې پښتو پنځم مزهب دے ـــ د پښتو پښتونولۍ ډېر سپېځلي زاړه او کټلي روايات دي ـــ بېشکه چې پښتو له پښتون قوم پکار ؤ ـــ ځکه چې پښتنتونولي پالل صرف او صرف يو پښتون کولے شي ـ ځنګه چې په بدرګه کښې يوه ډله يا يو تن د خپل مېلمه يا د يو لاروي د يو ځاے نه بل ځاے ته په حفاظت سره د رسولو زمه واري په خپل سر اخلي ـ داسې د لاروي تګ هم د پښتون پښتو ده ـــ هر کله چې د يو پښتون مېلمه راروان وي نو هغه ورله د خپل کور نه بهر راووځي ـــ يو څو قدمه د هغه په لور اخلي او ښه شان سره پخېر راغلے وائي ـ محمد الياس الياس خپل محبوب ته په راتګ خپل درد و غم ښکاره کولو په غرض د پښتنو ددې دود په څه نه څه ډول د ترجمانۍ کوشش کوي ، او وائي ـ

رېدي بـه پـرې قـدم مـلـګـرو لـګـي بـه ئـې نـظـر پـکښـــې
پـه اوښـــکـو مـې راويـنـځـلـه لار د اشـــنـا ســـتـرګـو تـه[59]

## چغه:

کله چې به ټول کلے يا څو کلي خبرول وو ـ نو د هغې دپاره به د غره په سر هور بلولے شو ـ يا به ډمامه وهلے کېده ـ دغسې به خلک خبرېدل او راتلل به ـ محمد الياس الياس د چغې ذريوه اذان ګرځوي او وائي ـ

يـــو ځـــاے تـــه دا ټـــول پښـــتـــانـــه راولـــه
چـــغـــــه کـــړه پـــــه زوره آذان اووايـــــه[60]

## لوبې:

داسې خو د پښتنو ډېرې لوبې دي خو يو څو پکښې ډېرې عامې دي ـ او تر ننه پورې ژوندۍ دي ـ په هغې کښې کبډي، ګلي ډنډه ، سخے کول ، نخښه ويشتل ، بلوري ، پټ پټونے ،

پټ سترګې، منذرے ، او داسې نورې مشهورې دي ـــ د پښتنو دا لوبې نه صرف د تفريح او ورزش دپاره بلکې د جنګي مهارت د حصول ذريعه هم ده ـــ دغسې د پښتنو ما شومانې هم

ketabton.com - The Digital Library

ځانله ،ځانله لوبې دي۔ په هغې کښې میرګاتې او ګوډیانې نه ختمېدونکي لوبې دي ۔ نن سبا ددې بې خونده حالاتو په تناظر کښې محمد الیاس الیاس ددې لوبو ذکر په یو نثم کښې داسې کوي۔

اوس د بارودو په ګرمۍ کښې رنګ دي
اوس مو د چم کوڅو کښې چرته کېږي
هاغه میرګاټې او ګاټا د وړو
هغه شلغاټې او خندا د وړو [61]

## اختر:

په مختلیفو حالاتو او وختونو کښې یا غم ښادو کښې د پښتنو یو ځانګړے رواج او دود دستور وي ۔ اختر هم یوه اعظیمه خوشحالي ده ۔ اختر د ټولو مسلمانانو خوشحالي وي۔خو پښتانه دا خو شحالي په یو ځانګړي ډول نمائحي ـــ د مونځ نه پس د یو بل سره بره ګره کوي۔ یوبل ته بخښنه کوي ـــ او یوبل له مبارکیانې ورکوي ـــ دغسې د لوئې اختر د مونځ نه پس د قرربانۍ یا د وړوکي اختر د مونځ نه پس د کلي ټول خلک په شریکه بلنې کوي ـــ د کلي د یو سر نه شروع وکي او هر کور ته ورځي خوراک کوي ـــ دا سې دا سلسله تر اخیره کوره پورې جاري وي ـــ د لویو په شان واړه هم اختر ته ډېر خوشحالېږي ـــ د ښه خوراک او چرته د سېل کولو سره سره ورله مشران روپۍ هم ورکوي ۔

تا په اختر کښې ورکړه هر ځاے کښې هر چاله روپۍ
بچے مې بیا بیا راته وائي بابا ماله روپۍ [62]

## موسیقي:

پښتانه په امن ،مینه او خوشحالۍ مئین خلق دي ـــ او د پښتنو امن ، مینه او خوشحالي موسیقي هم ده ـــ په مړي ژړا ښۀ وي او په وادۀ کښې سندرې خوند کوي ـــ د خپلې مشغولا دپاره په حجره کښې ټنګ ،ټکور کوي۔ د پښتنو دپاره موسیقي ژوند دے۔

ketabton.com - The Digital Library

ما خو د رباب په تار د ژوند نغمې ليکلي دي
اخلي به تري خدای خبر څنګه څنګ معنې خلق[63]

پښتانه د تفریح نه علاوه د جنګ یا غزا په وخت هم د جزبې نه ډکې سندرې او د خپل وطن د مینې ترانې وائي ـــ دې جنګي سندرو ته (دور) وائي ـــ کله چې هم د پښتنو د رابېدارولو او د هغویې د جزبو د راوچتولو ضرورت راغلے نو هغویې ته دورونه غږولے شوي دي ـ چې په تاریخ کښې ئې ګڼ شهادتونهه موجود دي ـ
محمد الیاس الیاس ددغې انقلابي وخت په حقله په یوه هائېکو کښې لیکي ـ

قبصه مې د ويجاړ ګلشن راخيستې ده
پربږدې چې جزبې ځواني راپارې کړم
ټپه شوم په قربان د وينا وخت ؤ نو [64]

## پېغور:

پېغور په پښتنو کښې یو داسې زورور او خونړي تصور دے ـــ چې پښتانه پرې اکثر د یوبل ناروا وینېهم تویې کړې دي ـــ منمه چې که یو څو ک مثال په توګه کار روزګار نه کوي ـــ او څوک ورته اووائي چې ته خو هسې خو شے تشے ګرځې ـــ نو ددې سره کېدے شي چې په هغه کښې غېرت پېدا شي او کار شروع کړي ـــ خو که چرته د پپښتون په خور ،لور باندې الزام ولګي نو هغه خپله ښځه ،خور ،لور او هغه سړے وژني ـــ چې د بدنامۍ تصور پرې لګېدلے وي ـــ په داسې حالاتو کښې پښتون ګناه او بې ګناه یا حقیقت او تهمت ته نه ګوري خو وائي چې خلق به څه وائي؟ او دغسې هغه ځان یا بل مړ کړي ـــ پېغور د پښتون سړي دپاره ډېر سخت دے ـــ دومره سخت چې بنده نه خپل او نه د پردي پرواه کوي ،په حقله محمد الیاس الیاس وائي ـ

ketabton.com - The Digital Library

خپل پردي وي او که نهٔ چرته کښې نور وي
ورکوه ئې چې بې ننګه شي پېغور وي[65]

ketabton.com - The Digital Library

# حوالې

[1] حکیمزے ډاکټر بدرالحکیم ،پښتونولي،خورونکے مشال پښتو ادبي او ثقافتي ټولنه متہ سوات، اکتوبر۲۰۲۰ء مخ۱۷
[2] محمد الیاس الیاس ،درنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۷۰
[3] حکیمزے ډاکټر بدرالحکیم ،پښتونولي،خورونکے مشال پښتو ادبي او ثقافتي ټولنه متہ سوات، اکتوبر۲۰۲۰ء مخ۲۸
[4] محمد الیاس الیاس ،درنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۲۸
[5] هم دغه اثر مخ۲۵
[6] هم دغه اثر مخ ۲۹
[7] هم دغه اثر مخ۷۰
[8] هم دغه اثر مخ۴۷
[9] هم دغه اثر مخ۲۸
[10] هم دغه اثر مخ۲۸
[11] هم دغه اثر مخ۲۲
[12] هم دغه اثر مخ۲۵
[13] محمد الیاس الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم ګران خپروندویه ټولنه چاپ کال ۲۰۲۴ مخ
[14] محمد الیاس الیاس ،درنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۹۹
[15] محمد الیاس الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم ګران خپروندویه ټولنه چاپ کال ۲۰۲۴ مخ۴۲
[16] محمد الیاس الیاس ،درنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۳۸
[17] هم دغه اثر مخ ۸۸
[18] هم دغه اثر مخ۲۱
[19] محمد الیاس الیاس ، فکر مې سندره شوه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور چاپ کال۲۰۲۳ء مخ ۹۰
[20] محمد الیاس الیاس ،درنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۶۴
[21] غني خان (دي پټهان) پختون ، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پشاور چاپ کال جنور۲۰۲۳ءمخ۶۴
[22] هم دغه اثر مخ۶۷
[23] محمد الیاس الیاس ،درنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۵۶
[24] هم دغه اثر مخ۷۰
[25] هم دغه اثر مخ۷۰
[26] هم دغه اثر مخ۱۲۱
[27] هم دغه اثر مخ۱۲۱
[28] حکیمزے ډاکټر بدرالحکیم ،پښتونولي،خورونکے مشال پښتو ادبي او ثقافتي ټولنه متہ سوات، اکتوبر۲۰۲۰ء مخ۳۳

ketabton.com - The Digital Library

[29] ډاکټر اقبال نسیم خټک ، د پښتون کلچر علمبردار خوشحال خان خټک مقاله، خورونکے پښتو ادبي چمن ټل ،اکتوبر۲۰۱۲ء مخ۷۰
[30] محمد الیاس الیاس ،دړنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۹۱
[31] هم دغه اثر مخ۱۱۳
[32] هم دغه اثر مخ۵۷
[33] محمد الیاس الیاس ، فکر مې سندره شوه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور چاپ کال۲۰۲۳ء مخ۲۷
[34] محمد الیاس الیاس ، دړنا رنګونه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور چاپ کال دسمبر۲۰۲۲ء مخ۷۰
[35] هم دغه اثر مخ۶۸
[36] سېد رسول رسا ، ارمغان خوشحال، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور ، چاپ کال ۲۰۰۹ء دوېم ایډیشن مخ
[37] محمد الیاس الیاس ،دړنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۷۰
[38] محمد الیاس الیاس ، فکر مې سندره شوه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور چاپ کال۲۰۲۳ء مخ۱۸
[39] محمد الیاس الیاس ،دړنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۵۶
[40] هم دغه اثر مخ۷۰
[41] محمد الیاس الیاس ، فکر مې سندره شوه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور چاپ کال۲۰۲۳ء مخ۸۶
[42] محمد الیاس الیاس ،دړنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۱۰۹
[43] هم دغه اثر مخ۳۱
[44] هم دغه اثر مخ۵۴
[45] ډاکټر اباسین یوسفزے ، پښتون حمزه، د حمزه بابا په شاعرۍ کښې د قومیت تصور ،د افغان د علومو اکېډمي د اطلاعاتواو عامه اړیکو ریاست چاپ کال ۱۳۹۸ه ، مخ ۱۴۸
[46] محمد الیاس الیاس ،دړنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۵۹
[47] ډاکټر بدرالحکیم حکیمزے ،پښتونولي،خورونکے مشال پښتو ادبي او ثقافتي ټولنه مټه سوات، اکتوبر۲۰۲۰ء مخ۳۹
[48] محمد الیاس الیاس ، فکر مې سندره شوه، اعراف مرنټرز محله جنګي پېښور چاپ کال۲۰۲۳ء مخ۱۹
[49] محمد الیاس الیاس ،دړنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۶۵
[50] ډاکټر بدرالحکیم حکیمزے ،پښتونولي،خورونکے مشال پښتو ادبي او ثقافتي ټولنه مټه سوات، اکتوبر۲۰۲۰ء مخ ۴۳
[51] محمد الیاس الیاس ، فکر مې سندره شوه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور چاپ کال۲۰۲۳ء مخ۶۶
[52] محمد الیاس الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم ګران خپروندویه ټولنه چاپ کال ۲۰۲۴ مخ۶۷
[53] محمد الیاس الیاس ، فکر مې سندره شوه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور چاپ کال۲۰۲۳ء مخ۱۲
[54] محمد الیاس الیاس ،دړنا رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۸۸
[55] محمد الیاس الیاس ، فکر مې سندره شوه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور چاپ کال۲۰۲۳ء مخ۶
[56] محمد الیاس الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم ګران خپروندویه ټولنه چاپ کال ۲۰۲۴ مخ۹۶
[57] محمد الیاس الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم ګران خپروندویه ټولنه چاپ کال ۲۰۲۴ مخ۸۷

ketabton.com - The Digital Library

[58] محمد الیاس الیاس ،درنها رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۱۱۵
[59] هم دغه اثر مخ۸۶
[60] هم دغه اثر مخ۲۵
[61] هم دغه اثر مخ۳۵
[62] هم دغه اثر مخ۴۲
[63] هم دغه اثر مخ۲۸
[64] محمد الیاس الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم ګران خپروندویه ټولنه چاپ کال ۲۰۲۴ مخ۴۱
[65] محمد الیاس الیاس ،درنها رنګونه،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر۲۰۲۲ء مخ۸۸

ketabton.com - The Digital Library

## دريم باب :

# امن او بد امني

ketabton.com - The Digital Library

## امن او د امن ارزښت :

د امن لغوي معنا عدم تشدد ده ـ عدم نیشت ته وائي ـ او تشدد ظلم او زیاتي ته وائي ـ په مجموعي ډول د ظلم او جبر نیشوالې ته امن وائي ـ په دنیا کښې داسې ډېر قومونه شته چې په هغوئ کښې د ښهٔ او بد په مېنځ کښې تضاد شته ـ یعني داسې ډېر څه وي ـ چې په یو قوم کښې ګڼه کېږي ـ او بل قوم ورته د بدو په نظر ګوري ـ خو واحد امن دے چې ژوندې مخلوق لا څه چې کاڼي بوټي هم د دې محتاج دي ـ

جبر نه صرف جسماني زیاتي ته وائي ـ بلکې دا په څو څو رنګه وي ـ لکه مثال په توګه د ځان ،مال ،عزت ،حق او داسې نور ـ امن د ژوند یو داسې لازمي عنصر دے چې ژوند امن دے ـ چې امن نه وي ـ نو بیا چاپېرچل د ځنګل صورت اختیار کړي ـ او مونږ ته پته ده چې په ځنګل کښې څهٔ کېږي ـ کوم ځناور چې ښکرور دي نو بې ښکرو ښاروے وهي ـ کوم ښاروے چې ماتول کولې شي ـ او څومره وس یې رسېږي ـ نو نور ښاروي ماتوي ـ نو لهذا امن ژوند او ژوند امن دے ـ د امن د ارزښت نه څوک سترګې نه شي پټولے ـ او د جبر نه نفرت د هر زي روح په فطرت کښې دے ـ

جـــبـــر چـــې د دې نـــړۍ نـــه ورک کـــړمـــه
ســـتـــرګـــې مـــې هـــمـــېـــش لـــرې بـــیـــنـــا ربـــه [1]

جبر جبر وي ـ که هغه په هر لحاظ وي ـ الله تعالي هم د مذهب په حواله فرمائي چې ـ

"لا اکرهه في دین "[2]

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه : يعني په دين کښې هيڅ جبر نشته .

که يو څوک دين اسلام قبلوي نو ډېره ښه ده .او که ايمان نه راوړي .نو مسلمان له جايز نه دي .چې په هغه سختي وکړي او مسلمان يې کړې .دلته الله تعالي په زار کلي نه کېږي ته اشاره کړې ده .په يو غېر مسلم باندې د دين قبلولو دپاره سختي کول خو لا لويه خبره ده بلکې د يو غېر مسلم وېنه په اسلامي رياست کښې د مسلمان د وينې برابره ده .هغه ته به خپل ټول حقوق حاصل وي .او د عبادت ازادي به ورته هم حاصله وي .

امن خوشحالي ده .او خاشحالي ژوند دے .چرته چې امن نه وي .هلته خوشحالي نه وي .

ځکه محمد الياس وائي .

داسې به هله وې که امن وے نو
د غره په سر په زوره زوره باندې
ټپه کښې يه قربان به څه ياد کړمه [3]

يا دا هائيکو .

مونږه د جنګ حالات کښې ژوند کړے
د محبت قيصې مې يادې نه دي
درمان به څه جانان به څه ياد کړمه [4]

ketabton.com - The Digital Library

امن د ژوند واحد ضرورت دے چې د ژوند ټولې خوشحالۍ ورسره تړلې دي ۔محمد الياس چې ځنګه په دې وړاندې هائيکو کښې د جانان ارمان کوي ۔دغسې ا امن په غېر موجودګۍ کښې د اختر بې خوندي هم بيانوي ۔

په خاوره پښتنه چې مې د امن ځادر خور کړمه
دومره زور مې نشته دے زه په اختر څه کومه [5]

د امن د ارزښت اندازه هغه څوک کولې شي ۔چې د بد امنۍ سره مخ وي ۔په نن سبا کښې زمونږ وطن او په خصوصي توګه فلسطين د بد امنۍ د اذيت نه راتېرېږي ۔د امن او د امن په هره حواله يو شمېر مثالونه دي ۔خو زه دلته يو مثال راوړم او بيا بس کوم ۔که مونږ پخواني ژوند ته لږ غور وکړو ۔نو هغه ډېر زيات سخت وو ۔نه داسې ډېره ډوډۍ وه ۔لکه نن چې رزق څومره ډېر دے ۔پېزار نه وو ۔ګاډي نه وو ۔بجلي نه وه ۔د کرکيلې اوزار نه وو ۔موبايل نه وو ۔او داسې نور د ژوند بلها ضروريات دي چې هغه نه وو ۔خو بيا هم هغه خلق زمونږ نه زيات خوشحاله وو ۔ولې امن او مينه وه ۔

## بد امني او د بد امنۍ وجوهات :

بد امني د امن پر ضد اصطلاح ده ۔او د امن پر ضد استعمالېږي ۔هر کله چې انصاف ختم شي ۔او ناروا روا شي ۔نو بيا څوک چا د سر هم پروا نه ساتي ۔دغه صورتحال چې د خلقو پکښې ببلا ببل ډول حق تلفي کېږي ۔او تر دې حده چې د هغوئ ژوند ته هم خطره پېښه شي ۔په اسانو ټکو کښې بد امني بللې شي ۔

ketabton.com - The Digital Library

## د بد امنۍ وجوهات :

داسې خو بلها محرکات دي چې بدد امني په حرکت کښې راولي ـخو دلته ترې زه يو څو د سر په ګوته کوم ـدا هم ما په درېو برخو کښې وئيلې دي ـ

1. سياسي يا قانوني
2. معاشي
3. اخلاقي يا ټولنيز

دا پورته ذکر شوې محرکات د بد امنۍ زيلي دي ـاو بيا يې يو شمېر څانګې هم دي ـ

## سياست ،حکومت او قانون :

د رياست درې لويې بنيادي څانګي دي ـ په هغې کښې مقننه ،عدليه ،او عامله ده ـ مقننه حکومت يا حکومتي چارواکو ته وائي ـچې هغوئ قانون جوړوي ـعدليه يا عدالت هغه اداره ده چې د دغې جوړ شوې قانون يعني د مقننې د احکاماتو مطابق فېصلې کوي ـاو درېمه عامله ده ـعامله په عوامو قانون او فېصلې عملي کوي ـکه مونږ د رياست دې نظام ته وګورو نو بې شکه چې دا په تول پوره دے ـخو که مونږ ورته په خپل وطن کښې نظر وکړو نو داسې هسې برائے نام دے ـزه د خپې زمه وارۍ مطابق د حکومت يا قانون خامۍ او کمۍ په ډاګه کوم ـ

## عدليه يا عدالت :

عدل انصاف ته وائي ـد انصاف ژوند په هر ډګر او هره لحظه کښې ضرورت دے ـاجتماعي معاملات خو ډېره وروسته خبره ده ـبلکې وګړے په انفرادي توګه هم د انصاف په درک کښې وي ـاو په خپل ذات کښې هم د دې پابند وي ـ چونکې ژوند دے ـانسانان دي ـمعاملات او ضروريات دي ـنو ښکاره خبره ده چې جنګ جګړه به پېدا کېږي ـ ظلم او زياتې به هم سر

ketabton.com - The Digital Library

راپورته کوي .د دې دپاره عدالت يو داسې مقام دے چې هلته د مظلوم تپوس کېږي او د ظالم غندنه کېږي .

هر کله چې دا عمل په حقيقت کښې جاري وي .نو بيا نه ظالم او نه مظلوم پېدا کېږي .او چرته چې ظالم او مظلوم نه وي .نو هلته قام د خوشحالۍ سره سره پرمختګ هم کوي .د دې نه تاسو د عدالت د ارزښت او قيمت اندازه کولے شئ .اوس که مونږه د حکومت غوندې د خپل وطن عدالتي نظام ته خيال وکړو نو هسې د عدالت په نوم پسې خندا ده .

دنـــيـــادارو عـــجـــيـــبـــه نـــظـــام جـــوړ کـــړے
د کـــړو پـــکښـــې کـــاږه کـــارونـــه ســـم شـــي
نـــېـــغـــه لار د صـــداقـــت ســـړے خـــفـــه کـــړي [6]

د ټولو نه وړاندې خو د عدالت دا حال دے .چې که يو څوک فېصله درج کړي .نو اول خو به په کلونو کلونو تاريخ له ځي .پيسې به ترې لړي او د فېصلې پته به نه لږي .بيا چې کله ډېره موده پس فېصله ووشي .نو هغه هم د هغۀ چا په حق کښې ووشي .چې ډېرې پيسې وي ورسره .

چـــې انصـــاف چـــرتـــه پـــه دوه روپـــۍ خـــرڅـــېـــږي
چـــې مـــلـــزم پـــکښـــې بـــري شـــي بـــې دلـــيـــلـــه
دا قـــاضـــي د عـــدالـــت ســـړے خـــفـــه کـــړي [7]

کله چې ملزم بري شي .او ډانګه غړۍ رابهر شي .نو مظلوم بيا پخپله خپل تپوس د خپل ځان نه وکړي ــ ملزم د عدالت يا جېل نه رابهر شوې نه وي ــ چې ډز ترې پورته کړي ــ اوس تاسو

ketabton.com - The Digital Library

فېصله وکړئ ـ چې په عدالت کښې هم عدل ونه شي نو امن به راشي ؟چرته هم نه بلکې د لږي نه یږه جوړه شي ـ

## رشوت او سیاسي چارواکې :

بد امني د بد عنوانۍ او جبر پېداوار دے ـ نن سبا د ژوند په هر ډګر د عوامو استحصال شروع دے ـ د شاه نه واخله تر د ګدا پورې چې د چا خومره وس کېږي نو د بل وینو او غوښو ته ورې تږي ناست دي ـ د هیچا سره قانون او د چا د بې وسۍ احساس نشته ـ ځکه خو محمد الیاس الیاس مونږ ته دا شعور راکوي ـ چې هسې سړے په ځان مه مسلط کوئ چې بیا په تاسو پسې ملنډې کوي ـ او دا سور حقیقت دے ـ چې زمونږه سیاسي مشران د اقتدار نه وړاندې د عوامو سره دومره وعدې وکړې ـ چې قچر یې هم نه شي وړې ـ او چې کله په اقتدار کښې راشي نو بیا په دوربین کښې هم نه ښکاري ـ

راشـــئ زمـــا نـــه ســـیـــاســـت زده کـــړئ
زه چـــې بـــاچـــا وومـــه نـــو څـــه مـــې وئـــیـــل
اوس چـــې بـــاچـــا نـــه یـــم نـــو څـــه وایـــمـــه [8]

ځان ورته یو شے ښکاره شي ـ د عوامو نه بیا کرکه کوي ـ او هغه عوام چې دې یې دغې منصب ته رسولې وي ـ د هغوئ نه خطر کوي ـ او ځان ته عوام نه نزدې هم نه پرېږدي ـ د محمد الیاس دا هائیکو لږه ولولئ ـ

ketabton.com - The Digital Library

سم ورته ځان قرقلا خان ښکاره شي
دې بیا د نه سړي کارونه کوي
پګړۍ په سر چې نه کړئ نه سړي ته [9]

د دې هر دپاسه ځان د وطن او ملت غم خوار ګڼي .ناست به په لندن کښې وي .او ګوته به هم لندن ته څنډوي .ګرځي به په الوتکه کښې او چې د ټاکنو وخت راشي نو بیا د عوامو سره په خاورو کېښني .د ملک خزانه به هم لوټ کړي .د غېرو نه به قرضه هم راواخلي .د ملک به یې هم دا حال وي .لکه چې دے او عوامو ته به دا تاثر ورکوي چې توره مې وکړه .

لګیا دي قام پورې ملنډه کوي
دوئ د وطن په نوم وطن وخوړو
دغه کم ظرفه په قلار مې نه کړه [10]

خبرې ډېرې زیاتې دي .خو که ټوله خبره په یوه موضوع کوم نو دا نور به رانه پاتې شي .لهذا د حکومت او سیاست نه به نورو ادارو ته راشو .او د رشوت سپیناوے به اوکړو .

چې هر اړخ ته ګورم ماري داړي دي
سرکار مې د رشوت تبې نیولے دے [11]

که اے سي دے که ډي سي خو چې څه یې په لاس ورشي هغه یوسي .که ډاکټران دي .که ستړورونه ټول په ټوله دونمري کارونه کوي .که فوجي افسر وي .او څومره هم ادارې وي .نو د هغوئ د بچو پکښې مزې دي .که پولیس دي .چارسوبیس دي .د د ې وطن به کومه کومه

ketabton.com - The Digital Library

راورم ـ هره شعبه پکښې ناپاکه ده ـ چې ګورمه څه ځاے پکښې روغ نشته ـ مرداره ده ـ بویې ناکه ده ـ

## مرګونه او چاودنې :

دا یاد ساتئ چې د جبر او زیاتي په حواله زه د ټول وطن خبره نه کوم ـ بلکې د پښتون قوم او پښتنې خاورې ترجماني کوم ـ صرف په پاکستان کښې نه په ټوله نړۍ کښې پښتانه په نخښه شوې دي ـ نور خو که د سینده یا پنجاب خبره شي ـ نو ښه پکښې خوشحاله دي ـ

د مرګونو د وسائیلو د بېللو او د پاکستان د شرمخ د خېټې د ډکولو دپاره زمونږ د پښتنو غوښې شته کنه ـ یو شمېر معدنیات د پښتنو نه شوکېږي ـ په شل زره روپۍ په بارډر پښتانه وینه ورکوي ـ د ډالرو دپاره پښتانه خرڅېږي ـ او دا صرف زه نه وېم ـ هر څوک په دې پوهېږي ـ لکه چې محمد الیاس وائي ـ

زمـــا پـــه ســـر بـــانـــدې ډالـــرې اخـــلـــي
ټـــوپـــک پـــه لاس ښـــه پـــه رڼـــا ورځـــي
زمـــا پـــه مـــرګ پســـې ســـرکـــار تـــاوېـــږي [12]

په پنجاب کښــې چرته یوه پټاخه هم نه ډزېږي ـــــ او په پښــتونخوا کښــې کربلا ده ـ جومات، مدرسه ـــ مکتب او ښوون ځاے محفوظ نه دي ـــ او په مونږ کښې هم دا شعور نشته چې وو ایو ـ

ketabton.com - The Digital Library

مــکـــتـــب تـــه ځـــنـــګـــه تـــرهـــګـــر نـــنـــوتـــو ؟
ټـــوپـــک پـــه لاس ځـــوکـــيـــدارانـــو وايـــئ ؟
بـــم چـــې ډزيـــدلـــو تـــاســـو چـــرتـــه وئ ؟[13]

زما بازار زما مدرسه زما کور خو لا پرېږده - بلکې په پښتونخوا کښې حکومت يعني پوليس هم محفوظ نه دي ـــ ايا دا خبره د منلو ده ـــ او بيا ورله يو پرتوګ جوړ کړي ـــ چې نامعلوم کسـانو داسې وکړه ـــ چې هغوئ نامعلوم دي نو ته د څه دپاره اختيارمند يې ؟ته يې ځنګه نه شې معلومولې - ته خو هم د دې دپاره سرکار يې - خو حقيقت دا دے - چې ته ټيکدار يې او دا نور دې نوکران دي ـــ که ستا دا خيال وي چې اولس ګيا خوري نو ته به هسې شړو سر يې - مونږه په جار د محمد الياس غوندې وايو -

الـيـاســـه دغـه پـټ خـلـک ښـــکـاره راپســـې شـــوي دي
دوئ رالـه ســـبـا د ژونـد هـم دوئ رالـه پـرون ســـبـزي [14]

چې زما د وينې قيمت نشته نو ځنګه به څاړه خورم ـــ بد امني به ځنګه نه وي ـــ که وخت مې راغې په کوپړۍ کښې به دې او به وڅښم -

## نسلي يا قومي تعصب :

دا د انســان په فطرت کښــې دي ـــ چې د خپل وطن ،خپلې خاورې ،خپلې ژبې او د خپل قام قبيلې سره بې شانه مينه کوي ـــ دا سې پکار هم ده خو چې کله د بل چا د قام قبيلې سپکاوې

ketabton.com - The Digital Library

وونه شي ـ په خصوصي توګه مونږ پښتانه په دې حقله د ډېري انتهاپسندۍ نه کار اخلو ـ قام قبيله او نسب خو لا پرېږده ـ مونږ نن هم د خپلو نيکونو داسې قيصې کوو ـ چې مطلب ترې د نورو خلکو توهين وي ـ وجه يې دا ده چې مونږ ځان درون حسابوو ـ او د بل تحقير کوو ـ هر کله چې د يو عمل نه څه زيان يا بدي پيدا کېږي ـ نو پوهه شه چې يا خو دا کار سم نه دے او يا په دې کار کښې د انتهاپسندۍ نه کار اخستې شوے دے ـ ګنې قام قبيله بده خو نه ده ـ بلکې د دې ډېر نازک ضرورت دے ـ د دې په ذريعه مونږ يو بل پېژنو ـ دا د ټولو انسانانو شناخت پېژندګلو ده ـ دا تعصب په انفرادي توګه هم د زيان او بد امنۍ سبب ګرځي ـ خو په اجتماعي توګه دا يوه وبا ده ـ او هم د دې وبا سره مونږ په ملکي سطح مخامخ يو ـ

دا څنګه راغلې ده ؟ د ا ځانله بحث دے ـ خو زه به دلته صرف او صرف د دې د شتون اقرار وکړم ـ زمونږ په ملک کښې يو شمېر قامونه دي ـ د دې ټولو ژبه ،روايات ،رسم ورواج ،تاريخ او عن تر دې چې د ځينو پکښې مذهب هم د يو بل نه جدا دے ـ څنګه چې د ژبې حسب نسب او رسمو رواج وغېره د بدلون له کبله يو ځانله قوم جوړېږي ـ او بيا چې څنګه دلته مختلف قومونه اباد دي ـ هم دغسې دا قامونه د قانون يا حکومت په سترګه هم سپک او درانه دي ـ د دې په مېنځ کښې او د دې نه پس هم ډېر بحث پرېږدم ـ او سرسري د دې څو نومورو قومونو په مېنځ کښې هغه فرق له راځم ـ کوم چې حکومت کوي ـ پنجابيان ،سندهيان،پښتانه او بلوچيان د پاکستان څلور لوئے قومونه او څلور برخې دي ـ

په دې ملک کښې پنجاب بادشاه دے ـ او دا نور بس هسې څه دي نو ـ بيا د پنجاب نه علاوه د سينده هم څه ګوزاره کېږي ـ خو بلوچستان او خېبر پښتونخوا خلق هډو څه حېثيت نه لري ـ هر څو که پنجاب د دوئ په سر مزې کوي ـ بيا پښتانه په هره حواله نظرانداز کړے شوې دي ـ او هغې له يې مختلف پرتوګونه جوړ کړې دي ـ په هغې کښې يو تور د دهشتګردۍ دے ـ

ketabton.com - The Digital Library

چې د پښتون په لمن لګېدلے دے ـ پښتانه د مينې ژوندے مثال دے ـ په دې ټوله نړۍ ګواه ده ـ خو د پاکستان رياست يې دهشتګرد بولي ـ د دې وجه په فقط داده چې پښتانه په نن سبا وخت کښې بې اتفاقه دي ـ او د ځان تپوس نه کوي ـ محمد الياس الياس دا ټوله خبره په يوه هائيکو کښې رانغاړي ـ

څــه رنــګــه دنــيــا تــه دهشـــتــګــرد ښـــکــاري
فـــکـــر امـــن خـــوښـــې او پښـــتـــون زمـــا
خـــدايــه څـــومـــره ښـــکــلے دے خـــو غــلے دے [15]

په دې وطن کښې د پښتون قوم ډېر زيات استحصال کېږي ـ که هغه په سياسي رنګ کښې دے او که په معاشي توګه دے ـ د پښتنو د سيمې نه هر رنګه ذخائر حکومت وړي ـ او بيا پرې د خيبر پښتونخوا څه حق نشته ـ د پښتنې خاورې نه دا ټول وطن ګټه پورته کوي ـ او بيا هم د ټولو نه لوئے قصوروار پښتانه دي ـ بيا هم په پښتنو پسې نومونه کېږي ـ بيا هم په پښتنو پسې لطيفې جوړېږي ـ او بيا هم د پښتنو نسل کشي کېږي ـ تر دې حده په پښتنو جبر او زياتې شروع دے ـ چې پښتانه خپل ژوند هم يوه معجزه ګڼي ـ

څـــــه نــــوي شـــــان خـــــبـــــره ده
د خـــدائـــے د نـــامـــې زار شـــمـــه
پښـــــتـــون يـــمـــه او ژونـــد کـــووم [16]

چې د حکومت ،قانون او وطن دا حال وي ـ نو اخر څنګه سړے د ښه ورځې سوچ وکړي ـ دا خو مونږه يو ـ ګني د يورپ تورو هم دا نه وو زغملې ـ

ketabton.com - The Digital Library

# اظهار رائے :

انسان ته چې د اشرفالمخلوقات شرف بخښلے شوے دے ـنو په هغې کښې د نطق هم ډېر لوئے کردار دے ـيعني انسان په اتلس زره قومونو کښې واحد انسان دے ـچې د خپلو خواهشاتو او جزباتو اظهار د وېنا په صورت کښې کولے شي ـولې چې انسان عقل هم لري ـاو چې عقل وي ـنو خامخا به څه وئيل او کول غواړي ـبلکې څه کول د وئيلو نه بغېر کېږي هم نه ـد ژبې ډېر لوئے ارزښت دے ـکله چې د ليکلو دپاره قلم ،کاغز او سياهي وغېره نه وو ـنو درس و تدريس به هم د وېنا په ذريعه کېدو او نور معلومات به هم خلقو د متعلقه شخصيت نه اخيستو ـاو هم دغسې به يې په يادو يادوو ـ

اوس که د ربورټ او مشيني ژوند دے ـ خو بيا هم د وېنا هغسې ضرورت دے ـاو وي به هم ـ ځکه چې وېنا د ترسيل په باب کښې د ټولو نه لويه او غوره ذريعه ده ـځنګه چې د ژبې يا وېنا په پېژندګلو کښې مونږه وايو چې ژبه د خپلو خواهشاتو ،احساساتو او جزباتو د اظهار ذريعه ده ـ هم دغسې اظهار رائے هم ،په سياسي ډول دغځه معنا لري ـچونکې په پاکستان کښې جمهوريت دے ـاو جمهوريت د اولس حکومت ته وائي ـنو لهذا چې څۀ د اولس په من کښې وي ـ هغه به کېږي ـپه جمهوري طرز حکومت کښې د اظهار رائے ازادي ده ـخو د بده مرغه دلته داسې نه کېږي ـبدو ته بد نه شې وئيلې ـحکومتي چارواکو ځانله خپل خپل خبريال پېدا کړې او د حکومت په حواله هغه څه وائي ـڅه چې ورته دوئ وائي ـپاتي قام اولس شو ـنو د اولس خبره دلته هډو څوک اوري نه ـاو نه اولس د يرې نه خبره کولې شي ـاو که خبره يې وکړه نو بيا د خپل مرګ ورځې شپې شماري ـځکه چې د دې وطن حکومت او قانون د څه شان سره

ketabton.com - The Digital Library

سم نه دے ـ اوس چې څوک د حکومت په حقله خبره کوي ـ نو خامخا به کفر کوي ـ او چې کفر کوي ـ نو بیا به یې دا پورته حال وي ـ وائي چې

چـــې د خـــپـــل وران وطـــن پـــه حـــال ژړېــــږم
مـــاتـــه واکـــدار د وطـــن داســـې وائـــي
هســـې مـــکـــرے د ځـــانـــه مـــه جـــوړوه[17]

په دې کښې چې څومره ستونزې او بد حالي ده ـ هغه د دې یوې مسلې نه پېدا شوې ده ـ که چرته د اظهار رائې په حقیقي معنو کښې او په عملي توګه ازادي وے ـ نو بیا به هر څوک د حقیقت نه خبر وو ـ سیاسي شعور به وو ـ قامي بېداري به وه او دا حال به نه وو ـ

## معاشي وجوهات :

د هر ذي روح د ټولو نه وړمبے ضرورت خوراک څښاک دے ـ هر کله چې بنده په خېټه موړ نه وي ـ نو د هغه نه د څه طمع کول عبث ده ـ البته ورانې کولې شي ـ یعنې د خپلې لوږې د ختمولو دپاره غلا هم کوي ـ او هر هر څه کوي ـ په مسلمان ملک کښې هم د حکومت د ټولو نه وړمبۍ ذمه واري دا ده ـ چې د اولس د معاش غم به کوي ـ دلته چونکې معاشي خوشحالي هسې خوب لیده دي ـ نو راځئ چې وجوهات یې په ډاګه کړو ـ

1. **روزګار** : انسان خدائے تعالي محنت او مشقت له پېدا کړے دے ـ او انسان هم دې ته غاړه ږدي ـ خو کله چې هډو کار روزګار نه وي ـ نو څه به کوي ـ زمونږه په وطن کښې د هیڅ کمے هم نشته ـ خو هیڅ پکښې هم نیشته ـ ځکه چې څه پکښې دي ـ نو هغه واکداران بهر ته وړي ـ د دې له کبله دلته ډېر خلک ډېر سخت ژوند تېروي او ډېر پکښې

ketabton.com - The Digital Library

مسافر شوي هم دي ـ دلته که د چا لږه ګوزاره کېږي ـ نو هغه هم د خپلې ځمکي ،کرکروندې او سخت مشقت ثمره ده ـ ګنې د حکومت نه طمع قطعې شوې ده ـ که د چا خپله زمکه هم نه وي ـ او داسې څه روزګار يې هم نه وي ـ نو هغوئ په دې مجبوره وي ـ چې د رزق پېدا کولو دپاره پردي وطن ته لاړ شي ـ محمد الياس الياس دې معاشي بحران ته داسې اشاره کړې ده ـ

په وطن کښې د روزګار دومره کمے شو
د ډوډۍ دپاره خلقو بچي خرڅ کړل
تنګدستي دغه غربت سړے خفه کړي [18]

زمونږ په وطن کښې اولس چاړا او واکدار بې احساسه دي ـ نه په مونږ کښې د خپل حق د غوښتنو شعور شته او نه په واکدارانو کښې د ضمير څه نخښه په نظر راځي ـ د دې له کبله مونږه اولس د حکومت په ځاے يو بل ته پښې اړامې کړې دي ـ ضرورت دا دے ـ چې مونږه ټول غاړه غړۍ شو ـ خو باوجود د دې که زمونږه يو ورور خړ سېلاب اخستې وي ـ نو مونږه يې صرف او صرف تماشه کوو ـ

څنګه به په دغه خاوره امن شي
دلته د غريب چې حق تلفي کېده
ډېرو ورته چينګه خوله نيولې وه [19]

لهذا چې خوراک څښاک وړومبے ضرورت دے ـ او دا ضرورت د وخت حاکم نه پوره کوي ـ نو اولس هر رنګه جرم ته تيار دے ـ او چې خبره د جرم او بد عنوانۍ شوه ـ نو د امن دې ببړه غرقه شي چې راځي ـ خو بس بد امني ښه ده کنه ـ

ketabton.com - The Digital Library

2. **حق تلفي** : ریاست قانون وي ـ او اولس د هغې منونکے وي ـ خو ریاست هم د عوامو د خېر ښېګړې دپاره وي ـ په ریاست د اولس حقوق وي ـ او دغه حقوق د حکومت وقت ذمه واري ده چې هغه پوره کړي ـ په هغې کښې د صحت ،تعلیم ،روزګار ،د مال جان حفاظت د اظهار رائے او تګ راتګ ازادي ،ملکیت ،شناخت او داسې یو شمېر حقوق دي ـ چې هغه د اولس له اړخه په حکومت فرض دي ـ د دغو په جواب کښې نه د صحت څه سهولت شته نه د تعلیم هغه معیار شته ـ کوم چې پکار وي ـ د اظهار رائے خو پکښې په حقیقت کښې تصور هم نشته ـ که څوک څه خبره کوي ـ نو هغه هم نیمګړې او په اشاره کښې کوي ـ که د ملکیت خبره شي نو هم به ژړا درشي ـ ملکیت د اولس دے ـ او مزې پرې اعلي چارواکې کوي ـ

که کوئله ده که زمرود دي ـ او که ونې بوټي دي ـ دا ټول د حکومت په ولقه کښې دي ـ تاسو سوچ وکړئ ـ دا زبردستي نه ده ـ زما خپل ملکیت دے او زه یې خواته نه سم ورتلې ـ حکومت چې یې وړي ـ نو څه راکول خو پرېږده چې د سپي په نظر راته هم نه ګوري ـ نو ایا زه به احتجاج نه کوم ـ

چې خوار غریب پکښې بې برخې وینم
چې پښتانه پکښې لوټ کېږي زما
دا د سیالۍ تالان به څه یاد کړمه [20]

که د شناخت او ژبې خبره وکړو ـ نو دا هم هسې سیند ته متیازي کول دي ـ زه که د پښتون د شناخت په حواله ووایم نو زه صرف پخپله ځان پېژنم چې زه پښتون یم ـ حکومت ما نه پښتون ګڼي نه مې پاکستانے ګڼي او نه مې نور څه د سړي بچے ګڼي ـ که مونږه دا ووایو چې زمونږه قومي ژبه اردو ده نو دا هم هسې برائے نام ده ـ په یو شمېر ادارو کښې د انګرېزۍ رواج دے ـ چې قومي ژبه هم د ادارو او سرکاري ژبه نه ده ـ نو زه پکښې د پښتو تصور څنګه اوکړم ـ

ketabton.com - The Digital Library

تعلیم هم په انګرېزۍ کښې ډېر او په اردو کښې کم دے ـ زما د دې نه بله لويه بربادي څه کيد ے شي ـ چې زه په هغه ژبه کښې تعليم کوم کوم چې نه خو قومي ژبه ده ـ او نه پرې ھلږو پوهېږم ـ ايا اوس هم د امن امېد کول پکار د ے ھلږو نه ـ ښه زبردست بغاوت پکار د ے ـ

3. ګراني : په دې خاوره رياست د مور نه بلکې د ماري کردار لوبوي ـ هسې په نوم رياست حکومت او جمهوريت د ے ـ خو په اصل کښې د عوامو د غوښو خوړو ته چل د ے ـ که څوک سرکاري نوکر وي ـ نو د هغه تنخوا دومره کمه او د ژوند ضروريات دومره ګران وي ـ چې په هغه تنخوا د هغه لس ورځې هم ګوزاره نه کېږي ـ په دې وطن کښې هر څه دومره ډېر دي ـ چې زمونږه مشران پرې په امريکه او لندن کښې مزې کوي ـ دا زمونږ د وطن د شتمنۍ ثبوت هم د ے ـ او زمونږ د واکدارانو اصليت هم ښکاره کوي ـ دا حکومت خو اول مونږ له څه راکوي نه بلکې مونږ راشوکوي ـ او که راکوي هم نو هغه هم د څه نه خالي نه وي ـ په نن سبا کښې چې د غنمو ورځې دي ـ او د پنجاب نه کوم غنم راغلې دي ـ او ارزان خرڅېږي ـ نو دا څه د اسمان نه راغلي دي ـ بيا دا داسې د ښې ښځې ځامن دي چې مونږ له يې ارزان راکوي ـ اصل خبره داده چې دوئ يې ذخيره کړي ـ او چې کله ګران شي ـ يا ورته خرابېږي ـ نو بيا يې خرڅوي ـ والله عليم ـ خو په لاره راته يو مشر وئيل په دې غنمو کښې سپګۍ هم دي ـ په دې حال کښې به هم حکومت د اولس نه څه طمع کوي ـ چې دا حال وي نو څوک به پرامن شي ـ سوال نه پېدا کېږي ـ

فـــارامـــــي چــــرګـــــان د زرو نـــــه پــــه بــــره
د پـــــتېــــرولــــو نــــرخ د درې ســــــوه دپـــاســــه
ســــتــونــزې دا د مــعــيشــــت ســــړے خــفــه کــړي [21]

په دې وطن کښې ګزران دومره ګران شوے د ے ـ چې که چاته په بل ملک کښې د سر سور ے مېلاو شي ـ نو بيا د مور او پلار نه هم خوږ وطن پرېږدي او بيا ورته واپس راتلو ته جوړ هم نه وي ـ ولې چې ـ

ketabton.com - The Digital Library

وېـــمــــه چـــې نـــه تـــلـــې د پــــردي وطـــن نـــه
مســــــافــــرۍ تــــه مـــې زړه بــــېـــرتـــه روغ شــــــي
پــــه خـــپـــل وطـــن کښـــــې چـــې ګـــرانـــي يـــاده کـــړم[22]

4. فرق او زياتے : دلته د محنت کش او بامشـقت خلقو سـره ډېر ناروا سـلوک کېږي ـ کوم خلق چې کر کرونده کوي ـــ درست کال په پټو کښې خړ پړ او په خولو کښې لت پت لګيا وي ــ او چې کله فصل خرڅوي ــ نو هغه پرې ستومانه وي ــ بيا وائي چې خرڅ يې کړم او که سيند ته يې واچوم ــ ولې چې هغه څومره محنت کړے وي ــ د هغې صيله ورته نه مېلاوېږي ـ ځکومت يې ترې په داسې بيعه واخلي لکه چې هسې يې ترې واخلي ـــ او بيا يې پرې دومره ګران خرڅوي چې د اخســتو هم نه وي ــــ يعنې د هر اړخ نه د خواري کښـــو او زمېدارانو استحصال کېږي ـــ که د مزدور خبره شي ـــ نو اول خو د سرکار د اړخه کار نه وي ـــ که چرته داسې يو کار نيم مېلاو شي ـ نو اول د هغې روپو نه سياسي واکداران خپل جېبونه ډک کړي ـ بيا ترې ټيکداران پټې کړي ـ دغسې دا عمل رارروان وي ـ او په اخر کښې ترې مزدور ته هيڅ پاتې نه شـي ــــ د مزدور په دې درد او بدقســمتۍ محمد الياس الياس د غم اظهار کوي او ملګرتيا يې هم کوي ـ

اوښـــــکـــو مـــې د ســـــتـــرګـــو د وطـــن مـــزدور تـــه وژړل
نـــور چـــې فـــکـــر ونـــه کـــړې ،زه ســـــتـــا مـــلـــګـــرے کـــېـــږمـــه [23]

3 : اخلاقي يا ټولنيز : که مونږه د حکومتي ادارو او د معيشت د ستونزو نه مخ راواړوو نو په اخلاقي لحاظ سره زمونږ په ټولنيز ژوند کښې هم څه کوتاهۍ دي ـ دا کوتاهۍ او خامۍ مونږه پخپله په انفرادي توګه پېدا کړې دي ـ په دې سبب زمونږ روزمره ژوند د ډېرو ستونزو او کشالو سره مخ دے ـ که حکومت او قانون هر څنګه وي ـ خو مونږه پخپله هم د ښې ورځې

ketabton.com - The Digital Library

ارزومند نه یو ـ که چرته مونږه پخپل ټولنیز ژوند کښې د خلوص صدق او انسانیت نه کار اخستې نو زمونږ به هیڅا ته هم ضرورت نه وو ـ لهذا ـ

که د وجـــود رنـــځـــوري وي نـــو وي دي
خـــو چـــې ټـــولـــنـــې لـــه نـــاســـور جـــوړيـــږي
د اخـــلاقـــي رنـــځـــور عـــلاج پـــکـــار دے [24]

اول ځان دے او بیا جهان دے ـ تر څو پورې چې مونږه خپله اخلاقي روزنه نه کړي ـ نو تر هغې پورې د خوشحالۍ امېد عبث دے ـ که هر څومره هر څه ډېر وي خو اصل خوشحالي د اسبابو نه بلکې د یو بل سره د ناستې ولاړې ،یو بل له عزت ورکول ،د یو بل سره ښېګړه کول ،غم ښادي پالل او د یو بل سره د انصاف کولو نه پېدا کېږي ـمحمد الیاس الیاس د بد امنۍ په وجوهاتو کښې په ټولنیز عاداتو نظر اچوي او د هغې د اصلاح کوشش کوي ـلاندې ځانله ځانله ذکر شوې دي ـ

1. **شعور او بېداري** : په انسان کښې د ټولو نه لویه خوبي د اګاهۍ او احساس ده ـ تر څو چې بنده ته د یو څه په حقله په څه حواله احساس نه وي شوے ـنو هغهٔ د هغه څیز په باب کښې ړوند کوڼ وي ـ هر کله چې څوک د ښهٔ ،بد او وړ پړ تمیز ونه کړي نو د څاروو په صف کښې ودرېږي ـاو چې د حېوان په سېر شي نو چې بیا یې څوک کوم خوا ته راکاږي ځي ورپسې ـدا شعور د نېکۍ بدۍ ،ازادۍ ،د خپل حق د تپوس اتفاق او داسې نور صورت کښې کېدے شي ـکه مونږه ځان ته فکر وکړو نو مونږه د دې ځانګړنو نه کنګال یو ـ

په مونږ کښې که څوک د سامراج د ظلم و جبر ښکار شي نو مونږه په ځان غوږونه راواچوو ـچې څه ماته خو خبر دے او دا بل خبر دے ـزه خو بچ یم کنه ـدا ډېر ناقص سوچ دے ـچې نن په ما

ketabton.com - The Digital Library

ده نو سبا په تا ده ـ که مونږه صرف دغسې د يو بل تماشه کوو نو هم دغسې به يو ـ ورکېږو به ـ او هم دغسې به د مرګ لاره څارو ـ

ځنګه به په دغه خاوره امن شي
دلته د غريب چې حق تلفي کېده
ډېرو ورته چينګه خوله نيولې وه[25]

مونږه ټول د يو وجود په مثل يو ـ که هر څوک ځانله ځانله په سوړه سر ننباسي ـ نو يو سړے به هم سر راپورته نه کړي ــــ دا دنيا د شرافت ځاے نه دے ــــ دلته به د خپل حق د پاره قربانۍ ورکول وي ـ او بل ته خپل حق پرېښوده بې غېرتي ده ـ په خاصهٔ توګه دې حکومت ته ـ دا حق حاصلول د دې د پاره کوشش کول او دا ګڼل چې زما هم څه حيثيت شته ــــ دې ته شعور وائي ـ محمد الياس الياس داسې خلقو له زېرے ورکوي ـ

چې حق غواړے د باطل نه کوے څنډه
نابينا نه يې بينا يې مبارک شه [26]

د بنده وړومبۍ بربادي او غم د خپله ځانه شروع کېږي ــــ تر څو چې په خپل ځان کار نه وي شوے نو داسې سر وهلي بر وهلي به ګرځو ـ

دلته خوښ دے په تيارو دا بې ضمير خلق
دلته څه بل شانتې رڼا ده امن چرته پرېږدي [27]

ketabton.com - The Digital Library

خلق وائي چې د تعليم په ذريعه په بنده کښې شعور راځي ـ دا حقيقت هم دے ـ خو دې ته د يو ښه تربيت ضرورت هم دے ـ په تور تکي ځوک نه باشعوره کيږي ـ چې يو کيلو علم وي نو يو من ورله عقل پکار وي ـ عقل و تربيت د مشرانو ،عالمانو ،پوهانو او مور پلار نه زده کيږي ـ مونږه خو تر دې حده رارسيدلي يو ـ چې مشرانو ته وايو ـ ځه مړه ته په څه پوهيږې ـ او که نن سبا مشرانو ته نظر وکړو نو اکثر پکښې ډير په قهر اخته هم شته ـ خو بيا هم سور ګيرے شاګل نه وي ـ دا زمونږ د تعليم حال دے ـ

ماته راياد شي د ګنجي نوکونه
ځيني کم ظرفه چې خواند وينم
د دير نوابه ستا خاني ياده کړم [28]

د دير نواب نه غوښته چې په دې خلقو کښې دې شعور راشي ـ ولې بيا د هغۀ د ظلم او زياتي نه ډکې نوابۍ ته خطره وه ـ د دې له کبله د هغه په نوابۍ کښې چا تعليم نه شو کولے ـ محمد الياس الياس د هغه د خانۍ او نوابۍ ځکه ارمان کوي ـ چې نن سباني خوانده د پخوانو جاهلانو نه هم زيات جاهل دي ـ په خاص ډول زمونږه پښتانه چې لږ خوانده شي ـ نو د ټولو نه وړاندې خو د خپلې ژبې بد شروع کړي ـ بيا په خپل جامه پيزار کښې رنګ رنګ چلونه شروع کړي ـ بيا په خپل دين نيوکې کوي ـ او داسې چې ځومره ترې کيدے شي ـ نو مخ په وړاندې پسې روان وي ـ که د سياست موضوع راواخلو نو په کور کښې ورکره د يو وخت ډوډۍ نه وي ـ او د فلانکي صفت به کوي ـ ته به وائي ـ چې دا يې پلار دے ـ د سياسي اختلاف له کبله د يو بل سره بغض ساتو ـ يو بل ته کنځل کوو ـ يو بل ته کافر وايو د يو بل سره تعلقات پريږدو ـ او د يو بل ګريوانونو ته لاس اچوو ـ ايا دا سياست دے ـ دا څه انسانيت دے ـ

ketabton.com - The Digital Library

چــې لــړ پښــــتــون قــام تــرې عــبــرت واخــلــي
د بــې نــنــګــۍ ســوچ مــې ســـــنــګســـار کــړۍ خــلــقــه [29]

چې مونږ په خپلو کښې په دې حال يو ـ نو ښکاره خبره ده چې داسې به مو مشران هم وي ـ ځکه چې څنګه ژرنده وي هم هغسې يې دوړه وي ـ بس ضرورت د دې خبرې دے چې ـ

تــر څــو بــه ويــنــه مــو تــوئــېــږي بــې خــبــره بــه يــو
پښــــتــانــه وېښ کــړۍ ځــان بــېــدار کــړۍ خــلــقــه [30]

2. **ټاکنه** : دا دنيا د انتخاب ځائے دے په هر ډګر د خوښ او ناخوښ ضرورت پېښېږي ـ الله تعالي هم انسان دې له پېدا کړے دے ـ چې په انسان ازمېښت وکړي ـ چې بنده د نېکۍ او که د بدۍ انتخاب کوي ـ انتخاب يو کوټلے حقيقت دے ـ هر څيز دوه روخه لري ـ هم دغسې د انتخاب ضرورت پېښېږي ـ دلته د دې انتخاب نه مطلب د ملک د بادشاه ټاکنه ده ـ چونکې دلته جمهوريت دے ـ او په جمهوريت کښې د ټاکنو په ذريعه د ملک بادشاه وزيراعظم جوړېږي ـ چاته چې څومره رائے حاصل شي ـ هغه تخت سنبالوي ـ دا ټاکنه عوام کوي ـ او جمهوريت هم د عوامو حکومت ته وئيلې شي ـ که مونږ د دې په حواله خپل نفسيات وځېرو نو لنډه دا چې اول خو بې شمېره خلقو د مشرۍ بېرغ هسک نيولے دے ـ په ټک به اګاه نه وي ـ او څلورويشت کروړه عوامو مشرۍ ته به تيار وي ـ بيا چې اولس له خبره راشي ـ نو هغوئ پخپله دومره بې اتفاقه او مغروره وي ـ چې څوک د چا او څوک د چا ملګرتيا وکړي ـ نو يو هم د مشرۍ څوکۍ ته وونه رسېږي ـ او دا اولس په خاصهٔ توګه پښتون قوم د ټولو نه وړاندې دا خطا کوي چې د خپلې صوبې يا کلي کور سړے نه کاميابوي ـ او چې څوک لري په ځان مشر کړي او بيا هغهٔ ورله رارسي رارسي نو هغه پښې اګرې ته کړې وي ـ دا ولې ځکه چې ـ ـ

ketabton.com - The Digital Library

چــې څــه کــرې هــغــه بــه رېــبــې دا يــې نــه مــنــل
بــد عــمــلــۍ کښــې غــريــب ســر اوخــوړو
د نــيــوټــن درېــمــه قــيصــه ټــيــک وخــتــه [31]

محمد الياس په يو بل شعر کښې د پښتنو دې بد خويۍ ته اشاره کوي او د مايوسۍ اظهار کوي ـ

اوګــورئ پــردو پســې روان دي ټــول
زه پــه خــپــل اولــس کښــې پــريشــان يــمــه [32]

بيا چې څوک بادشاه شي نو د مخالف پارټۍ خلک يې بد وائي ـ او چې کله يې د خپلې پارټۍ سړے په تخت وخېژي ـ او هغه هر څه کوي ـ نو هغه ورته بيا نه ښکاري ـ دا نن سباني حالاتو تجزيه هم ده ـ

مــخــکښــې هــغــه نــور او اوس دا نــور وائــي
بــس خــو چــې بــاچــا پــکښــې زمــونــږه وي
خــبــر دے کــه لــېــټــر پــټــرول د زرو شــي[33]

په تېر حکومت کښې چې په پاکستان کښې څومره ګراني وه ـ دومره ګراني چرته د پاکستان په تاريخ کښې هم نه وه راغلې ـ او چې چا به څه وئيل نو د مزکوره پارټۍ خلقو به بد ګڼل ـ چې کله دغه حکومت په نيمه کښې ختم شو ـ او بل حکومت راغې ـ او هغوئ پسې ګراني لږه نوره هم سېوا کړه نو بيا د هغې تيرې پارټۍ خلق بېدار شو ـ چې دا خو ګراني شوه ـ هم دغسې

ketabton.com - The Digital Library

حکومت په مونږه رنګ رنګ چلونه زده کوي ـ مونږه حکومت او اعلي چارواکو ته هيڅ نه وايو خو د يو بل ګريوانونه ښه په نره شلوو ـ له دې کبله چې په پښتنو کښې څومره هم باشعور او لوئے خلق پيدا شوے ـ نو د پښتنو نه يې سر ټکولے ـ لکه چې محمد الياس الياس ترې هم زړۀ موړ دے ـ

دوئ چـــې ســـــنـــدرې اوس د نـــورو وائـــي
دوئ چـــې روان دي اوس پـــه نـــورو پســـــې
پښـــتـــون پــه څــه افــغــان پــه څــه يــاد کــړمــه [34]

3. ټګي : زه به تاسو ته کومه کومه وايمه زمونږ نه شرمخان جوړ شوې دي ـ چې څومره هم مرداري په لاس راځي ـ نو ډډه ترې نه کوو ـ چې څومره مو هم وس کېږي نو د بل غوښو ته مو سترګې خړې وي ـ دا هر څه اکثر د اخستلو خرڅولو په معامله کښې کېږي ـ زمونږ نه د شعيب قوم جوړ شوے دے ـ که چا باندې څه خرڅوو نو په تول کښې کمے کوو ـ چې پخپله ترې څه اخلو نو هغه ترې ارزان اخلو ـ او بيا د ټولو نه لويه بې انصافي زمونږه دا ده ـ چې هغه څه خرڅوو چې هغۀ د اخستو لائق نه وي ـ او چې بيا پرې کله د محمد الياس الياس غوندې سړے واوړي ـ نو بيا خو راشه که تود ېږې ـ

پـــه مـــا دې ســـخـــا ټـــمـــاټـــر مـــه خـــرڅـــوه
ســـتـــا نـــاروا تـــه روا څـــنـــګـــه ووېـــم
د پـــلار کـــنـــډر کښـــې خـــودې نـــه يـــمـــه نـــاســـت [35]

چې داسې دې وکړه جو بيا صفا جګړه ده ـ د دې نه علاوه چې د روژې مبارکې مياشت راشي ـ نو نرخونه دومره وخېژي ـ سړے وائي ـ شکر دے چې روژه ده ـ داسې زمونږ په هرې طبقې

ketabton.com - The Digital Library

کښې دا سې خلق شته . که د ټولنې د ټولو نه اعلي او نېک خلق هم راډاګي ته کړو .نو هغوئ هم ضمير خرڅ کړے .په دې حواله زه په ځان فتوي لګول نه غواړم خو بس د محمد الياس دا يوه هائيکو کافي ده .

ډېر حکايات يې تاو راتاو کړه ورته
ملا وې دا سړے ولې سړے دے
ما وې تپوس وکړئ مالدار خو نه دے [36]

4. **کينه او بغض** : کله چې بنده په خپل ذات کښې يا د خپل ذات نه په امن وي .نو نور چاپېرچل پرې هم ښه لږي .ذات ذهن او زړه دے .هر کله چې په ذهن او زړه کښې مثبت خيالات او جزبات وي .نو بنده خوشحاله وي .په دغه مثبت خيالتو او جزباتو کښې کينه نه کول هم وي .کينه يا بغض چاته په زړه کښې څه ساتل يا د چا نه نفرت کولو ته وائي .کله چې څوک د چا سره کينه يا بغض ساتي نو هغه پخپله خپل ځان ته زيان رسوي .ولې چې کينه نور هيڅ هم نه شي کولے خو چې کوم يو سړے يې کوي هغه خوري .

دا چې د بل په خوشحالۍ سوزي
زه ورته ګوته په خوله ځکه يمه
تر اوسه څنګه ايره شوے نه دے [37]

کينه يو سړے په زخکمي توګه زخمي کولے شي .خو دا هم دومره خبره نه ده .ځکه چې کينه يو ډېر بې خونده خوئې يا عمل دے .که څوک د خپلې کينې يا بغض نه مړ هم شي نو خبر دے .

ketabton.com - The Digital Library

خو کله کله دا کینه ډېر شدت اختیار کړي ـ کله کله دا کینه په زړه کښې پاتې نه شي ـ بلکې بهر راوځي ـ او نور خلک د ځان سره وسېزي ـ

پـــوهـــه يـــو خـــو بـــيـــا هـــم پـــوهـــه نـــه شـــو
يـــو بـــل مـــو پـــه يـــو بـــل بـــانـــدې مـــړ کـــړلـــو
اوس هـــم دا بـــې خـــونـــده قـــيـصـــې اورمـــه [38]

يعني دغه کينه چې صرف يو احساس دے ـ يو عملي صورت اختيار کړي ـ او بل ته هم زيان ورسوي ـ کيدے شي ـ چې په نورو قومونو کښې هم خلک د يو بل سره بغض کوي ـ خو پښتانه په خصوصې ډول د يو بل سره بغض کوي ـ د يو بل ښه ورځ نه شي زغملې ـ که يو تن له خدائے څه لږ غوندې دولت ورکړي ـ نو اول د تره د ځامنو سره دښمنۍ ته لاس واچوي ـ او دد تره ځامن يې هم په دې خفه وي ـ چې هغه له خدائے دا دولت ولې ورکړو ـ په پښتنو کښې ډېرې خامۍ دي ـ خو د بغض هومره لويه پکښې يوه هم نشته ـ پښتانه د پرمختګ او خوشحالۍ نه خپلو تندو او نيتونو ويسته ـ ځکه محمد الياس د امن او خوشحالۍ د ژوند تېرولو دپاره د مينې درس ورکوي ـ او د دې بدرنګه خويې غندنه کوي ـ

د زړه نـــه خـــبـــرې لـــر کـــول بـــه غـــواړي
کـــه پـــه ژونـــدون کښـــې خـــوشـــحـــالـــيـــانـــې غـــواړې
پـــکـــار ده چـــې ډډه د کـــيـــنـــو نـــه وکـــړئ [39]

ketabton.com - The Digital Library

# حوالې

[1] الیاس محمد الیاس ،فکر مې سندره شوه ،۲۰۲۳،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۱۸
[2] القران ،پاره۳،ایت ۲۵۶
[3] الیاس محمد الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم ،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ ۱۰۵
[4] هم دغهٔ اثر ،مخ ۱۰۳
[5] الیاس محمد الیاس ،فکر مې سندره شوه ،۲۰۲۳،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۴۴
[6] الیاس محمد الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم ،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ ۲۳
[7] هم دغهٔ اثر ،مخ ۲۴
[8] هم دغهٔ اثر ،مخ ۵۲
[9] هم دغهٔ اثر ،مخ ۸۴
[10] هم دغهٔ اثر ،مخ ۵۴
[11] الیاس محمد الیاس ،د رڼاګانو رنګونه ،۲۰۲۳ ،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۴۷
[12] الیاس محمد الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم ،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ ۴۷
[13] هم دغهٔ اثر ،مخ ۷۰
[14] الیاس محمد الیاس ،د رڼاګانو رنګونه ،۲۰۲۳ ،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۲۱
[15] الیاس محمد الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم ،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ ۹۷
[16] هم دغهٔ اثر ،مخ ۴۹
[17] هم دغهٔ اثر ،مخ ۲۲
[18] هم دغهٔ اثر ،مخ ۲۲
[19] هم دغهٔ اثر ،مخ ۵۰
[20] هم دغهٔ اثر ،مخ ۱۰۳
[21] هم دغهٔ اثر ،مخ ۲۴
[22] هم دغهٔ اثر ،مخ ۸۱
[23] الیاس محمد الیاس ،فکر مې سندره شوه ،۲۰۲۳،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۸۲
[24] الیاس محمد الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم ،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ ۸۱
[25] هم دغهٔ اثر ،مخ ۵۰
[26] الیاس محمد الیاس ،د رڼاګانو رنګونه ،۲۰۲۳ ،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۴۳
[27] هم دغهٔ اثر ،مخ ۳۰
[28] الیاس محمد الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم ،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ۸۱
[29] الیاس محمد الیاس ،د رڼاګانو رنګونه ،۲۰۲۳ ،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۹۲
[30] الیاس محمد الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم ،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ۸۸
[31] الیاس محمد الیاس ،د رڼاګانو رنګونه ،۲۰۲۳ ،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۱۲۷
[32] الیاس محمد الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم ،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ۶۰

ketabton.com - The Digital Library

---

33 همدغۀ اثر ،مخ ۱۰۲
34 همدغۀ اثر ،مخ ۷۱
35 همدغۀ اثر ،مخ ۸۳
36 همدغۀ اثر ،مخ ۸۹
37 همدغۀ اثر ،مخ ۷۸
38 همدغۀ اثر ،مخ ۸۵
39 همدغۀ اثر ،مخ ۸۷

ketabton.com - The Digital Library

# ثلورم باب :

# متفرق موضوعات

ketabton.com - The Digital Library

**د خدائے او رسول مینه** : د محمد الیاس الیاس شاعري یو شمېر موضوعات لري ـ خو هره موضوع یې د صوفیت په لباس کښې ملبوس ده ـ د دې نه علاوه یې په ځانګړي ډول هم په غزل ،نظم ،حمد او نعت کښې د الله تعالي او د دواړو جهانو د سردار حضرت محمدﷺ ثنا صفت کړے دے ـ د خپلې مینې اظهار یې هم کړے او د خپلې مینې د ثابتولو کوشش یې هم کړے دے ـ ځکه خو د سکون په حواله تعلي هم کوي او وائي ـ

د سکون چغې د عشق لمبو کښې پټې
په دنیا پسې په منډه نه مونده شي
داستانونه به د عشق بېرته تازه شي
د الیاس غوندې که هر سړے بنده شي [1]

د الله تعالي او حضرت محمد مدح هم کوي ـ خو د دې سره سره مونږ ته څه سبق هم راکوي ـ لکه د دې وړاندې قطعې پشان په دې قطعې کښې هم وائي ـ

که نازونه د بې نیازه جانان یوسې
ډک د نور په رڼایۍ به دې عقبې شي
که د ځان د معرفت طلب دې وکړو
معرفت به دې نصیب د لویې الله شي[2]

د خپل رب صفت له د وحدت شعور رنګ داسې ورکوي ـ

ketabton.com - The Digital Library

ذات کښې یکتا دے عقیده ده زما
خو چې خبره د صفاتو راشي
په هر اړخ راته جانان لیده شي[3]

چرته چې د الله تعالي ذکر کېږي نو په څه نه څه حواله د پېغمبر ذکر هم کېږي ـ محمد الیاس الیاس د پېغمبر د صورت مبارک په حواله لیکي ـ

اول جوړ مې تصور کښې ستا تصویر کړو
بیا مې خیال د مصور ورته راویخ کړو
رنګینۍ د درست جهان مې کړې راټولې
خو رنګونه د رخسار دې پوره نه شو[4]

د خوږ نبي حضرت محمد ﷺ سره د مینې په حقله خدائے ته مخاطب دے او وائي ـ

دواړه یو ځائے مې په زړه کښې رازرغون شو
اوس علاج به مې د غم که د مستۍ کړم
د حجاز د ټولو اسباب هم راله راکړه
چې مئین دې په دا هسې رنګ هستۍ کړم [5]

د پېغمبر د راتګ او د هغه د ذات و صفات په حواله په هائیکو نما نعت کښې په تفصیل سره خپل نظر شریکوي ـ

ketabton.com - The Digital Library

په مدینه کښې دومره خوند به نه وو
دا چې رونق دے دغه ستا برکت
دنیا به نه وه که ته نه وے نبي

ښه وه چې تا وحدانیت بیان کړو
د خدائے په کور دننه شرک کېدلو
دا سلسله به همېشه وے نبي

ستا په راتګ شوه منوره دنیا
لونه د شرمه به ژوندۍ ښخېدې
خدائے خبر څو به دا تیاره وے نبي

خپر دے که لري وے د خپل وطن نه
ستا د روزې په خوا کښې ژوند وے زما
څومره به ښه څومره به ښه وے نبي

ketabton.com - The Digital Library

دې کښــــې ګـنــاه نشـــتــه ارمــان دے زمــا
خــيــال کښــــې الــيــاس هـم چــرتــه يــو ځــلــې
لــکــه حســــېـــن دې پـــه اوږه وې نـــبــې [6]

## مناجات :

"د مناجات لفظي معنا دعا ،عرض ،التجا ،سرګوشي ،په رازونياز خبرې کول ،طلب نفرت ،فرياد ،طلب فېضان او په ادبي اصطلاح کښې هغه نظم ته وائي ـ چې پکښې د خدائے تعالي تعريف او د خپلې عاجزۍ څرګندونه وکړے شي ـ او دعا ترې وغښتې شي"[7]

مــاتــې د خــوږ زړګــي نــغــمــې مــې نــه کــړې
ګــل مــې کــړه ګــل مــې کــړه ســــپــرلے مــې نــه کــړې
اســــره مــې هــر ځــاے کښــــې پــه تــا کــړې ده
چــرتــه پــه ژونــد کښــــې بــې اســــرې مــې نــه کــړې [8]

د دعا او توبې مثال څه دا رنګې راوړي ـ

ورتــه ســــپــېــره تــنــدے کــه ټــيــټ مــې نــه شـــو
هــغـــه دې خـــدايـــه کـــعـــبـــه نـــه ګـــڼـــمـــه
کـــه ســـتـــا يـــې عـــرش پـــه ړقـــېـــدلـــو نـــه کـــړو
دغـــه تـــوبـــه مـــې تـــوبـــه نـــه ګـــڼـــمـــه [9]

ketabton.com - The Digital Library

د محمد الیاس الیاس په شاعرۍ کښې د مناجاتو ګڼ مثالونه شته ــــ خو د مناجات په باب کښې د هغه یو شاهکار نظم د "دعا" په عنوان رانقل کوم .

په دنیا کښې ربه راکړې
د عیسي غوندې مکان

په هوا مې رخت روان کړې
لکه تخت د سلېمان

سوچ سمجه پوهه زما
برابر کړه د لقمان

اسماعیل غوندې له تانه
تن بدن زما قربان

ketabton.com - The Digital Library

ابراهيم غوندې په اور کښې
راته جوړ کړه ګلستان

رنګينۍ د سپرلي راکړه
په موسم کښې د خزان

د قارون غوندې مال راکړه
سخا راکړه د عثمان

عمر لويې د خضر راکړه
په طلب کښې د جانان

ماته وښايه خالقه
خپله لاره د عرفان

ketabton.com - The Digital Library

د افـــــتـــــاب پـــــه رنـــــگ خـــــدايـــــه
دا زړګـــــے مـــــې کـــــړه روښـــــان [10]

اصلاح : د محمد الياس الياس شاعري که په رڼو سترګو وځېړلے شي ـ نو د هغه په شاعرۍ کښې د قلبي تسکين سره سره په څو څو رنګه د اصلاح ستوري هم ځلېږي ـ څنګه چې په شعر کښې يو کوټلے فکر او څه سبق خوندي کول وي ـ هم دغسې د محمد الياس په شاعرۍ کښې په اخلاقي ،قامي ،سياسي ،مذهبي ،نفسياتي ،صوفيانه او په داسې يو شمېر موضوعاتو کښې په بېلابېل ډول څه نه څه پېغام ضرور وي ـ اصلاح په هره حواله کېدے شي ـ خو د ټولو نه وړاندې اخلاقي اصلاح ده ـ ځکه محمد الياس الياس وائي ـ

کـــــه د وجـــــود رنـــــځـــــوري وي نـــــو وي دي
خـــــو چـــــې ټـــــولـــــنـــــې لـــــه نـــــاســـــور جـــــوړېـــــږي
د اخـــــلاقـــــي رنـــــځـــــور عـــــلاج پـــــکـــــار دے [11]

اخلاق زمونږه هغه ټول انفرادي او اجتماعي کړه وړه دي ـ چې هغه د خېر و شر سبب ګرځي ـ په دغۀ کړه وړه کښې چې د کوم اندام د ټولونه وړاندې عمل دخل دے ـ هغه ژبه ده ـ د ژبې له برکته الله تعالي انسان د حېوان نه ممتاز کړے دے ـ واحد انسان دے ـ چې په هغه د نطق نعمت شوے دے ـ څنګه چې د هر څه دوه اړخه يعني ښه او بد وي ـ داسې ژبه هم ده ـ که يو اړخ ته د دې د عظمت نه انکار نه شي کېدے ـ نو بل خوا ته دې خدائے د دې د شر او فساد نه هم وساته

ketabton.com - The Digital Library

۔د ژبي په غلط استعمال خو داسې ډېر ضرر خورېږي ۔خو د دې نوعیت په څو څو رنګه دے ۔ لکه غیبت ،چغلي ،کنځل ،ردې بدې ،او داسې یو شمېر نور هم ۔

خو ولې په دې کښې د ټولو نه وړاندې او سخت ضرر او خفګان رسوونکے توکے د ردو بدو کنزلو او سپکو سپوو دے ۔ چې مونږه ورته په عامه توګه بداخلاقي وایو ۔ بداخلاقي یا بد کلامي دومره تکلیف ده وي ۔ چې مشران وائي ۔د تورې ګوزار رغېږي خو د ژبې نه ۔ ځکه محمد الیاس الیاس په یو شعر کښې د متل په مدد سره هم دغۀ خیال راوړي ۔

قــــلا ژبــــه دې بـــلا نـــه کـــړې الــــیــــاســــه

کــلام نــه کــوي پــه هــر ځــاے کښــــې هــوښــــیــار [12]

په اخلاقي اصلاح کښې د ژبې نه پس غرور یوه داسې خامي او عمل دے ۔چې انسان زېر و زبر کوي ۔غرور یا تکبر د اخرت نه علاوه د بنده د دنیا ژوند هم پیکه کوي ۔ځکه چې ډېرې مسلې داسې دي ۔چې هغۀ په نرمه او ښه په اسانه حل کېږي ۔خو چې انسان کبرجن وي او خپل جهل بې ونیسي ۔نو هغه ته د لږې نه یږه جوړه شي ۔تکبر د بنده د تباهۍ سبب ګرځي ۔انسان غوندې حقیر له غرور څه پکار دے ۔اول خو دا ده چې دا ژوند په مینه د یو بل سره په ناسته پاسته او د یو بل سره په خېر ښېګړه ښائیسته کېږي ۔او بیا دا چې که یو څوک مغروره شي نو څه به ترې جوړ کړي ۔ ځکه چې دا دنیا د چا د پلار نه ده ۔بلکې یوه ورځ به ترې سره د غرور پناه کېږې ۔ بیا به یې څوک دوه ورځې په کور کښې نه شي ایسارولے ۔زر زر به ورله کفن کوي ۔په دې خړو خاورو کښې به یې ښخوي ۔او هم دغسې یو اځې به پاتي کېږي ۔نه به یې اولاد نه به یې جائیداد نه به یې نوکران او نه به یې خپل خپلوان پکار راځي ۔د دې له کبله محمد الیاس الیاس د رحمان بابا د اثر لاندې لیکي ۔

ketabton.com - The Digital Library

څــه شـــوه چــې غــاوره وو پــه مــال بــانــدې
خــاوره کښـــې پــراتــه دي مــړو تــه وګــوره [13]

ګناه یو داسې عمل دے ـ چې که هغه د هر څه په حواله وي ـ او ډېره وړه دې ولې نه وي ـ خو هغه ګناه وي۔ هغه یوائې په نور دنیاوي ژوند او اخرت نه بلکې زمونږه په وجود هم اثرانداز کېږي ـ مثال په توګه کینه یا بغض داسې خامي ده چې انسان خوري ـ

بــد عـــمـــلـــه بــد کـــردارو تـــه چـــې ګـــورم
پـــه مـــخ نـــه لـــري قســـم دے د څـــیـــر لـــیـــکـــه [14]

د اصلاح په باب کښې محمد الیاس الیاس قامي شعور هم ضروري ګڼي ـ په قامي شعور کښې هم په یو شمېر مسلو بحث کوي۔ په هغې کښې ژبه ،وطن ،سیاسي بېداري ،او د تعلیم درس د ذکر وړ دي ـ د ژبې په حواله مونږه وړاندې خبره وکړه ـ خو هغه د نطق په حقله وه۔ دلته به مونږه په مورنۍ ژبه تبصره کوو ـ ژبه او بیا مورنۍ ژبه د انسان ژوند دے ـ کوم خلق چې ژوندي او د پرمختنګ په ډګر د هر چا نه وړاندې وي ـ د هغوئ د کامرانۍ راز د هغوئ په مورنۍ ژبه کښې پټ دے ـ د هغوئ تعلیمي نصاب هم په خپله ژبه کښې وي۔ او سرکاري او دفتري ژبه یې هم خپله ژبه وي۔

خپله ژبه ځکه ضروري ده ـ چې په بله ژبه کښې څوک هغه شان نه پوهېږي ـ لکه د خپلې ژبې ـ او اکثر په پردۍ ژبه څوک بیخي هم نه پوهېږي ـ لهذا چې څوک په څه پوهه نه شي۔ نو هغۀ به وکړي څه ـ د نورو ژبو زدکړه او بیا په اول وخت کښې ډېره ضروري ده۔ خو د ټولو نه مخکښې

ketabton.com - The Digital Library

پوهه حاصلول پخپله ژبه کښې پکار ده -ولې چې څومره بنده په خپله ژبه پوهېږي -دومره په بله ژبه نه پوهېږي -او ټول کمال په پوهه کښې دے -

ما چې خپله ژبه خپله نه کړه نو
څه رنګه به درون او باکماله شم [15]

او که زمونږه پښتنو ته غور وکړے شي -نو مونږه ساده خلق وايو -په پښتو څه کوې مړه -دا د پښتو دور دے -او چې کله انګرېزۍ ته شي نو بيا خپله پېژندګلو هم نه شي کولے -د دې له کبله خو مونږه د دنيا نه څو صدۍ وروستو يو -يو راله پردۍ ژبه نه راځي -او بل راته خپله ژبه سپکه ښکاري -هر څو که پکښې شپه ورځ خبرې کوو -مونږه پښتانه هم په دې حواله ګرم نه يو -ځکه چې دا د اعلي پائې شعور غواړي -او مونږه زورور په عقل څه کوو -هر څه که ووئيلې شي -او که هر څه دي خو حقيقت داد ے چې ژبه ژوند دے -لکه محمد الياس الياس وائي -

ته چې د بل سندرې وائې ته چې بل يادوې
پښتو دې هېره کړه پښتونه نړيدلې ښه يې [16]

دا داسې ستونزې دي -چې د يوې سره سل نورې هم زېږي -د ژبې د ارزښت نه پس تعليم يا پوهه ضروري ده -تعليم هر هر څه دي -خو دلته هيڅ هم نه دے -دلته چې څوک پښتون خوانده شي -نو اول خو په خپل مذهب رد شروع کړي -بيا خپل روايات هېر کړي -او بيا د هغې ژبې بد شروع کړي -چې دې پرې دغې اعلي مقام ته رسېدلې وي -

ځکه چې که هر څومره تعليم په پردۍ ژبه کښې وکړے شي -خو ولې په هغې د پوهېدو بنياد صرف او صرف خپله ژبه وي -خو بس د بد مرغۍ نه پوهه زمونږه د بد رنګۍ سبب ګرځي -پته

ketabton.com - The Digital Library

نشته چې د دې څه وجه ده ـ زما په خیال خو احساس کمتري ده ـ پښتانه خو اول تعلیم کوي هم نه ـ د هر چا په خیال کښې وي ـ چې سعودي ته به ځم ـ دوبۍ ته به ځم او داسې نور ـ محمد الیاس الیاس د ناخواندۍ په حواله په مونږه سوال پورته کوي ـ

دا په یویشتمه صدۍ مونږه چرته ودرېدو
د چا سره قلم دے د کتاب خبره چا وکړه [17]

لهذا د تعلیم ډېر ضرورت دے ـ په نن سبا کښې خو مزدوري هم بغېر د تعلیم نه نه کېږي ـ اوس اوس د دوبۍ حکومت اعلان کړے دے ـ چې بې تعلیمه خلقو ته به وېزه نه ورکړے کېږي ـ کومو خلقو چې په حقیقي معنو کښې علم او تعلیم حاصل کړے دے ـ هغه په مړینې هم هېر شوې نه دي ـ هم دا خبره محمد الیاس الیاس داسې کوي ـ

که د علم یو مشال دې چرته بل کړو
ته به نه یې ستا به نوم په جهان خور وي [18]

د دې هر څه نه پس یو قوم له پکار دي ـ چې هغه په اتفاق وي ـ یو صرف خدائے دے چې پوره دے ـ باقي انسانانو له پکار دي چې یووالے اختیار کړي ـ په انفرادي توګه څوک هیڅ هم نه وي ـ هر کله چې یو قوم په اتفاق وي ـ نو د ژوند د تمامي ستونزو حل کول اسان وي ـ که هغه په سیاسي ،مذهبي ،ټولنیز او که په اجتماعي ډول وي ـ د دښّمن د اواز نه به هم په امن کښې وي ـ او هم داسې به د ژوند د کشالو نه په ډډه وي ـ د دغې دپاره د اجتماعي شعور ضرورت دے ـ هر کله چې څوک د ځان غوندې بل له هم دا سوچ کوي نو دا اجتماعي شعور وي ـ او کله چې

ketabton.com - The Digital Library

څوک داسې کوي نو پرمختګ او خوشحالي د هغوئ مقدر وي ـ محمد الياس الياس د ا اجتماعي پېغام ورکوي او د ځان ځانۍ غندنه کوي ـ

بـيـا د دنـيـا ســـره پـه تـګ کښــــې بـه تـل پـاتـي راځـې
د خــپــو د لانـدې کــه مــو نــه کـړه د انـا رنــګــونــه [19]

**طب** : څومره څه چې خدائے تعالي پېدا کړې دي ـ دا ټول زوال اړخ ته روان دي ـ الله تعالي په قران مجيد کښې فرمائي ـ

"کل نفس ذائقته الموت "[20]

ژباړه : هر زنده سر به د مرګ ذائقه سخي ـ

لهذا په دغه زوال کښې د رنځونو عمل دخل دے ـ انسان ناروغه کېږي هم او د هغې سره کمزورے کېږي هم ـ او بيا که څه دارو درمل هم وونه کړي ـ نو کېدے شي چې مړ شي ـ د دې دپاره د پخوا نه طب راروان دے ـ وخت په وخت نوي نوي تجربې کوي ـ او نوي نوي دارو درمل جوړوي ـ رنځونه خو بې شمېره دي ـ خو څه پکښې واړۀ او بنيادي دي ـ که د هغې علاج په وخت وونه کړے شي ـ نو هغه د لوېې رنځ صورت اختياروي ـ د دغې رنځونو دواياني او اعمال محمد الياس الياس ښائي ـ

خـــوراک دې کـــم کـــړه ګـــرځـــېـــده شـــــروع کـــړه
کـــه پـــه وجـــود کښـــــې دې غــــټ والـــے راغــــې
پــــکـــــار ده چــــې ډډه د خـــوړو نـــه وکـــړے [21]

ketabton.com - The Digital Library

لویې وجود اکثر د رنځونو کور وي ـ که نه وي هم نو رنځونو ته ډېر اسان وي ـ او ډېر اثر پرې هم کوي ـ څه اعمال لکه زیاته ناسته او څه خوراکونه دي چې د هغې په سبب وجود لوئېږي ـ په هغې کښې خواږه هم دي ـ او په خصوصي توګه مصنوعي ـ محمد الیاس الیاس د غټ وجود نه د بچ کېدلو د پاره ګرځېدل تجویز کوي ـ اوو د خوږو نه ډډه کول ضروري ګڼي ـ هم په دې نظمیه هائیکو کښې وړاندې د وینې د جوش د معتدل ساتلو او د زړه د رنځ په حواله د مالګې او غوړو نه ځان ساتل لازمي ګڼي ـ

د وینې جوش سېوا کوي دا مالګه
بل که د زړۀ مرض دې هم وي چرته
پکار ده چې ډډه د غوړو نه وکړې [22]

دا علاج په سائینسي توګه هم سم دے ـ هم دا خوراکونه په دغې رنځورانو اثرانداز کېږي ـ د دوایانو استعمال ضروري دے ـ ځکه چې دوائې وونه خورې نو روغ به څنګه شې ـ محمد الیاس الیاس دا خبرداري ورکوي چې په پابندۍ سره د دوایانو خوراک ضروري دے ـ

یواځې د طبیب د دوا شرط ورله کافي نه دے
د رنځ په رغېدو کښې تل پرهېز لاره ووباسي [23]

د دې ظاهري ناروغۍ نه وړاندې روحاني ناروغي ده ـ ظاهري ناروغي اکثر د روحاني ناروغۍ نه پېدا کېږي ـ مثال په توګه که څوک خفه وي ـ نو د هغه خوراک خواته نه کېږي ـ او چې خوراک نه کوي ـ نو معده به یې خرابېږي ـ او چې معده خرابه شوه ـ نو پاتې پکښې څه شو ـ

ketabton.com - The Digital Library

د زړه نــــه خـــيـــرې لـــر كـــول بـــه غـــواړي
كــه پــه ژونــدون كښـــې خــوشـــحــالـيــانــې غــواړې
پــــكـــار ده چـــې ډډه د كـــيـــنـــو نــــه وكـــړې [24]

بل ته په زړۀ كښې خبرے ساتل ځان سوزول دي ـځكه چې په كينه څوك د چا هيڅ نه شي كولے ـخو خپل ځان بربادوي ـلكه څنګه چې محمد الياس الياس دا خبره مخكښې بوځي ـاو ليكي ـ

دا چـــې د بـــل پـــه خــوشـــحـــالـــۍ ســـــوزي
زه ورتـــه ګـــوتـــه پـــه خـــولـــه ځـــكـــه يـــمـــه
تـــر اوســـــه څـــنـــګـــه ايـــره شـــــوے نـــه دے [25]

بغض كولو ته سوزېدل په دې وجه هم وائي ــ چې په دې كښې سړے خپل ځان ته زيان رسوي ـ په مذهبي توګه هم كينه يا بغض كول ناروا دي ـ

**نفسيات** : د دې مركب لفظ نه مونږ ته دا اندازه كېږي ــ چې د دې څه مطلب دے ـــ دا هغه علم دے ـــ چې پكښې د انسان خوئې بوئې او د ذهني مسلو په حواله بحث كېږي ـــ محمد الياس الياس د نفسياتو په وړومبي باب خبره كوي ـــ يعني د انسان خوئې بوئې چې په ظاهره يو عام عمل ښكاري ــ خو په اصل كښې د هغې په شا ضرور څه وي ــ لكه چې د يو چا څوك بدي شي ـنو تندې يې ورته تريو وي ـ

ketabton.com - The Digital Library

د خپل تپوس جواب مې اومندلو
ستا په تندي کښې چې کوتونه راغلل [26]

دلته داسې په وېنا یا عملي توګه څه عمل نه دے شوے ـــ خو د محبوب خاموشي او د هغه د مخ سیپاره حل وائي ـ داسې چې ځوک غلے غلے کېږي ـ نو په هغۀ د غل ګمان کېږي ـ محمد الیاس ځکه په خپل محبوب دا تاپه لګوي ـ

ولې ګمان به پرې د غل نه کووم
اشنا چې غلے مې په خوا تېرېږي [27]

هم داسې د پښتنو او د پښتنو د اجتماعي خوئې بوئې په حواله خپل نظر شریکوي ـ

د جهالت رابانديې ختمه ده خو
د دوو په مېنځ کښې فېصله کومه
زه د رندو په ښار کښې کوڼ باچا یم [28]

پښتانه هسې هم ساده دي ـ او بیا چې ځوک لږ مالدار وي ـ نو که هغه په سادوو کښې هم ساده وي ـ خو هغۀ یې منکر وي ـ د هغۀ خبرې ته خلق غوږ ږدي ـ که ورانه هم وائي نو هغه ته خلق وائي ـــ حاجي صېب ټیک دې ووې ـــ دا غور ځوک نه کوي چې د پلانکي د خانۍ نه ماله څه خبر راځي ـــ چې ورانه وائي نو هغې ته به ورانه وایو ـــ او که د مشرۍ لائق نه وي ـــ نو هیڅ ضرورت نشته ـ غریب دې مشر وي ـ خو چې د کار وي ـ د مالدار او خان نه عام خلق لا څه چې د ملا غوندې لوئې شخصیت ترې هم متاثره دے ـــ څه خپل غرض راخستې او څه خپلې بې

ketabton.com - The Digital Library

ننګۍ راخستې دے ـ هر کله چې غریب سړے په حق ورسېږي ـ نو وائي ـ الله اکبر او اړئ یې ـ خو که مالدار مړ شي ـ نو اول خو یوه ګېنټۀ بیان وکړي ـ او بیان یې هم ټول د مړي صفت وي ـ هر څو که د جهانونو ګنده ګیر مړ وي ــ دا ډېره عامه ده ــ دلته خو محمد الیاس الیاس دا ډېر ښۀ کار کړے ـ چې په ادبي پېرایه کښې یې دا خیال راوړے دے ـ ځکه چې اکثر داسې عامو مسلو ته د شاعرۍ په باب کښې څوک دومره توجو نه ورکوي ـــ او نه په خیال کښې راځي ـ ولې چې شاعري تخلیق دے وائي چې ـ

ډېر حکایات یې تاو راتاو کړه ورته
ملا وې دا سړے ولې سړے وو
ما وې تپوس وکړئ مالدار خو نه وو[29]

د محمد الیاس الیاس شاعري که هر څومره تاو راتاو شي ـــ خو په اخره کښې پښتنو له راتاوېږي ـ لکه د پښتنو د فطرت په حقله وائي ـ

زه چې پښتنو ته داسې وایمه
پاځئ د خپل حق دپاره ودرېږئ
دا جوړ دیوالونو ته لګیا یمه [30]

پښتانه هیڅ هم سنجیده نه اخلي ــ په ځان غوړونه راچوي ــ تر هغې پورې نه راپاڅي ــ تر څو چې یې کانې په سر راپرېوتې نه وي ـــ د دې نه علاوه نن سبا په عمومي توګه هر سړے په شهرت پسې کاواک دے ـ رنګ رنګ ناروا کوي ـ خو د نوم دپاره او د یو څو روپو دپاره خپل ضمیر خرڅوي ــ خپل عزت هم په خاورو کښې ګډوي ــ او ځان د ایمان نه هم خلاصوي ـــ او

ketabton.com - The Digital Library

روپۍ او شهرت ګټي ـ په دغې کښې ښودنه د سر ده ـ که څوک هر نېک کار کوي ـ نو غرض يې هم دغۀ پوره وي ۔لکه د صدقې يا خېرات په حواله محمد الياس الياس وائي ۔

پردے څنډا يې صدقه کښې ورکړو
بيا يې په لاره ډمامې وهلې
پلار مې زما غوندې سخې سړے وو[31]

يا دا هائيکو ۔

څمه چې زر زر يې فېسبک له ورکړم
په دې غرض چې نمائش يې وشي
هغۀ کعبه کښې تصوير دې له ويستو[32]

او په دې لاندې هائيکو کښې په ډېر طنزيه او عالمانه انداز کښې دغه خيال داسې اظهار کوي ۔چې که حواله يې ورنه کړے شي نو زياتې به وي ۔

وئيل يې که چرته ترې څوک پند واخلي
پوره دنيا کښې يې فېسبک کښې ښودل
هغۀ چې سل روپۍ خېرات ورکوو[33]

ketabton.com - The Digital Library

**شعر و شاعري** : محمد الیاس الیاس په شاعرۍ کښې حقیقت پسندي خوښوي ـ په هوا نه ګرځي ــ بلکې د ژوند په ستونزو او په غیر مافوق الفطرت ځیزونو بحث کوي ــ په شاعرۍ کښې د چا مخ نه کوي ـ هر قسمه خیالات د خپلې شاعرۍ موضوع ګرځوي ـ چې څه ورته جائز او حق ښــکاري هغه وائي ـــ ځکه خو د نن ســباني ذهنونو له کبله د حقیقت وینا باوجود هم مایوسه ښکاري ـ

اوتــې بــوتــې کــه مــې وئــیــلــې زه بــه ښـــه ووم
پـــه شـــعـــرونـــو کښـــې ښـــۀ نـــه ده چـــې وايـــم
ســـپـیـنـي ســـپـیـنـي حـقـیـقـت ســـړے خـفـه کـړي [34]

دا ځکه چې نن سبا څوک د حقیقت د زغملو نه دي ـ ولې چې د هغوئ بربنډ ېږي ـ بله دا چې نن سبا خلق سنجیده بحث او شخصیت په ځان بوج ګڼي ـ چرته خنداګانې سیلونه ،خوراکونه ،او دا بې کاره کارونه ورله خوند ورکوي ـــ د شـاعرۍ په باب کښــې هم د ځینې ځینې تکلف مخ نیوے کوېي ــ لکه دا هائیکو هر څو که په فکري ډول د مثال د پاره سمه نه ده ـــ خو صرف د مثال د پاره سمه ده ـ

غـــرض مـــې دا وي چـــې پښـــتـــون بـــېـــدارکـــړم
زه پـــه پښـــتـــو کښـــې لـــیـــک تـــه هـــڅـــه وکـــړم
خـــو بـــس یـــاګـــانـــې دي چـــې نـــه مـــې پـــرېـــږدي [35]

ketabton.com - The Digital Library

محمد الیاس الیاس په خپله شاعرۍ کښې تعلي هم په ډېر ښه ډول کوي ـ

غـــزل دې ځـــکـــه د رنـــګـــونـــو ډک شــــو
اے د الـــیـــاس ظـــرفـــه حـــمـــزه تـــه ګـــورې [36]

د شاعرۍ په حقله يې دا تعلي ډېره ارفع ده ـ چې خپله شاعري خپل تعريف او پېژندګلو ګڼي ـ

د الـــیـــاس پښـــتـــنـــه څـــه کـــوې د نـــورو
خـــپـــل شـــعـــرونـــه يـــې ريښـــتـــيـــا حـــالـــونـــه وائـــي [37]

خدائے ته مخاطب کېږي ـ او په خپل اوچت فکر د تعجب اظهار کوي ـ

خـــيـــال د الـــيـــاس خـــو مـــخـــکښـــې داســـې نـــه وو
خـــدايـــه غـــزل ســـــرا دې کـــړمـــه[38]

**عشق او رومانيت** : عشق ته په پښتو کښې مينه وائي ـ دا هغه جزبه ده ـ چې بيانول يې ځانله يوه څېړنه غواړي ـ کله چې د چا زړه ته څوک پرېوځي ـ يعني خوښ يې شي ـ او بيا يې شپه او ورځ په ذهن او زړه کښې تاوېږي ـ دې ته عشق وائي ـ بنده بيا د محبوب ديدن په هر حال کښې غواړي او جدائي يې زغمې نه شي ـ شعر و شاعري که هر څو يوه خدائي ورکړه ده ـ خو عشق پکښې ټول خوند رنګ اچوي ـ او څوک چې څومره د عشق جزبه لري ـ هومره د هغه شاعري بااثره وي ـ بيا د شاعرۍ په فکري توګه ډېر قسمونه دي ـ وخت په وخت يو شمېر نظريات او

ketabton.com - The Digital Library

تحاریک راوچت شوې دي ـ او خپل کردار يې لوبولے دے ـ په هغې کښې کلاسیکیت ،رومانیت،حقیقت پسندي ،او ترقي پسند تحریک د ذکر وړ دي ـ

دلته چونکې زمونږ موضوع رومانیت ده ـ نو لهذا په رومانیت رڼا اچوو ـ رومانیت د کلاسیکیت ضد دے ـ کلاسیکیت د معیار ،حقیقت او اصولو نوم دے ـ د دې له کبله رومانیت سر راښکاره کړو ـ او د کلاسیکیت نه يې د بغاوت اعلان وکړو ـ رومانیت د اصولو او حقیقت په ځاے تخیل او جزباتو ته ترجیح ورکوي ـ په رومانیت کښې د خیال ازادي وي ـ دې ته نه ګوري چې حقیقت څه دے ـ د رومانیت پیژندګلو ډاکټر سید عبدالله داسې کوي ـ

"دا د عقل په ځاے جزبې او تخیل ته اهمیت ورکوي ـ په رومانیت کښې د ذاتي وجدان عنصر غالب وي ـ روماني شاعر یا ادیب د هغه څیزونو بیان کوي ـ چې د هغې نه حیرت زیږي ـ روماني ادیب هر وخت د غرابت او ندرت په لټون کښې وي ـ د حال په ځاے د ماضي نه اثر اخلي ـ د شعور په ځاے د لاشعور او تحت الشعور په دنیا کښې مواد لټول هم د ځینو عادت دے "[39]

د رومانیت دغه پورته ځانګړنې دي ـ اوس مونږه په دې پوهه یو چې رومانیت څه ته وائي ـ د ټولو نه وړاندې د محمد الیاس الیاس په شاعرۍ کښې د عشقیه مضامینو درک لګوو ـ هغه د عشق په حواله داسې شعر لیکي ـ چې اخوا پرې نور څه نه وئیلې کیږي ـ لکه چې وائي ـ

بـغـیـر د مـیـنـې نـه ژونـد نـه تـیـریـږي
ژونـد چـې تـیـرې مـیـنـه بـه څـنـګ نـه کـوې [40]

یا دا شعر چې

ketabton.com - The Digital Library

ځــنــګــه بــه د ژونــد دا ســـتـــړي لار وهـــې
تــه چـــې د اشـــنـــا خـــوبـــونـــه نـــه ویـــنـــې [41]

عشق واحد هغه جزبه ده ـ چې له برکته يې هغه څه حاصیلېږي ـ کوم چې په کتابونو کښې هم نه وي ـ دا د انسان عقل عرش ته خېژوي ـ او داسې شخصیت سازي د بنده کوي ـ چې هغه مثال ګرځي ـ عاشق سړے د عامو خلقو نه داسې بدل وي ـ لکه د چاندۍ په ډیرۍ کښې چې يوه دانه سره زر وي ـ د عشق د کمال او عظت په حواله محمد الیاس الیاس لیکي ـ

نــظــر د ســـتـــرګـــو رالـــه مـــیـــنـــې تـــېـــز کـــړو
پـــه یـــوه لـــحـــظـــه کښــــې درســـــت جـــهـــان ویـــنـــمـــه [42]

عشق او رومانیت داسې دي ـ لکه لکه یو ـ که عشقیه موضوع وي نو خامخا به روماني وي او که روماني کلام وي نو خامخا به يې موضوع عشق وي ـ ولې چې دا صرف او صرف عشق دے ـ چې جزبات رالړزوي ـ او د شاعر ،ادیب باطن بیانوي ـ په دې تېر شعرونو کښې هم د رومانیت رنګ شته ـ خو په دې شعر کښې په ډېر ښه ډول دے ـ

هســـې دې زخــې پــه وجــود جــانــانــه خــوښـــې نــه وې
د جــبــیــن خــال دې پــه اســـمــان پــورتــه قــمــر خــوبــوي [43]

وړاندې مونږه رومانیت په ځانګړنو کښې ووې چې رومانیت تخیل او انفرادي یا ذاتي وجدان ته اهمیت ورکوي ـ په پورته شعر کښې مبالغه ارایۍ سره سره د زخو دومره اثر بیانول چې سپوږمۍ ترې متاثره ده ـ واقعي چې ومانیت دے ـ یا دا شعر ـ

ketabton.com - The Digital Library

تـیـارې پـرې راخـورې دي پـه سـپـوږمـۍ کښـې رڼـا نشـتـه
ښـودلـې ورتـه تـا جـوړ نـن بـیـا لـیـونـۍ سـتـرګـې دي [44]

**فطرت نګاري /منظرنګاري** : فطرت ته په انګرېزۍ کښې نېچر وائي ـ لغوي معنا یې ده قدرت ـ هغه جبلي خوبي چې الله تعالي په یو څیز کښې اچولې وي ـ لکه څنګه چې د انسان فطرت دے ـ چې خاص جبلتونه او جزبات لري ـ مونږ ورته انساني فطرت وایو ـ د فطرت نګارۍ په حواله فضل مېر خټک لیکي ـ

> "دا یو ادبي مسلک دے ـ چې په فرانس کښې د نولسمې عیسوۍ صدۍ په اخره کښې راپېدا شو ـ دا مسلک د ناول دپاره غوره شوے وو ـ چې څنګه یو څیز دے ـ پکار ده چې هم هغسې پېش کړے شي ـ دې تحریک په خارج عقیده لرله "[45]

نورې خبرې ځانله دي ـ خو د فطرت نګارۍ دا اخرۍ ځانګړنه مونږ ته ټول فطرت معرفي کوي ـ او منظر کشۍ ته هم اشاره کوي ـ فطرت که یو خوا هغه خوبې بویې ته وائي ـ کوم چې د خدائے ورکړه وي ـ یو بل اړخ ته ترې هغهٔ څه مراد دي چې کوم ته خوبي ورکړے شوې وي ـ یعني که د انسان خوبي یا فطرت دا دے ـ چې عقل دے پکښې ـ نو ټول انسان هم فطرت دے ـ د زنده سرو نه علاوه دا کاڼي بوټي سیندونه اسمان نمر سپوږمۍ او دا ټول جهان فطرت دے ـ دلته به پرې مونږه هم په دغه لحاظ سره بحث کوو ـ منظرکشي دې ته وائي ـ لکه څنګه چې په ډرامه کښې یا په ناول کښې د زمان او مکان تعین کېږي ـ دغه منظرکشي د فطرت کېږي ـ او په فطرت کښې هغه هر څه راځي ـ کوم چې خدائے پېدا کړې او په دې ټول کائنات کښې دي ـ

ketabton.com - The Digital Library

بلکې دا ټول کائنات فطرت دے ـ محمد الیاس الیاس په خپله شاعرۍ کښې فطرت هم ځاے کړے او د هغې بې په رنګ رنګ منظر کشي هم کړې ده ـ لکه په دې هائیکو کښې وائي ـ

وختـــي وخـــتــي بــه پـــاڅـــېـدمـــه ځـــکـــه
زمـــا پـــه ذهـــن بـــه ډېـــر ښـــه لـــګـــېـــده
ســـحـــر ســـحـــر کـنـبـــې د مـــرغـــو چـــغـــېـــده [46]

څنګه چې مونږ ووې ـ د خدائے پېدا کړې هر څیز فطرت او قدرت دے ـ هم داسې محمد الیاس الیاس د ګل او د محبوب د مخ ذکر یو ځاے کوي ـ

کــه پــه ګــل د نــزاکــت عــکــســـونــه ښــکـــاري
ســـتـــا پـــه مـــخ هـــم د قـــدرت عـــکـــســـونـــه ښـــکـــاري [47]

د فطرت نګارۍ د تحریک دا دعوه هم وه ـ چې څنګه یو څیز وي نو پکار ده چې هم هغسې پیش کړې شي ـ محمد الیاس الیاس هم په دې نظریه ولاړ دے ـ خو په دې جدید دور کښې د فطرت د مستۍ او رنګ امکان نه وینې ـ

ســـــادګـــــي وه د یـــــو بـــــل نـــــه زاربـــده وو
اوس د نـــوي دور نـــوي تـــقـــاضـــــې شـــــوې
ژونـــدانـــه کـنـبـــــې دا جـــدت ســـــړے خـــفـــه کـــړي [48]

د حسن د عنوان لاندې په یو غزل نما نظم کښې محمد الیاس الیاس د فطرت په ډېر ښۀ ډول منظرکشي کوي ـ

ketabton.com - The Digital Library

حسن په مینه کښې د خیال د ګرځېدو نوم دے
حسن په ګل کښې د خوشبو راټوکېدو نوم دے

حسن د شفق د کنارو نه هم جوړېږي خو
حسن په اسمان کښې د وریځو خورېدو نوم دے

حسن په نرو شونډو خندا ته هم وئیلې شي
حسن په سرو سترګو کښې د مینې جوړېدو نوم دے

حسن سمندر کښې غورځنګونو باندې یاد شولو
حسن په میرو کښې د باران د ورېدو نوم دے

حسن په هوا کښې د سیلۍ راتلو ته هم وائي
حسن په شنو ونو کښې د پاڼو رپېدو نوم دے

حسن د ازغي سره د ګل لیدو ته هم وائي
حسن په چمن کښې د شبنم راورېدو نوم دے [49]

ketabton.com - The Digital Library

**شخصیت نګاري** : د محمد الیاس الیاس په شاعرۍ کښې د څه لږې ډېري تصویرکشۍ سره اسمیه شخصیت نګاري شته ـ مطلب دا دے ـ چې شخصیت نګار د چا د ټول شخصیت لفظي انځور وي ـ خو دا په تکل کښې په سم ډول کېدے شي ـ په شاعرۍ کښې هم په دغه ډول وي ـ کوم چې ما یاد کړو ـ هر څو که د نثر ځمکه د یو پوره شخصیت د تعین کولو دپاره سمه او پراخه وي ـ خو ولې شعر په خپل ظاهري وړوکي علاقه کښې او یوې نقطې ته اشاره کوي ـ خو اثر یې مثالي وي ـ لهذا مونږ به د یو شخصیت په حواله لنډه شان خبره هم کوو ـ او په شعر کښې به یې حواله هم راوړو ـ محمد الیاس الیاس د یو شمېر فنونو ،علومو او د ژوند د مختلفو څانګو د شخصیاتو ذکر کړے دے ـ مونږه به د اخلاقیاتو په سبب مذهبي شخصیات وړاندې کړو ـ د ټولو نه وړاندې محمد الیاس الیاس خپل محبوب ته مخاطب دے ـ د محبوب شرط مني او د خپلې مینې تصدیق کوي ـ

ما هم د مینې په نوم ځان د اور لمبو ته نیوو
تا وې خلیل شه او بتان کړه د اذر صدقه [50]

دغه د محبوب شرط او د هغې د پوره کولو د بیان دپاره د ابراهیم واقعې ته اشاره کوي ـ دا واقعه په قران عظیم الشان کښې الله تعالي فرمائیلې ده ـ فرمائي چې د ابراهیم پلار غېر مسلم وو ـ او د بتانو ډېر ښه استاذ وو ـ خو ولي ابراهیم خدائے پېدا کړے په دین اسلام وو ـ چونکې د مسلمانانو دا عقیده ده چې بت پرستي شرک دے ـ د دې له کبله د ابرااهیم هم د بتانو نه کرکه کول او د بتانو سپکاوے به یې ښۀ په ډاګه کولو ـ کله چې د مشرکینو یوه کلیزه مېله وه ـ او

ketabton.com - The Digital Library

هغوئ خپل بتان په يو خاص ځاے کښې راجمع کړه ـ او لاړه نو ابراهيم له موقع په لاس ورغله ـ تبر يې راواخستو او ټول بتان يې ټک ټوک کړۀ ـ کله چې خلق راغلو او بتانو ته يې وکتل نو ډېر په قهر شو ـ په دغې کښې د نمرود بت هم وو ـ نمرود حکم وکړو چې کوم سړي دا کار کړے ـ هغه دې زر تر زره ونيولې شي ـ ابراهيم خؤ د وړاندې نه د بتانو خلاف وو ـ نو د دې وجې نه د خلقو په نظر کښې هم هغه وو ـ اخر ابراهيم په دربار کښې پېش کړے شو ـ د ابراهيم نه تپوس وشو ـ چې دا بتان دې ولې مات کړي ـ

ابراهيم ورته ووې ـ وسله چې د چا په غاړه وي ـ هغه دا کار کولے شي ـ ابراهيم چې کله بتان مات کړه ـ نو هغه غټ مشر بت يې روغ پرېښودو ـ او تبر يې ورته په غاړه کړو ـ نمرود ورته ووې دا خو حرکت نه شي کولے ـ نو څنګه يې دا کار وکړو ـ ابراهيم ورته ووې ـ دا څنګه خدائے دے ـ چې خوځېدے هم نه شي ـ او تاسو يې عبادت کوئ ـ نمرود ورته ووې ـ ولې ستا بل خداے دے څو ـ ستا خداے څه کولے شي ـ ابراهيم وفرمائيل زما خداے هغه دے چې مړه کول او ژوندي کول کوي ـ نمرود ورته ووې داخو زه هم کولے شم ـ يو قيدي يې د زندان نه رابهر کړو ـ چې د پهانسۍ حکم پرې شوې وو ـ هغه يې پرېښودو ـ بل يو ازاد سړے يې راونيوو ـ او مړ يې کړو ـ دا خو مړه کول او ژوندي کول نه وو ـ خو خېر ابراهيم ورسره هم سم کار وکړو ـ ابراهيم ورته وفرمائيل زما رب د مشرق نه نمر راخېژوي ـ او په مغرب يې پرېباسي ـ ځه که ته نر يې نو د مغرب نه يې رابښکاره کړه ـ او په مشرق يې پناه کړه ـ نو الله تعالي په قران مجيد کښې فرمائي ـ

"فبهت الذي كفر"[51]

ژباړۀ : نو بس دغه کافر غلے شو ـ

ketabton.com - The Digital Library

بیا یې نوکرانو ته ووې ـ چې ده له به زه داسې سزا ورکوم چې د دنیا دپاره عبرت وګرځي ـ شپږ میاشتې قوم خشاک راجمع کړو ـ بیا یې هغې ته اور واچوو ـ او بیا یې ورته ابرهیم وسپارو ـ هم په دغه وخت کښې الله تعلي اور ته ووفرمائیل ـ

"قلنا ینار کوني بردا و سلما علي ابراهیم "[52]

ژباړۀ : اے اوره په ابراهیم معتدل شه ـ

هم داسې ډېره موده پس ابراهیم د دغې اور نه سهي سلامت رابهر شو ـ

د اسرافیل شپېلۍ به ویښ مې نه کړې
د بنګړو شرنګ به دې محشر جوړوي [53]

د اسرافیل د شپېلۍ سره د بنګړو د شرنګ نه استعاره جوړوي ـ مبالغه کوي ـ چې د بنګړو شرنګ د اسرافیل د شپیلۍ نه تېز اواز او لویې جلال لري ـ د اسرافیل د شپېلۍ په اواز به قیامت برپا کېږي ـ د دې شپېلۍ اواز به ټولې دنیا ته رسېږي ـ د دې د اواز سره به ټول خلق مري ـ محمد الیاس الیاس د محبوب د بنګړو د شرنګ نه دومره متاثره دے ـ چې د اسرافیل شپېلۍ هم په ځان بې وسه ګڼي ـ او د بنګړو شرنګ د محشر سبب ګرځوي ـ

زه د ادم بچے د خدائے د ذات قائیله یمه
اے د ابلیس شان فرښتو زما نه ډډه وکړئ [54]

چونکې ابلیس غرور وکړو ـ ځان یې کافر کړو ـ د دې له کبله پرې خدائے لعنت ووې ـ او د خپل در نه یې وشړو ـــ د دې په شا ډېره لویه واقعه ده ـــ خو بیا هم کله چې ابلیس نافرمانه شو ـــ نو خدائے ته یې یو عرض وکړو ـــ چې ته ماله د انسان په نفس کښې ځاے راکړه ـــ خداے ورله دا توان ورکړو ـ بیا شیطان ووې چې ستا یو بنده به رانه هم په سمه لار لاړ نه شي ـ وړاندې په ادم

ketabton.com - The Digital Library

پسې راغې او د هغه د خويولو کوشش يې وکړو . محمد الياس هم هغې واقعې ته اشاره کوي . خو ولې دلته فرښتې نشته . نو د دې نه مراد بې عقيدې مسلمانان دي . دغې بې عقيدې او دوه مخو انسانانو ته وائي ــ چې د ادم د اولاد نه يم ــ زما په خدا ے يقين د ے ــ ماته هسې نورې نورې وسوسې مه اچوئ . په شعر کښې د ابليس شان فرښتو نه دا مطلب هم د ے . چې شيطان مسلمانانو له د نېک او بزرګ سړي په صورت کښې راځي ـــ لکه څنګه چې د ادم خواته د يو پوهه او بزرګ سړي په روپ کښې راغلے وو . په حضرت ادم پسې د يو بل پيغمبر ذکر کېږي .

د ښائيست د کراماتو منکر نه يم

مثالونه د يوسف د مخ قيصه شوه[55]

فرمائي چې يوسف د يعقوب ځو ے وو ـــ او ډير زيات ښائيسته وو ـــ کله چې الله تعالي د هغه ژوند د يو غېر مسلم په کور کښې وليکو . نو د بادشا کورودانې پرې زړه ووبېلو . د يوسف نه يې نعوذو با لله خواهش وکړو ـــ خبره باچا ته ورسېده او دغسې په ټول ښار کښې خوره شوه . بيا به خلقو وئيل د باچا ټبر ته ګوره په خپل غلام مئينه شوې ده . هر کله چې زلېخه په دې خبره پوهه شوه ـــ نو خلقو ته يې وېنا وکړو چې تا سو به محل ته را شئ ـــ ما درله د خوراک څخاک بندوبست کړ ے د ے . کله چې ټولې زنانه راغلې . نو هغې ورته شنې مېوې کېښودې . او چاړه يې ورله هم ورکړه ــ کله چې خلقو د مېوو په پرې کولو شروع وکړه ــ نو يو دم يې ورته د کوټې نه يوسف رابهر کړو ـــ هغوئ چې څنګه يوسف وليدو نو د هغه په حسن کښې غرق شو ـــ چې د مېوو په ځا ے يې خپلې ګوتې پرې کړې . بيا ورته زوليخې ووې چې په ما خو لعنت وايئ . او اوس مو حال دا د ے ـــ چې ګوتې مو پرې کړې ـــ په دغۀ پورته شعر کښې هم محمد الياس الياس د ښائيست جلال او اثر قبلوي .

ketabton.com - The Digital Library

وائي چې زه د حسن د کراماتو منکر ولې شم ـــ د یوسف د حسن خو خلق مثالونه ورکوي ـــ د حضرت ادم نه پس دوېم پېغمبر نوح وو ـ ځکه ورته اددم ثاني هم وائي ـ نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله تبلیغ کړے وو ـــ خو په نهه نیم سوه کاله کښې په شمار یو څو کسان مسلمان شوې وو ـــ عن تر دې چې نوح ځوي کنعان هم ایمان نه وو راوړې ـــ کله چې الله تعالي د دغې خلقو د غرق کولو اراده وکړه ـــ نو نوح خپل ځوي ته ووې چې راځه زما سره په کشتۍ کښې کېښنه ـ هغه ورته ووې بابا زه به د غره سر ته د طوفان نه وخېژم ـ نوح ورته ووفرمائیل بچیه دا داسې طوفان دے چې د غرونو هم خبر نشته ـ او دغسې اوشوه هم ـ محمد الیاس الیاس دغه واقعه په خکپل شعر کښې راوړي او وائي ـ

د غـره پـه سـر يـې نـه پـرېـږدي د نـوح طـوفـان پسـې دے
اجـل جـوړې راخســتـې د کـنـعـان پـه سـر جـګـړه ده [56]

هم د دې غزل په یو بل شعر کښې د ابراهیم او نمرود د واقعې غوندې د موسي او فرعون ذکر کوي ـــ فرعون د خدایۍ دعوي کړې وه ـــ هامان د موسي د تره ځوے وو ـــ موسي خدا ے یو پېغمبر رالېږلے وو ـ او د پېغمبر فرض دا وي ـ چې خلق ایمان طرف ته راوبلي ـ د دې له کبله چې کله موسي هامان ته وفرمائیل چې د خپل مال نه زکوات ورکړه ـ نو اول خو هغه راضي شو ـ خو چې کله یې حساب وکړو نو په زکوات کښې ترې ډېر مال تلو ـ لهذا هغه د زکوات ورکولو نه انکار وکړو ـ او موس ته یې ووې چې ته ما غریب کول او ځان مالدارول غواړې ـ دغسې دا هم بله واقعه ده ـ خؤ اخر اخر موسي زمکې ته حکم وکړو او هامان سره د خزانو په زمکه کښې ننوتو ـــ محمد الیاس الیاس هم د خپل ایمان او انصاف په خاطر وائي ـــ چې که د فرعون د هامان په سر زمونږ موسي سره جګړه کوي ـ نو مونږه به د موسي مرسته کوو ـ

ketabton.com - The Digital Library

مونږه حق پرست به د موسي مرسته ضرور کوو
فرعون سره په جنګ يو د هامان په سر جګړه ده [57]

د دې نه علاوه يوه بله اهمه موضوع په ګوته کوي .وائي چې .

خوار شې د علي سره دې مينه سوچه نه ښکاري
صدق سره دې بغض د عثمان په سر جګړه ده [58]

د شيعه حضراتو دا عقيده ده چې علي د ابوبکر ،عمر او عثمان نه لويې شخصيات دي . هغوئ يې کله کله د نوم سره عليه السلام هم وائي ــ محمد الياس الياس هم دغې ته د شيعيا ګانو پام راګرځوي ــ چې ستا سو د علي سره مينه د ابوبکر ،عمر او عثمان سره بغض دے .د پيغمبرانو او اصحابي کرامو رضي الله اجمعين نه پس د سياست پوهانو ،شاعرانو او درويشانو ذکر کوي .

محبت و د باچا ګوتو رد نه کړو
په دربار کښې د محمود د وزير ليکه [59]

په دې شعر کښې د تقدير فلسفه پرته ده ـ وائي چې څه په تقدير کښې وي ـ هغه پېښېږي ـ او بيا د مينې محبت سره خو هڅو کېږي نه ــ د محمودي غزنوي د وزير نوم اياز دے ــ اياز ډېر زيات غريب او فقير هلک وو ــ کله چې اياز د محمودي غزنوي د محل خواته په سيند کښې ډوډۍ لمدول او بيا يې خوړه .نو يو سپاهي وليدو .هغه لاړ او باچا ته يې ټول حال بيان کړو .

ketabton.com - The Digital Library

باچا عرض وکړو ـ چې دلته يې راولئ ـ اياز غريب هم وو ـ خو ډېر ښائيسته وو ـ چې محمود وليدو نو هغه يې خپل وزير کړو ـ او بيا وروستو د ټولو وزيرانو مشر شو ـ بيا وائي ـ

احمد شا به مې په خاوره بيا پېدا شي
ټپوسانو کښې د باز خويونه ګورم
دا ګمان دغه فطرت سړې خفه کړي [60]

محمد الياس الياس د احمد شا غوندې شخصيت د پېدا کېدو ارماني دے ـ خو چې خپل قام ته ګوري ـ نو مايوسه کېږي ـ د احمد شاه نه پس د خوشحال بابا ،باچا خان او رحمان بابا مثال ورکوي ـ او د خلقو شعور رابېداروي ـ

جوړ شه خوشحال توره د ننګ واخله
يا سم ملنګ عبدالرحمان جوړ شه [61]

خېر خوشحال بابا خو د توري او قلم دواړو خاوند دے ـ خو بيا هم توره او ننګ د څه نه کم نه دي ـ محمد الياس الياس د خوشحال بابا غوندې د توري او ميړاني جزبه په خلقو کښې بېدارول غواړي ـ او بيا وريسې وائي ـ چې که داسې نه شئ کولے نو بيا د رحمان بابا غوندې زاهد او ملنګ جوړ شه ـ

بل کړه مشال د پښتنو په سيمه
يو نر سپاهي د باچا خان جوړ شه [62]

ketabton.com - The Digital Library

باچا خان بابا ټول ژوند د پښتنو خوشحالۍ او پرمختګ ته بخښلے وو ـ ډېرې سختۍ يې تېرې کړې وې ــ بلها جيلونو ته تلے وو ــ صرف او صرف په دې خبره چې هغه د تعليم ،ازادۍ او د خپل حق تپوس کوو ـ د با با سره يو شمېر سرخ پوش هم وو ـ دا هغه ننګيالي سپاهيان وو چې سرې جامې به يې اغوستې وې ـ او هرې قربانۍ ته به تيار ناست وو ـ د هغوئ د برکته او باچا خان بابا د خلوص له برکته باچا خان هغه څه کړې دي ـ چې چې نن يې هم دنيا ستائي ـ محمد الياس الياس هم دا تبليغ کوي ــ چې د پښتنو په خاوره د رڼا زيرے شه ــ يعني د باچا خان سپاهي او د هغه معتقد جوړ شه ـ په اخر کښې په يو شعر کښې د عيسي اسم مبارک هم راوړي ـ او د خدا ے نه سوال هم کوي ـ

لـــږ مـــقـــام دې خـــپـــل الـــيـــاس تـــه هـــم ورکـــړه
اے د لـــويـــې الـــيـــاس د لـــويـــې عـــيســـــي ربـــه [63]

**طنز و مزاح** : زمونږ په پښتو اردو کښې چې د دوو لفظونو په مېنځ کښې واو را شي ــ نو اکثر دغه لفظونه د يو بل مترادف وي ـ بس د خوند رنګ دپاره ترې يو مرکب جوړ شوے وي ـ خو ولې طنز و مزاح ډېر نازک فرق لري ــ مزاح خو عام لفظ د ے ــ د چا په حواله دا سې کلام کول چې د هغه عزت او شخصيت ته پرې زيان ونه رسېږي ـ خو صرف او صرف د خوش مزاجۍ ،خوشحالۍ او د محفل راجوړولو دپاره په چا پسې ټوقه ټقاله ووشي ــ په دې لاندې هائيکو کښې څوک په نخښه شوے نه د ے ـ خو بيا هم مزاح پکښې شته ـ

ketabton.com - The Digital Library

زمـــا چـــې کـــار ورپـــکښـــې وونـــه شـــولـــو
پـــټ مـــې مـــلـــګـــري تـــه پـــه غـــوږ کښـــې ووې
خـــر مـــې شـــاهـــګـــرام د خـــبـــره ولـــيـــدلـــو [64]

په طنز کښې مزاح وي خو اصلي مزاح نه وي ــ يعنې خلقو له مزه هم ورکړي ــ خو د خوند سره سره ترې خلق پند او نصيحت هم واخلي ـــ دا څنګه کېږي ـــ نو راځئ چې د ډاکټر جهان عالم وېنا ته غوږ شو ـ

"د طنز مطلب دا دے چې طنز نګار په خوږه پسته ژبه د څه څيز يا د چا د روئې يا د يو عمل کوم ته چې په ټولنه کښې په ښه نظر نه کتلے کېږي ـ په داسې انداز کښې اپرېشن وکړي ـ چې نه خو هغه متعقله کس دښمني نېغ په نېغه په خپل سر واخستې شي ـ او نه د ټولنې په مخ د دغۀ بد عادت پرده پاتې شي [65]"

د طنز دا پېژندګلو دومره عام فهم او په زړه پورې ده ـــ چې نور بحث پرې نه کېږي ـــ که بيا پکښې هم څه پاتې وي ـــ نو هغه به صرف او صرف مثال وي ـــ د مثال دپاره د محمد الياس الياس دا هائيکو ډېره غوره ده ـ

پـــردے ســـنـــډا يـــې صـــدقـــه کښـــې ورکـــړو
بـــيـــا يـــې پـــه لاره ډمـــامـــې وهـــلـــې
پـــلار مـــې زمـــا پشـــان ســـخـــي ســـړے وو [66]

ketabton.com - The Digital Library

یا دا چې ـ

زه بـه یـې ځـنـګ پـه ځـنـګ کښـې څـه ودرېـږم
نـامـه یـې هـم یـو ځـاے لـیـکـلـے نـه شـم
د فـلسـطـیـن نـه راتـه ګـران دے فـېسـبـک[67]

ما د محمد الیاس الیاس په شاعرۍ کښې د طنز و مزاح موضوع په ګوته کول غو ښتل او نور د هغه په شاعرۍ کښې په لویه پیمانه طنز و مزاح شته ـ یو روغ کتاب د ېوالونو ته لګیا یم په نوم صرف د هائیکو دے ــ په هغې کښې هغه هر رنګه موضوعات قلمبند کړې دي ــ چې هغه ځانله یو مستقل تحقیق غواړي ـ

**جمالیات** : جمالیات د جمال یا حسن علم او مطالعې ته وائي ـــ حسن یا جمال هغه څه ته وائي ـ چې په لیدلو ،اورېدلو او یا محسوسولو یې زړه ته فرحت او خوشحالي ورسېږي ـ لکه محمد الیاس الیاس چې وائي ـ

هـــره نـــظـــاره رابـــانـــدې ښـــه لـــږې
عـــکـــس چـــې د ښـــکـــلا لـــېـمـــو تـــه راولـــم [68]

د دې نه په اخوا د جمال پېژندګلو کول ځان په شش و پنج کښې اچول دي ـ یعنې که وو ایو چې کوم څیز به ښکلے وي ـ یا ښکلا به کومه وي ـ نو ځوک هم په عمومي ډول دا سې تعریف نه شي کولے ــ چې په اجتماعي ډول د منلو وړ وي ــ ځکه چې دا به په فقط انفرادي رائے او احساس

ketabton.com - The Digital Library

وي ـــــ د دې په زرګونو مثالونه دي ـــــ مثال په توګه دلته خلق وائي چې د ټولو نه اول خؤ دې بنيادم سپين وي ــ په قد دې چيت نه وي ــ وجود دې يې ډېر غټ نه وي ــ پوزه خوله شونډې غوړونه دې داسې وي او داسې وي ـــ خو ولې داسې ځايونه او قومونه هم شته چې هلته تور رنګ ته فوقيت ورکولے شي ــ داسې قومونه هم شته چې د هغوئ پړيښه پوزه خوښه وي ــ هم داسې د نورو رنګونو او جوړښت وغېره په باب کښې مختلف خلق د يو بل نه مختلف جزبات لري ـ محمد الياس الياس وائي ـ

رښــتيـا ده چې ښـــا ئيســـتـه وي ښــکلے رنـګ د ســـور ګلاب

پــه ســـرو ويـنـو کـکـړ د مـرګ رنـګـونـه ډېـر تـراخـه وي [69]

که د محمد الياس الياس خوښې ته مونږه پام وکړو ــ نو هغه سور ګلاب ته ښکلا وائي ــ خو داسې ډېر خلق شته چې د هغوئ د سور نه زيات زيړ او سپين ګلاب خوښ وي ـــ البته داسې کيدے شــي چې د ښـکلا ځينو ځانګړنو ته تر هر څه هده پورې اجتماعي حيثيت حاصـل وي ـ خو بيا هم تر څه حده پورې يعنې دغه اجتماعيت د ټولې نړۍ نه بلکې د نيمې نړۍ هم نه شـــي کېدے ـ خېر پوهان بيا هم يوه کليه وضع کوي ،وائي چې د حسن يا جمال دپاره درې ځانګړنې تناسب ،وحدت ،او هم اهنګي ضروري دي ـ

دا په جمال يوه لنډه او جامع خبره وه ـــ اوس په جمالياتو تبصره کوو ـــ پروفېسر فضل مېر ختک د جمالياتو په باب کښې ليکي ـ

"د جمالياتو لغوي معنا ده ـــ د جمال علم هغه علم چې د حسن و جمال سره متعلقه د راولاړيدونکي سوال جواب کوي ـــ او د حسن سره ټول متعلقات په خپله لمن کښې رانغاړي"[70]

ketabton.com - The Digital Library

په حسن کښې قدرت دا خوبي ایښودې ده چې خلق ترې متاثره کیږي ـــ خو دې ته یې سوچ نه ځي ـ چې دا ولې ـ او څنګه ـ بس صرف هغه اثر بیانوي ـ کوم چې پرې شوے وي ـ اوو د حسن مداح وي ـ

یــار چــې جــګ کــړلــه بــانــه د ځــان کــتــو لــه
عــیــن پــه دغــهٔ وخــت کښــې خــړه ائــیــنــه شــوه [71]

یا دا شعر ـ

مــاحــول تــیــاره شـــو ســـپـــوږمـــۍ نــه ښـــکــاریــده
بــیــا پــه رنـــجــو کـــړې ســـتـــرګــې تــورې جــانــان [72]

**قومیت** : د قومیت پیژندګلو ډاکټر اباسین یوسفزي داسې کوي ـ

"د قومیت مطلب په پراخه پیمانه ملک او ملت دے ـــ د دې د پاره د انګریزۍ مترادف ټکے nationality دے ـ مثال په توګه د فلانکي قومیت څه دے ـ او جواب وي پاکستانے ـ په سوشلسټ اصطلاح کښې د قومیت نه مراد هغه وړوکے قام دے چې د لویې قوم په جغرافیائي حدونو کښـــې اباد وي ـــ مثال په توګه پخوانے سوېټ یونین د پنځلس ملکونو او د سلو خواوشا وړو قامونو یونین وو ـــ او د سوېټ د ائین له مخه دوئ ټولو ته یو شان حقونه حاصل وو ـــ د یو قوم او د قوم پرستۍ د تحریکونو غټې او ښکاره نمونې که مونږه لټوو ـــ نو په فرانس کښې دغه تحریک په اتلسمه

ketabton.com - The Digital Library

پېړۍ کښې سر راښکاره کړے وو ـــ په ایشیا ،افریقه ،او امریکه کښې په شلمه پېړۍ کښې د دې نخښې نښانې ښکاره شوې وې ـــ په هند کښې انډین نېشنل کانګریس په کال ۱۸۸۵ کښې جوړ دے ـــ په ترکي کښې نېشنل ایکټ په کال ۱۹۲۰ کښې میکسکو نېشنل ریولوشن پارټي ،ال انډیا مسلم لېګ او خدائي خدمتګار غوندې تحریکونه هم د قوم او قومیت د تصور څلانده مثالونه دي "[73]

د خپل قام او وطن سره مینه او د خپل اولس د حق غوښتنو او د هغوئ د خوشحالۍ د پاره په هر ډګر مبارزه کول قومیت بللے شي ـ د قومیت منفي اثرات هم شته ـ خو مثبت پرې زورور دي ـ رائ چې د محمد الیاس الیاس په شاعرۍ کښې د قومیت رنګ اوګورو ـ د ټولو نه وړاندې خو محمد الیاس الیاس دا دلیل پیش کوي ـ چې هغه په قام او اولس میئن دے ـ

چې نغمې د غم زپلي قام پرې لیکي
د الیاس په قلم هغه وخت کښې شور وي[74]

د دې نه پس سوچه قومیت له رائي ـ او هغه پښتو ،پښتون او پښتونولي ده ـ

الیاس پکښې څکه پښتۍ ماتې کړلې
خدایه پښتون وو د پښتو قیصه وه [75]

هم داسې د پښتنو د یووالي او د پښتنو د اختیار ارماني دے لکه چې لیکي ـ

ketabton.com - The Digital Library

یو ځاے ته دا ټول پښتانه راوله
چغه کړه په زوره اذان ووایه [76]

یا دا ازاده قطعه ـ

تر اوسه غلے ووم ما هیڅ نه وئیل
خو نن د ټول اولس په مخکښې وایم
خدایه زمونږه پښتنو له راکړه
په خپله خاوره خپل اختیار یو ځلي [77]

د مشرۍ منصب ته داسې اشاره کوي ـ

چې د پښتون اولس په ښه مې راشي
داسې سړے راله سرکار کړئ خلقه [78]

په ځیني وخت کښې قومیت د دین اسلام سره لږه ډغره خوري ـ خو ولې پښتونولي داسې نه ده ـ پښتانه اقدار اسلامي اقدار دي ـ او اسلامي اقدار پښتانه اقدار دي ـ چې لویې ثبوت یې دا هائیکو ده ـ

پښتانه اقدار مې دومره اسلامي وو
د حیا او غیرت دواړو ترجمان وي
هغه په سر د شاله نه وه خبر [79]

ketabton.com - The Digital Library

دا د قومیت پېژندګلو د هغې مثالونه او په تېره تېره مو د الیاس په شاعرۍ کښې هم د قومیت درک ولګوو .

**سیا ست** : په تېر باب کښې د ریا ست او حکومت د موضوع لاندې مونږه په سیا ست څه لږه ډېره خبره کړې وه .دلته نېغ په نېغه د پاکستان سیاست او حکومت له راځو .سیاست د اولس د خېر ښېګړې دپاره کوشش ته وائي ــ سیاست د هر چا کار نه دے ــ د ټولو نه وړاندې خو به اولس په دې قائل کوې ــ چې زه په دې فن کښې ماهر یم ــ بیا به د مختلفو ستونزو او حالاتو مقابله کوې ــ د دې هر څه نه پس به د مشرۍ شمله په سر ږدې ــ مونږه د خپل وطن په سیاست بحث کوو ـــ چې دلته سـیاسـت یا حکومت د څه دپاره خلق کول غواړي ـــ او دلته څه رنګه سیا ست کېږي ـــ زه دلته مختصر او جامع مثالونه راخلم او خبره راټولوم ـــ ځکه چې څه خو مونږ ته د خپل ملک سیا ست او اقتدار پته ده او څه پرې ما وړاندې ښۀ په تفصیل سره بحث کړے دے ـــ زمونږه د وطن د سیا ست نه اولس مایو سه دے ـــ هر څوک یې د سم نه په وران خوشحالېږي .ځکه چې اولس ته ترې څه ګټه نشته .که څوک سیاست کوي .جو هغه هم صرف او صرف خپل غم راخستې وي لکه .

تـــول لـــیـــډران خـــپـــلـــې کـــرســـۍ لـــه ژاړي
ورانـــه پـــه مـــونـــږ خـــلـــقـــو دنـــیـــا ښـــه ده
چـــې دا بـــې وســـه ســـیـــاســـت وګـــورم
زړه تـــه مـــې راشـــي مـــارشـــلا ښـــه ده [80]

ketabton.com - The Digital Library

ځنګه چې ما وړاندې ووې سیاست یو عظیمه فریضه ده ـ دا د هرې ککرۍ کار نه دے ـ خو د بده مرغه چې دلته ځوک نور هیڅ نه شي کولے ـ جو هغه سیاست کوي ـ دلته د دولت سیاست دے ـ د قابلیت یا اقلیت نه ـ که د چا سره روپۍ وي او ګنکپۍ کوے شي ـ جو هغه د سیاست مېدان ته راودانګي ـ محمد الیاس ځه ښکلي وائي ـ

دغـــۀ کـــار د شـــمــلـــه ورو ســـره ښـــۀ وو
اوس کـــم ظـــرفـــو لـــه پـــه لاس بـــانـــدې ورغـــلـــې
د دروغـــو ســـیـــاســـت ســـړے خـــفـــه کـــړي [81]

دلته سیاست دومره بدرنګه شوے چې خلق د سیاست نه معنه دروغ اخلي ـ په پاکستان کښې چې ځومره دروغژن وي ـ هغه په سیاست کښې د هر چا نه مخکښې وي ـ دوئ په خپلو دروغو کرسۍ ته رسېږي ـ او اولس خېر ته کېښني ـ

لـــګـــیـــا دي قـــام پـــورې مـــلـــنـــډې کـــوي
دوئ د وطـــن پـــه نـــوم وطـــن اوخـــوړو
دغـــه کـــم ظـــرفـــه پـــه قـــلار مـــې نـــه کـــړه [82]

هم دا سې په دې وطن کښې د قانون هم پته نه لږي ـــ چې د چا زور وي د هغوئ شور وي ـــ د اعلي چارواکو په لاس کښې هر څه دي ـــ قانون هم د خپلې خوښې جوړوي ـــ او ځه په خاطر کښې هم بیا نه راولي ـ ځکه محمد الیاس الیاس وائي ـ

ketabton.com - The Digital Library

د کیلو ملک مثال شي راته مخکښې
اګري نګري ته قانون وئیلې کېږي
دا بې ډنګه ریاست سړے خفه کړي [83]

**انقلاب** : د انقلاب لغوي معنا بدلون ده ۔

" اصطلاح کښې د هغې تخلیقاتو د پاره راځي چې د معاشي عدم
استحکام ،مساوات او د سماجي بې انصافو خلاف کېږي "[84]

انقلاب چې څومره پیچېده اصطلاح ښکاري ۔دومره د دې ډېر اسان مفهوم دے ۔او د دې دغۀ پورته تعریف دے ۔انقلابي ادب یا انقلابي افکار و نظریات هغې ته وائي ۔چې د ژوند په هر ډګر د ظلم و جبر خلاف اواز پورته کوي ــ او د هغې غندنه کوي ــ اولس ته یې په ګوته کوي ۔ او په اولس کښې د بېدارۍ ماده رالږځوي ۔لکه محمد الیاس الیاس چې وائي ۔

تر څو به وینه مو بهېږي ناخبره به یو
پښتانه وېښ کړئ ځان بېدار کړئ خلقه [85]

د خپل حق د پېژندو د خپل حق د غوښتو د ښۀ بد د پېژندو او د ښۀ بد د غندلو د ازادۍ او د یووالي د شعور پېدا کولو سره سره انقلاب په اولس کښې جزبه هم پېدا کوي ـــ انقالب یا انقلابي ادب یې په هغه څه مجبوروي ۔څه چې ادب وائي ۔د انقلابي ادب یا په کوم څیز چې د انقلاب ټاپه ولګي ــ نو هغۀ ډېر شدت ناک وي ــ ځکه چې د انقلاب یا انقلابي ادب د ټولو نه لویه خوبي دا ده چې هغه جزبات راپاروي ۔لکه چې وائي ۔

ketabton.com - The Digital Library

قــیصـــــه مـــې د وېــجـــاړ ګـــلشـــــن راخســـــتـــې ده
پـــــربـــــږدئ چـــې جـــزبـــې ځـــوانـــې راپـــارې کــــړم
تـهـــپـــه شـــــوم یـــا قـــربـــان د وېــنـــا وخـــت وو نـــو [86]

ځنګه چې وړاندې مونږه ووې ـ چې انقلاب د ژوند په هر ډګر د هر رنګه زیاتي مخ نیوے کوي ـ خو ولې د انقلاب اصل رنګ په هغه وخت کښې ښکاره شي ـ کله چې یوه ستونزه اجتماعي وي ـ مثال په توګه چې د وطن په سر ننګ شي ـ نو دغه بیا سور انقلاب وي ـ د دې په حواله د محمد الیاس په شاعرۍ کښې یو شمېر شعرونه دي ـــ خو زه دلته د مثال په توګه دا یوه قطعه غوره ګڼم ـ

چــرتـــه چـــې مـــا پـــه غـــرېـــدلـــو بـــه لـــیـــدلـــې کـــلـــۍ
اوس پــــه هـــغـــې خـــاوره ورېــــږي د اورونــــو ګـــلـــۍ
ځـــئ چـــې دا ښـــــار کـــړو خـــپـــل پـــخـــپـــلـــه ودان
تـــر څـــو بـــه داســـــې مـــو نـــړېـــږي د کـــورونـــو بـــلـــۍ [87]

هم داسې چې کله د خپل ملکیت د اختیار په حواله خبره راشي ـــ نو پښتانه بیا لیوني وي ـ ځکه چې پښتون غلا کوي ـ خو د چا نه څه نه غواړي ـ خو خپل ملکیت یا جائیداد په یو حال کښې هم چاته نه پرېږدي ـــ په یوه بله قطعه کښې محمد الیاس د ځلمو جزبو ته څه داسې اپېل کوي ـ

پـــه وطـــن جـــنـــګ دے شـــا زلـــمـــو وېښ شـــئ
وېښ شـــــئ مـــلـــګـــرو پښـــتـــنـــو وېښ شـــئ

ketabton.com - The Digital Library

تـاســـو نـه اخـلـئ اخـتـيـار د خـپـلـې خـاوري
تـاسـو تـه وايـم لـښـونـو وښ شـئ [88]

په اخلاقي لحاظ سره هم انقلابي افکار د خلقو روزنه کوي ۔او په عصري ډول يې هم پرمختګ ته مخه کوي ۔په هغې کښې د ټولو نه وړاندې تعليم دے ۔کومو قومونو چې کتاب خپل کړے ۔هغوئ پرمختګ ،خوشحالي،او عزت خپل کړے ۔پښتانه خو د پخوا نه هم د ډېرو وجوهاتو له کبله ناخوانده دي او په اوس وخت کښې هم د نورو قومونو نه بلها وروستو دي ۔کله محمد الياس الياس په مونږه پښتنو سوال راپورته کوي ۔او زمونږ کتاب پله مخ اړوي ۔

دا پـه يـويشـتـمـه صـدۍ مـونـږه چـرتـه ودرېـدو
د چـا سـره قـلـم دے د کـتـاب خـبـره چـا وکـړه [89]

په اخر کښې محمد الياس الياس يو غزل نما نظم پښتون ته "د ښلګې په توګه پېش کوم چې د انقلابي ادب اعلي نمونه ده ۔

قـربـانـي ورکـړه دي د تـن پښـتـونـه
جـوړ کـړه رنـګـيـن دا خـپـل وطـن پښـتـونـه

کـه د اغـيـارو پـه اسـره پـاتـي شـوې
داغ بـه دې لـږي پـه لـمـن پښـتـونـه

ketabton.com - The Digital Library

پاخه په خپل قام باندې ننګ وکړه
اوتړه سر باندې کفن پښتونه

ستا د مېړانې او غېرت نه لوګې
زما سلګۍ څنکدن پښتونه

توره د خدائے لقب دې بیا وګټه
اے د خالد نمسي تورزن پښتونه

قسم په خدائے نور دې لیدے نه شم
په سترګو سرو باندې ویرژن پښتونه

ستا په ناموس څان تویول غواړې
د الیاس وینه د بدن پښتونه [90]

ketabton.com - The Digital Library

# حوالې

[1] محمد الیاس الیاس ،شور مې د قلم په ژبه راوله ،۲۰۰۸،المظفر پریس بټ خېله ،مځ ۷۴
[2] هم دغهٔ مخ ،**۲۹**
[3] محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ ۳۰
[4] محمد الیاس الیاس ،د رڼاګانو رنګونه،۲۰۲۲،اعراف پرنټرز محله جنګې پېښور،مخ ۵۱
[5] محمد الیاس الیاس ،فکر مې سندره شوه ،۲۰۲۳،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ ۳
[6] محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ **۳۲**
[7] شائق ساجد محمد ،څرګندہ خزانه،۲۰۱۹،پښتو ادبي ټولنه تحصیل تخت بهائي ضلع مردان ،مخ ۱۴۶
[8] محمد الیاس الیاس ،فکر مې سندره شوه ،۲۰۲۳،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ **۳۲**
[9] محمد الیاس الیاس ،شور مې د قلم په ژبه راوله ،۲۰۰۸،المظفر پریس بټ خېله ،مخ **۸۴**
[10] هم دغهٔ مخ ۸۹
[11] محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ **۸۷**
[12] محمد الیاس ،د رڼاګانو رنګونه،۲۰۲۲،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ **۲۷**
[13] هم دغهٔ مخ **۵۷**
[14] هم دغهٔ مخ **۴۴**
[15] هم دغهٔ مخ **۱۹**
[16] هم دغهٔ مخ **۱۴**
[17] هم دغهٔ مخ **۱۸**
[18] هم دغهٔ مخ **۸۸**
[19] هم دغهٔ مخ **۸۴**
[20] القران
[21] محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ **۸۵**
[22] هم دغهٔ مخ **۸۵**
[23] محمد الیاس الیاس ،د رڼاګانو رنګونه،۲۰۲۲،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ **۸۱**
[24] محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ **۸۵**
[25] هم دغهٔ مخ **۸۹**
[26] محمد الیاس الیاس ،فکر مې سندره شوه ،۲۰۲۳،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ **۸۰**
[27] هم دغهٔ مخ **۸۲**
[28] محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ،مخ **۴۹**
[29] هم دغهٔ مخ **۸۳**
[30] هم دغهٔ مخ **۷۲**
[31] هم دغهٔ مخ **۵۵**

ketabton.com - The Digital Library

---

32 هم دغهٔ مخ **۹۲**

33 هم دغهٔ مخ **۴۲**

34 هم دغهٔ مخ **۲۵**

35 هم دغهٔ مخ **۵۰**

36 محمد الیاس الیاس ،د رڼاګانو رنګونه، ۲۰۲۲، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مخ **۴۷**

37 هم دغهٔ مخ **۵۲**

38 هم دغهٔ مخ **۴۷**

39 پروفېسر فضل مېر خټک ،فضلیات، ۲۰۲۱، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مخ ،۲۹۷، ۲۹۶

40 محمد الیاس الیاس ،فکر مې سندره شوه ،۲۰۲۳، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مخ ۷۶

41 هم دغهٔ مخ **۴۱**

42 هم دغهٔ مخ **۲۰**

43 محمد الیاس الیاس ،شور مې د قلم په ژبه راوله ،۲۰۰۸، المظفر پریس بټ خېله ،مخ **۲۸**

44 هم دغهٔ مخ **۳۲**

45 خټک پروفېسر فضل مېر ،فضلیات، ۲۰۲۱، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ **۳۸۹**

46 محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم، ۲۰۲۴، ګران خپرندویه ټولنه ،مخ **۱۰۲**

47 محمد الیاس الیاس ،شور مې د قلم په ژبه راوله ،۲۰۰۸، المظفر پریس بټ خېله ،مخ **۷۵**

48 محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم، ۲۰۲۴، ګران خپرندویه ټولنه ،مخ **۲۳**

49 محمد الیاس الیاس ،فکر مې سندره شوه ،۲۰۲۳، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مخ **۱۰۸، ۱۰۷**

50 محمد الیاس الیاس ،شور مې د قلم په ژبه راوله ،۲۰۰۸، المظفر پریس بټ خېله ،مخ ۳۴

51 القران ،پاره ۳، رکوع۴، ایت ۷۵۷

52 القران ،پاره ۱۷، رکوع۴، ایت ۲۹

53 محمد الیاس الیاس ،شور مې د قلم په ژبه راوله ،۲۰۰۸، المظفر پریس بټ خېله ، مخ **۴۰**

54 محمد الیاس الیاس ،د رڼاګانو رنګونه، ۲۰۲۲، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مخ **۹۹**

55 هم دغهٔ مخ **۲۴**

56 هم دغهٔ مخ **۳۸**

57 هم دغهٔ مخ **۳۸**

58 هم دغهٔ مخ **۳۸**

59 هم دغهٔ مخ **۴۴**

60 هم دغهٔ مخ **۲۱**

61 هم دغهٔ مخ **۱۲۵**

62 هم دغهٔ مخ **۱۲۵**

63 محمد الیاس الیاس ،فکر مې سندره شوه ،۲۰۲۳، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مخ **۱۸**

64 محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم، ۲۰۲۴، ګران خپرندویه ټولنه ، مخ **۴۴**

65 ډاکټر جهان عالم ،باچا خان، پښتو ادب په یو نظر کښې ـ، ۲۰۲۱، ګران خپرندویه ټولنه سوات، مخ ۱۱۵

ketabton.com - The Digital Library

---

[66] هم دغهٔ مخ ۸۰

[67] هم دغهٔ مخ ۸۰

[68] ا محمد الیاس الیاس ،د رڼاګانو رنګونه،۲۰۲۲،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ ۲۲

[69] هم دغهٔ مخ ۷۹

[70] پروفیسر فضل مېر خټک ،فضلیات، ۲۰۲۱،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۲۱۵

[71] محمد الیاس الیاس ،د رڼاګانو رنګونه، ۲۰۲۲،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ ،۷۴

[72] هم دغهٔ مخ ۸۰

[73] یوسفزے اباسین،پښتون حمزه۔مخ ۶۰، ۵۹

[74] محمد الیاس الیاس ،د رڼاګانو رنګونه، ۲۰۲۲،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ ۸۸

[75] هم دغهٔ مخ ۱۲۲

[76] هم دغهٔ مخ ۲۵

[77] هم دغهٔ مخ ۵۵

[78] هم دغهٔ مخ ۹۲

[79] محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم،۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ، مخ ۹۹

[80] محمد الیاس الیاس ،د رڼاګانو رنګونه، ۲۰۲۲،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ ۹۸

[81] محمد الیاس الیاس ،دېوالونو ته لګیا یم، ۲۰۲۴،ګران خپرندویه ټولنه ، مخ۶۱

[82] هم دغهٔ مخ ۵۴

[83] هم دغهٔ مخ ۷۴

[84] پروفیسر فضل مېر خټک ،فضلیات، ۲۰۲۱،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ،مخ ۳۴

[85] محمد الیاس الیاس ،د رڼاګانو رنګونه، ۲۰۲۲،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ ۹۲

[86] هم دغهٔ مخ ۲۰

[87] هم دغهٔ مخ ۴۳

[88] هم دغهٔ مخ۱۳۱

[89] هم دغهٔ مخ ۱۸

[90] محمد الیاس الیاس ،شور مې د قلم په ژبه راوله ،۲۰۰۸،المظفر پریس بټ خېله ، مخ ۱۰۹

ketabton.com - The Digital Library

محاکمه

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*